شهامت

امریکا دې د سولې لپاره !
خپل مشکوک او متضاد کردار پای ته ورسوي...

دولسم کال، څلورمه، پرلپسې۷۲مه گڼه، ربیع الثاني ۱۴۴۰هق، دیسمبر ۲۰۱۸م

میلادي کال
د 2018 جهادي وضعیت ته کتنه

- » وروستیو پېښو ته یو ځغلنده نظر
- » دابوظبي غونډه به د افغانستان پر پوځي وضعیت څه اغېز ولري؟
- » هغوی ته چې د امریکا لپاره خپلې وینې تویوي!!
- » جنسي ځورونې ! دچا سوغات دی؟

دلومړي نړیوال جنګ نه پېړۍ پس
» نړۍ پر کوم لور؟

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دولسم کال، دربمه، پرلپسې ۷۱مه گڼه، صفر المظفر ۱۴۳۹هق،اکتوبر۲۰۱۸م

لـــړليـــك

گڼه	عـــنـــوان	مخ
۱	سرليکنه..	۱
۲	له مذاکراتي بهير سره د امريکايي جناياتو تشديد........................	۳
۳	د ۲۰۱۸ ميلادي کال کې جهادي وضعيت ته کتنه............................	۵
٤	ماجرای شهيد وحيد الله خان..	۷
٥	سيمې ته دخليلزاد دريم سفر..	۱۰
٦	د ابوظبي غونډه به د افغانستان پرپوځي وضعيت څه اغيز وکړي؟	۱۱
۷	هغوی ته چې دامريکا لپاره خپلې وينې تويوي!.............................	۱۲
۸	د لومړي نړيوال جنګ نه پېړۍ پس نړۍ پر کوم لور؟........................	۱۵
۹	د اتل غازي شهيد قاري خير الله منيب مورچل تقبله الله ژوند پانه........	۲۰
۱۰	جنسي خورونې د چا سوغات دی؟..	۲۵
۱۱	د زمانې امام ابوحنيفه؛ مولانا رشيد احمد ګنګوهي – رحمه الله-	۲۷
۱۲	وقتی که حکومت به قاتل مردم خود تبديل ميشود..........................	۳۱
۱۳	طالبان ولې افغان حکومت سره خبرې نه کوي؟	۳۳
۱٤	ګنبدلې خوله!..	۳۵
۱۵	ګلورينې پاڼې	۳۴
۱۵	د اسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار................................	۳٦
۱٦	وروستيو پېښو ته يو ځغلنده نظر!......................................	۴۳
۱۷	همت او بې همتي څه شی دي؟	۴٦
۱۸	زه دې په ايمان کې شک لرم، ته راته مريدان نيسي!!........................	۴۷
۱۹	دکونړ فاجعه او د باشعوره مسلمان مسئوليت.............................	۵۰
۲۰	د امام مالک رحمه الله ژوند ته ځغلنده کتنه..............................	۵۲
۲۱	بې اساسه دعوې او جعلي خبرونه......................................	۵٦
۲۲	په کمه موده کې د عظيم الشان قرآن حفظ کوونکي	۵۷
۲۳	د سولې هلو ځلو سره يوځای پر ولس امريکايي وحشت ولې تيز شوی؟	۵۹
۲۴	د فرعونيت په نوي ورژن کې...	٦۳
۲۵	غامديت د اوسني عصر لويه فتنه.......................................	٦۴
۲٦	د نبوي سنتو په رڼا کې پرخاوند دښځې حقوق وپېژنئ!....................	٦۹

دامتياز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

لطيف عزم
حسن " علوي" بلال "وحيد"
نعيم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبيب

بيــــه :

يوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

يــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان بريښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

امریکا دې د سولې لپاره !

خپل مشکوک او متضاد کردار پای ته ورسوي...

دمتحده عربي اماراتو په پلازمینه ابوظهبي کې دافغانستان اسلامي امارت دسیاسي استازو او ز لمي خلیل زادپه مشرۍ دامریکا ئي لوري سره دروان کال (۲۰۱۸ز) په اوولسمه او اتلسمه نیټه مخامخ مذاکرات ترسره شول

دافغانستان اسلامي امارت ویاندوی ښاغلي ذبیح الله مجاهد رسنیو ته په یوه لیږلې خبرپاڼه کې دیادې ناستې په اړه کوم توضیحات کښلي ویلي: په دې مسلسل ناستو کې داسلامي امارت دسیاسي استازو اودامریکائي لوري د ګډون سربیره ددرې اسلامي هیوادو (پاکستان، سعودي عربستان او عربي اماراتو) استازو هم برخه لرله، چې ترټولو زیات ترکیز له افغانستانه دخارجي ځواکونوپه وتلو راټول و او هم دغونډې برخوالوته دبهرنیو ځواکونو په بریدونو کې دولسي خلکو دتلفاتو په اړه مستند شواهد او معلومات وړاندې شول او په کلکه یې دبندیدو غوښتنه وشوه، هم داراز په زندانوکې بندیانو سره دانساني چلند او دهغوی دخلاصون غوښتنه هم مطرح شوه

دښاغلي مجاهد په قول: د اوربند، کابل اداري سره دمذاکراتو،مؤقت حکومت،انتخاباتو اونورو کورنیومسائلوپه برخه کې وارله مخه د اسلامي امارت دا دریځ څرګند و ،چې په اړه یې خبرې نکوي! ځکه دټولوستونزولامل اودسولې په وړاندې قوي خنډ دافغانستان اشغال دی ترهرڅه دمخه باید پای ته ورسي...

داچې امریکا له اوولس کاله پرلپسې خونړیو جنګونو ، ظلمونو ،وحشتونو اوسونه ملیارده ډالرو مصرفولو وروسته داسلامي امارت دمجاهدینو اوغیور افغان ولس پر وړاندې دپام وړ بریا ترلاسه نکړای شوه او مجبوراً دخبرو او مذاکراتو میزته کیناسته له سیاسي او تبلیغاتي پلوه داسلامي امارت دموقف لپاره تاریخي ستره بریا او بې ساري لاسته راوړنه ده...

هوادشک پرته یاده ناسته داسلامي امارت دمشروع حقو قو دترلاسه کولولپاره دسیاسي جګړې دیونازک اوخورا حساس پړاو پیل او په لویه کې د طالبانو اومجاهدینو دتاریخي جهاداوبیدریغه قربانیو محصول دی، چې پخپلو تندریزو بریدونو او لازوال قربانیو ورکولویې دامریکا په څېر دمغرور او کبرجن نړیوال ځواک پرمختللې هسته ولړزوله ...

کنه امریکا خوافغانستان ته دطالبانو او مجادینو دتخم او ربښو ورکولو پسې را غلې وه، دایې پخپل خیال وفکر کې هم نه راوسته چې یو وخت به تش لاس طالبانو سره د خبرومیزته کیني، دخبري سرچینو په وینا؛ داسلامي امارت استازو دابوظهبی غونډه کې په ښه عالي روحیه اود جګړې دبریا په احساس برخه واخیسته او ترپایه قانع نشول چې دکابل رژیم هیئت سره یا ووینې او یا په غونډه کې یې دګډون سره توافق وکړي

ممکن داپوښتنه دډیرو دوستانوسره به وي چې ولې اسلامي امارت دامریکایانو سره مخامخ خبرو اومذاکراتو ته زړه ښه کوي او هغوی سره کیني خو دکابل رژیم استازو سره دلیدلو نه په انکار سربیره په مذاکراتي غونډو کې دهغوی ګډون هم نه زغمي؟ دسیاسي چارو کتونکو په اند: دا په دې دلیل چې د افغانستان روان جنګ په لویه کې دوه لوري یا دوه اړخونه لري چې هغه دواړه دیوبل پخلاف په جنګ لګیادي ،یو لوری دامریکا په مشری نړیوال ځواکونه اودهغوی افغان معاش خواره اجیران دي کوم چې یرغلګر جهت بلل کېږي اوبل مقابل لوری اسلامي امارت دی کوم ته چې دفاعي جهت ویل کېږي نو اصلاً په روانه جګړه کې دوه عمده فریقه ښکېل دي، دریم فریق نلري ، کابل رژیم دامریکائي لوري جز او برخه دی اوکوم جلا خپلواک حیثیت نلري، افغان ولس او نړۍ دواړه په دې پوهیږي چې کابل رژیم دامریکا یانو دیرغل محصول اودهغوی دمـــــتو په ځواک رامنځته شوی، په دې توګه په اشغال شوي افغانستان کې د واک اصلي مرجع دامریکا سفارت او دنړیوالو ځوکونو قومنداني ده، نه ارګ! په دې بناء اسلامي امارت داپتیلې چې د جګړې داصلی فریق سره چې امریکا ده خبرې وکړي ځود سیاسي بحث او مکالمې له لارې هغه دیته اړباسي چې سملاسي دافغانستان اشغال پای ته ورسوي.

بل پلو داهم واقعیت دی چې دسیاسي بحث اومذاکراتو دلارې روانه جګړه پای ته رسول به شاید دومره اسانه هم نه وي څومره چې یې تمه کېږي، په دې وجه دبېړنیو پریکړو اوعاجلانه ګامونو پورته کولو پرځای زیات وخت او دقت ته اړتیا ده، ولې دسولې په اړه ترډیره دامریکا کردار لا هم مشکوک او متضاد بریښي که یو لورته زلمی خلیل زاد له څو میاشتو راهیسې دوامدار دسولې لپاره دامارت دسیاسي دفتر استازو سره په لیدنو او بحثونو بوخت دی اودسولې په نوم مختلفو هیوادونوته سفرونه کوي بل پلو هم زمان جګړه تشدیدوي، په ړندوبمباردونو اوعملیاتوکې زیاتوالی راولي ،هره ورځ لسګونه معصوم هیوادوال په شهادت رسوي ،د ناټو له سرمنشي نیولي دامریکا درستیزانو کمیټې ترمشر(جنرال ډانفور) پورې له افغانستانه دامریکا او ناټو ځواکونو د نه ویستلو او داشغال دغځولو ګواښونه شیندي او وایي چې سوله ددوی لومړیتوب نده او په افغانستان کې دامریکا یې عسکرو شتون دامریکایانو دخوندي کولو لپاره ضروري بولي،

لنډه داچې په داسې متضاد چاپیریال کې به افغان ولس دامریکا دسولې په نیت او اراده څنګه باوروکړي؟ چې امریکا دزړه نه سولې کولو ته لیواله او تیاره ده؟ بناءً که امریکا رښتیا هم سوله غواړي نو دغه متضاد او مشکوک حالت دي پای ته ورسوي اودړندو بمباردونو د لارې په افغان ولس دفشارونو زیاتولو څخه دي ډډه وکړي اونوردچل وفریب پر ځای دي دحقایقو او واقعیتونو په سهي توګه درکولو سره دسولې او مذکراتو لپاره دباور فضاء رامنځته کولو پخاطر دخپلو پاتې عسکرو دسملاسي انخلاء بهیر پیل کړي ....

له مذاکراتي بهیر سره

شاهد (غزنیوال)

د امریکایي جنایاتو تشدید

لــه کلــه چــې د امریکایــانو او طالبــانو تــرمنځ مذاکراتي بهیر پیل شوی ور سره جوخت د هیواد په کلیوالــو ســیمو بانــدې امریکــایي وحشــت هــم زور اخیستی او هره ورځ لیدل کیږي چې د هیواد په بیلابیلــو ســیمو کــې پــه لســګونو ولــسي خلــګ د امریکایــانو پــه ړندو بمبــاریو، شــپینو حملــو او نــورو بریدونو کې وژل کیږي.

د امریکایــانو د دغــه وحشــت ترکیــز تــر ډیــره د ننګرهــار، خوســت ، پکتیــا ، پکتیکــا ، لــوګر، میــدان وردګ ، غــزني ، قنــدوز ، هلمنــد، فــراه او اروزګــان پــر ولایتونو باندې دی.

که څه هم چې په یادو ولایتونو کې د امریکایي یرغلګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو وحشت ډیر زیات دی ، مګر د هغه با وجود په یادو سیمو کې مجاهدین په خــورا عــالي مــورال خپــل پــوځي فعالیتونــه تــر سره کــوي او د دښــمن وحشــت یــې په ورځنیــو چــارو کــوم منفي اغیز نه دی کړی ؛ بلکې له دې وحشت څخه تر ټولو زیات متضررین ولسي خلګ دي ، کوم چې یوه بیلګه یې د هلمند د سنګین ولسوالی هغه برید دی چې په یوه بم یې د یوې کورنۍ ۳۱ غړي چې ډیری یې تور سرې او ماشومان وو شهیدان کړل .

ولې د امریکایي جنایاتو تشدید ؟

سره له دې چې افغان ولس له امریکایي یرغلګرو سره د مذاکراتي بهیر په مهال د هغوی د وحشت او جنایاتونو د کموالي توقع لرله ، خو د هغوی د توقع برخلاف دا وحشت کم نه ، بلکې تر پخوا لا زیات شو.

امریکایــان غــواړي د دغــه تشــدد لــه لارې خپــل ځــان پــه پــوځی لحــاظ بریــالی وښــیي خــو دا د دوی بریــالیتوب نــه بلکــې هغــه حماقــت دی چــې پــه تیــرو اوولسو کلونو کې د افغان ولس پــه خــلاف کــاروني خــو له تاوانه ماسیوا یې ورته هیڅ ګټه نه ده کړې.

له طالبانو سره مخامخ خبري چې د طالبانو د پوځي بريا محصول دی په پوځي پرخه کې د امريکايانو د ښکاره شکست ښکارندويي کوي.

خو اوس امريکايانو ته په کار و چې نور يې له دغه شکست څخه په عبرت اخيستو سره د زور او تهديد لاره پرې ايښې او په صادقانه ډول يې د مذاکراتو له لارې ځانته د سرېښو له ډنډ څخه د وتلو لاره پيدا کړې وای.

مګرهغوی د ناسمې لارې په تعقيبولو سره حتی د مذاکراتي بهير په ترڅ کې هم د زور او تهديد په کارولو سره غواړي ځان بريالی وښيي ؛ څکه يې د مذاکراتي بهير له پيل سره هم مهاله پوځي وحشت تر دومره کچې زيات شوی چې خپله د دوي په اعتراف سره يې په تيرو ۱۰ مياشتو کې تر ٦ زره زيات بمونه د افغانستان په کليوالو سيمو غورځولي چې له امله يې په زرګونو بيوزله ولسي خلک شهيدان او ژوبل شوي دي.

امريکايي جنرالان د نړۍ د احمقو جنرالانو په توګه هغه څوک دي چې له تجربو څخه د زده کړې هيڅ ډول مهارت نه لري ، هغوی وينې چې په تيرو اوولسو کلوو کې يې هيڅ داسې وسله او وسيله نه ده پرې ايښې چې په افغانستان کې يې د جهادي مقاومت د کمزوري کولو او له منځه وړلو لپاره نه وي کارولې.

د ګوانتنامو او بګرام په څير وحشي زندانونه يې په افغانانو ډک کړل ، د هيواد په داخل کې يې د بمونو له بموره نيولې تر بل هرډول بيلوژيکي هغو وسلو پورې چې کارول يې قانونا منع دي د افغانستان په لويشت ، لويشت کې وکارولې ، په تبليغاتي لحاظ يې د خپل نامشروع اشغال لپاره ټول تبليغاتي وسائل استخدام کړل او ...

خو نتيجه يې دا شوه چې افغان ولس او د هغوی مشروع مقاومت يې په مقابل کې دومره قوي شو چې هم يې په ډيپلوماتيک لحاظ دوی د مذاکراتو ميز ته مجبور کړل، او هم يې د مقاومت د حمايت لپاره سيمه ييزه اجماع د ځان کړه .

چې دا په پوځي او ډيپلوماتيک لحاظ د امريکايانو د څرګند شکست او د جهاد او مجاهدينو د ښکاره بريا استازولي کوي.

د ۲۰۱۸ میلادي کال کې

جهادي وضعیت ته کتنه

زخمي افغان

په افغانستان د امریکايي یرغل اوولسم کال هم پای ته ورسید. ۲۰۱۸ میلادي کال د امریکا ضد روان جهاد کې ځکه مهم و، چې له بوش او اوباما وروسته د امریکا یوه بل ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دې کال کې د افغانستان لپاره خپله ستراتیژي د جګړې په ډګر کې تجربه کړه.

ټرمپ د افغانستان لپاره خپله جنګي ستراتیژي د ۲۰۱۷ کال په اګست میاشت کې اعلان کړې وه، خو د دې ستراتیژۍ د تعمیل او تطبیق لپاره ۲۰۱۸ م کال په پام کې نیول شوی و. په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د هغه مهال عمومي قومندان جنرال جان نیکولسن چې د ټرمپ د ستراتیژۍ د تعمیل دنده یې په غاړه درلوده، د نوې جنګي ستراتیژۍ په اړه یې خورا له کبره ډکې خبرې کولې. د همدې ستراتیژۍ په رڼا کې ۲۰۱۸ م کال له سختو بمبارونو او امریکايي وحشتونو سره پیل شو. راډیوګانو او غربي رسنیو د رواني جنګ محاذ ګرم ساتلی و. خو الله تعالی مجاهدینو ته توفیق ورکړ چې د پخوانیو ستراتیژیو او آزمونونو په شان د دې نوي آزمون په وړاندې هم په میړانه ودریږي.

د ټرمپ د ستراتیژۍ له مخې د افغانستان کلي او اطراف بمبار شول، کورونه ړنګ او ولسي خلک شهیدان شول، چاپې او فاجعې زیاتې شوې، خو یرغلګر ونه توانیدل چې د بریا مخ ووینې او یا هم د مؤمن اولس جهادي عزم مات کړي. تر دې چې د څو میاشتو په وتلو سره په امریکايي ستراتیژۍ کې د شکست نښې را ښکاره شوې، د مغرور جنرال نیکولسن کبرجنې خبرې د سولې په زاریو بدلې شوې او په نهایت کې نه یوازې دغه ستراتیژي له ماتې سره مخ شو بلکې اصلي متصدي یې جان نیکولسن هم په ځوړند سر ناکام له افغانستانه ووت.

د ولسوالیو او پوځي مراکزو مسلسل فتوحات

تېر کال د دښمن د پوستو، قرارګاوو او پوځي مراکزو د فتحو له اړخه هم بې ساری و، مجاهدین چې د پخوا په نسبت له کمي او کیفي اړخه په ښه حالت کې دي، په ښو وسلو سمبال، جنګ آزموده او په ټولو جنګي تکتیکونو پوهیږي په تیر کال کې یې د ځانګړي عملیاتو په توسط وکړای شول چې د هیوادپه بیلابیلو سیمو کې د دښمن د پوستو په سقوط او د قرارګاوو په فتحه کولو سره د کوډاګي رژیم د واک تغر ورټول کړي.

که له یوې خوا مجاهدینو د ځانګړو عملیاتو او پیچلو تهاجمي حملو په توسط د دښمن مراکز تر کنترول لاندې راوستل بل اړخ ته په ډیرو سیمو کې ددښمن عسکر د حقائقو په درک کولو سره خپله دې پایلې ته رسیدل چې د جګړې او مقابلې په ځای د

تسلیمی لاره ونیسي. په دې ډول ګڼ شمیر سلامت کنډکونه او قرارګاوې بیابیا تسلیم او عسکر یې له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول.

د یوې تقریبي احصائیې له مخې د تیر کال په هره میاشت کې تر ۷۰ زیاتې پوستې د مجاهدینو لخوا نیول شوي دي. دغه راز لسګونه قرارګاوې او مراکز هم مجاهدینو نیولې اویا یې هم تسلیم شوي دي.

د پوستو او قرارګاوو په فتحو سربیره مجاهدینو د ولسوالیو ګڼ مراکز او حتی ولایتي مراکز هم تر لنډمهالي واک لاندې راوستي. په تېر کال کې د اسلامي امارت د غزني او فراه ولایت د مرکزي ښارونو په نیولو سربیره د هیواد په بیلابیلو ولایاتو کې د ۲۹ ولسوالیو مراکز هم فتحه کړي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی.

د فراه ولایت پرچمن، اناردره او شیب کوه ولسوالي، دغزني خواجه عمري، جغتو، دهیک، آب بند، مالستان او د اندړو ولسوالي،د کندز قلعه زال،د بدخشان کوهستان ، د بغلان تاله وبرفک، د فاریاب بلچراغ او لولاش، د بادغیس دره بم، د روزګان، چنارتو او د چورې ولسوالی مرکز، دتخار دشت قلعه او خواجه غار، د زابل اتغر، د پکتیا لجه منګل او جاني خیل، د دایکندي اجرستان، د بلخ چاهي ولسوالي، د وردګو جلګه او سیداباد ولسوالي، د جوزجان خماب، د سرپل بلخاب او د پکتیکا خوشامند ولسوالي. له دې علاوه مجاهدینو په غزني کې د جغتو، خواجه عمري او خوګیانو ولسوالی نقلي مراکز هم فتحه کړي دي.

د اشغالګرو او ګوډاګیانو تلفات

تېر کال د پخوا هر کله په نسبت اشغالګرو ته ددرنو تلفاتو درلودونکی کال و، چې حتی دې موضوع په نړیوالو مطبوعاتو کې هم انعکاس وموند. د امریکا د مرستیو د څار سازمان سیګار او حتی د ګوډاګي حکومت چارواکو هم ومنله چې د ۲۰۱۸ م کال په جریان کې د اجیرو ځواکونو مرګ ژوبله د پخوا هر کله په نسبت زیاته شوې ده.

په تېر ۲۰۱۸ م کال کې د لسګونه استشهادي حملو په شمول په دښمن له ۱۲ زره زیات جهادي بریدونه ترسره شوي دي. چې په پایله کې یې له ۲۰ زره زیات داخلي او خارجي دښمنان وژل شوي او همدومره نور ټپیان شوي دي. په جهادي بریدونو کې د دښمن له درې نیم زره زیات پوځي وسایط، ټانګونه، رینجر او موټر له منځه تللي، دغه راز د دښمن ۱۷ چورلکې او لس بې پیلوټه الوتکې رانسکورې شوي دي.

د دښمن د پوځي مشرۍ ځپل کیدل

په تېر کال کې د دښمن پوځي مشري هم سخته وځپل شوه او ګڼ شمیر مهم نظامي مشران او وتلي جګړه ماران یې مړه یا ټپیان شول. له دې جملې د پکتیکا لوی جګړه مار عزیز الله کاروان، د هلمند د جګړې عمومي قومندان جنرال عبدالجبار قهرمان، د کندهار امنیه قومندان جنرال رازق، دکندهار د چټک غبرګون د قطعې قومندان جانان ماما، د فراه د ولایتي شورامشر فرید بختور، د۲۰۷ ظفر قول اردو مرستیال جنرال نعمت الله خلیل، دکندهار د ملي امنیت رئیس جنرال مؤمن حسین خیل او ګڼو مهمو جنګي مشرانو وژل کیدل، همدا راز د کندهار د والي زلمي ویسا او په روزګان کې د ملیشه قومندان حکیم شجاعي ټپي کیدل هغه جهادي لاسته راوړنې وې چې د دښمن پوځي رهبري یې سخته وځپله.

په ټوله کې ۲۰۱۸ میلادي کال د فتحو بریاوو او پرمختګونو کال و، چې له امله یې د هیواد په نږدې ټولو ولایاتو کې د اسلامي امارت سلطه نوره هم پراخه او خارجي او داخلي غلیمان په کې سخت وځپل شول.

ماجرای شهید وحیدالله خان

حبیب سمنگانی

از افتخـار آفرینـی تـا واقعیـت بینـی حبیبـی سمنگانی سوال عمده ای که بر ضد جهاد و مبارزه، امروزی افغان ها در اذهان بسیاری ها جا داده شده، اینست که طالبان چرا بجای عساکر داخلی نیروهای خارجی را هدف قرار نمی دهند. این ایراد به اشکال و عناوین مختلف مطرح می شود. پاسخ طالبان و یا حامیان جهاد کنونی کامال روشن است، به همگان هویدا است که نیروهای اداره ٔ کابل به حیث پاسداران و محافظان نیروهای خارجی، هرگز اجازه نمی دهند که مجاهدی حتی به چند صد متر ی آقایان شان برسد، نظامیان رژیم برای محافظت ً اربابان امریکایی و غربی شان حتی جان های خود را سپر کرده اند و می کنند .

بناء راه بدیل برای مجاهدین اینست که اوال محافظان)و سپس ا گر زنده ماندند و رسیده توانستند(خود اشغالگران را هدف قرار بدهند .پیش ازین که به تفصیل این موضوع بپردازیم، نخست می آییم به ماجرای که حدود یک و نیم ماه پیش در هرات رخ داد. وحیدالله خان،کماندو ی ۱۹ ساله، افغان به تار ی خ ۲۲ اکتوبر ۲۱۹۲م گروهی از عساکر جمهوری چک را در پایگاه نظامی شیندند (هرات(آماج تیر باران قرار داد. در نتیجه، یک عسکر چکی »تورن توماش پروخاز »که در چوکات مامور یت ناتو وظیفه انجام می داد کشته و دو عسکر دیگر چکی زخمی شدند . وحیدالله خان از سوی نیروهای ویژهٔ افغان)کماندوها(دستگیر و به نیروهای امریکایی تسلیم داده شد، سپس امریکایی ها او را به نیروهای چکی تحویل دادند، وحیدالله خان نیمه، شب دوباره به نیروهای افغان بازگردانده شد. اما بر اثر لت و کوب بسیار، نیم جان و بی هوش بود و اندکی پس ترجان باخت. سید رحمان، پدر وحیدالله می گوید که در اثنای غسل دادن، نشانه ای از زخم مرمی را بر بدن او نیافتیم، اما بدنش پر از آثار لت وکوب بود .دگروال دیف بالتر، سخنگوی نیروهای ناتو در افغانستان، در اعال میه ای گفته است که نیروهای نظامی امر یکا تحقیق میکنند تا مشخص سازند که آیا بد رفتار ی صورت گرفته است یا نه. در اعالمیه آمده استکه نظامیان امریکایی بر ای بررسی هر گونه سوء رفتار احتمالی تحقیق خواهند کرد.

اما از سوی دیگر یک مقام امریکایی تائید می کند که یک دسته ای از هفتمین گروه نیروهای ویژهٔ امریکایی (۷)Special Forces Groupکه در تسلیمی وحیدالله خان به نیروهای چکی th کمک کرده بود ، به امریکا خواسته شده است .خانوادهٔ وحیدالله خان تصاویر پیکر مرده، او را در اختیار روزنامه، نیویارک تایمز گذاشته بود، نیویارک تایمز توسط جیمز گل، بازرس ارشد پزشکی ایالت کنتیکت (امریکا(دریافته است که آثار لت و کوب در سر و چهرهٔ وحیدالله خان دیده می شود .این اولین واقعه ای نبود که یک سرباز با احساس افغان، نظامیان خارجی را تیر باران کرده

باشد، و نه هم نخستین حادثه ای بود که آن سرباز غازی افغان، در فیرهای متقابل همتایان افغان)اما وفادار به نیروهای اشغالگر(کشته و یا هم زنده دستگیر شده باشد .حملهء سربازان افغان بر نیروهای خارجی، حملهء خودی و نیز حملهء »سبز بر آبی« خوانده می شود. اینگونه حمالت اگرچه در سال ۲۱۱۲م آغاز شد و دو حمله در آن سال رخ داد ، اما با ۴۴ حمالت و ۱۹ کشته و ۳۹ زخمی در سال ۲۱۹۲م به اوج خود رسید. ۹۱ در صد تلفات نیروهای خارجی در افغانستان در سال ۲۱۹۲م بر اثر »حمالت سبز ها بر آبی ها« بود.

۹۱ حمله تنها در ماه اگست آن سال رخ داد .تورن جنرال هارولد گرین، ارشد ترین مقام نظامی امریکا در طی چهل سال گذشته بود که پس از جنگ ویتنام در عرصهء جنگ کشته شد، او به تاری خ ۱۱ گست ۲۱۹۴م بر اثر حملهء یک سرباز افغان در کابل جان باخت.

این جنرال دو ستاره، امریکایی معاون قوماندان ارشد در مامور یت مشترک انتقال امنیت به نیروهای رژیم کابل بود. قابل ذکر است که در این حمله به شمول یک جنرال آلمانی و دو جنرال افغان پانزده تن عساکر دیگر خارجی زخمی شده بودند. رفیق الله)جوان ۲۲ ساله، پکتیا(مهاجم افغانی بود که دست به این حمله زد و باالخره با شلیک های عساکر رژیم به شهادت رسید .بر بنیاد تحقیق سایت خبری »النگ وار جورنال« ۱۱ حملهء سبز بر آبی تا ماه جون ۲۱۹۲م رخ داده بود ، ۵۱ آن در والیت هلمند و قندهار صورت گرفته است)۹۱ در هلمند و ۹۱ در قندهار(، در مجموع ۹۱ والیت کشور شاهد اینگونه حمالت بودهاست. تحقیقات النگ وار جورنال نشان می دهد که دریـن حمالت ۹۱۲ عساکر خارجی کشته و ۲۱۱ تن آنان زخمی شده اند)در حالی که آمار واقعی شاید به مراتب باالتر باشد(، از لحاظ آمار تلفات نیز هلمند و قندهار در صدر جدول قرار دارند، کابل، ننگرهار و کاپیسا در مرتبهء سوم، چهارم و پنجم جا گرفته اند .

حمالت سربازان افغان بر خارجی های اشغالگر بدون شک بخشی از تار ی خ پر افتخار آزادی خواهی مردم مسلمان افغانستان است. اما تاسف آور اینست که این غازیان بیشتر از سوی هموطنان و همتایان خود از پا درآور ده شده اند. در حدو د صد حملهء »سبز ها بر آبی ها« که در طی ده سال گذشته رخ داده است، ما شاهد این واقعیت تلخ بوده ایم.گویا

اگر یک سرباز با احساس افغان تصمیمی برای کشتن نیروهای اشغالگر می گیرد، نخست باید به این قلبا و ذهنا آماده شود که)در عکس العمل(آماجگلوله باران همتایان خود قرار میگیرد .واقعیت اینست که بسیاری این مهاجمان افغان یا با طالبان در تماس بوده اند و یا هم از مبارزه، استقالل خواهی طالبان درس و الگو گرفته اند. طالبان اینگونه حمالت را حمالت نفوذی می نامند و در بیشتر موارد جزئیات و مشخصات مهاجمان را نیز پخش کرده اند. جنرال جیمز ماتیس، وز یر دفاع آمر یکا این حمالت را یکی از »سخت تر ین چالش های جنگ افغانستان« خوانده است. آگاهان نظامی به این باور اند که این حمالت اعتماد در بین نیروهای خارجی و داخلی را از بین می برد. سال گذشته، امریکا طرحی را به نام »فرشتگان نگهبان« برای مقابله با حمالت نفوذی طالبان به اجراگذاشت.گفته می شود که هدف از طرح »فرشتگان نگهبان »نظارت بر تجمعات نظامیان ناتو و افغان است و اکنون نیمی از نظامیان ناتو در جنوبکشور در قالب این برنامه فعالیت میکنند .اما حمله، نفوذی طالبان در شهر قندهار که منجر به کشته شدن فرمانده پولیس قندهار جنرال عبدالرازق و رئیس امنیت ملی آن والیت عبدالمومن حسین خیل و زخمی شدن ۲ تن دیگر به شمول والی اجیر قندهار و ۵ تن امریکایی ها شد ، موفقیت این طرح را به شدت زیر سوال برده است. قابل ذکر است که ذبیح الله ابودجانه، عامل این واقعه سرباز کندک اسشهادی طالبان بود و چند ماه پیش از حمله، پر دست آورد خود، شامل تیم محافظان والی اجیر قندهارشده بود .

در اخیر، با اقتباس از اعالمیه، کمیسیون دعوت و ارشاد امارت اسالمی که درین روزها تحت عنوان »وحدت، بیداری و مقاطعه با اشغالگران« به نشر رسانیده است به افغان های که زیر دست نیروهای اشغالگر خارجی در برابر ارزشهای دین مقدس اسالم و استقالل کشور قرار گرفته اند، توصیه می شود که هنوز هم فرصت است تا دشمنان واقعی و ازلی خود را شناسایی نموده، همگام و دوشادوش با فرزندان اصیل این کشور مسئولیت دینی و ملی خود را در برابر دشمنان دین و میهن نجات بدهید. در سطور پایانی اعالمیه آمده است :

»آنعده هموطنانی که هنوز هم در بدل معاش در خدمت اشغالگران قرار دارند و برنامه های آن ها را پیش می برند، باید بدانند و فهمانده شوند که موجودیت آنان در ز یر چتر اشغال، عامل بزرگ و اصلی ادامه، جنگ و اشغال است، اگر آنان صفوف اشغالگران را ترک بکنند، اشغالگران در ز ودتر ین فرصت جز فرار دیگر راهی نمی یابند.

بنا، ایشان یکبار دیگر تاکیدا دعوت داده می شوند که با مجاهدین امارت اسالمی تماس بگیرند، از اداره، دعوت، ارشاد، جلب و جذب کارت مصئونیت را بدست آورده، دوباره در پهلو ی برادران مسلمان خود به زندگی عادی شان بپردازند .چنانکه در سالهای گذشته، ده ها هزار نفر از اداره، کابل فاصله گرفتند، درمیان مردم خود زندگی می کنند و در فضای مطئمن زندگی آرام و خوشحال دارند. به ایشان نیز اطمینان داده می شود که امارت اسالمی ضامن جان، مال و آبرو ی شان است و به حیث یک افغان از همه حقوق زندگی آزاد و آبرومندانه برخوردار می باشند.«

سیمې ته د خلیلزاد دریم سفر

احمد مختار

د طالبانو او امریکایي چارواکو ترمنځ د مذاکراتي بهیر تر پیلیدو وروسته د افغانستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دا دریم سفر دی چې افغانستان او سیمې ته یې کوي.

که څه هم چې د افغانستان د څلویښت کلنې لانجې د هواري لپاره ډیر زیات وخت او ډیرو زیاتو هڅو ته اړتیا ده، خو ځینې ښاغلي افغانستان ته د خلیلزاد دریم سفر دومره له هیلو ډک بولي چې باور کوي هرڅه د خلیلزاد په خبره او په دې سفر باندې حل او نوموړی د افغانستان د نجات او ژغورنې یواځینی استازی دی.

خو واقعیت دا دی چې افغانستان او سیمې ته د خلیلزاد دریم سفر په داسې حال کې پیلیږي چې امریکایان په افغانستان کې د افغانانو خلاف خپل نهایي وحشت ته دوام ورکوي.

په کونړ، غزني او هلمند کې د بیوزله ولسي وګړو عام وژنه او د هغوی د شخصي شتمنیو تلف کول د ولسي افغانانو خلاف د امریکایي وحشت ژوندی بیلګې دي.

که څه هم چې خلیلزاد د اسلامي امارت له استازیو سره په خبرو کې له خپل نهایي تعاطف څخه کار اخلي او خپل ځان په افغانستان کې د سولې تحقق او جګړې خاتمې ته ژمن بولي، خو د افغانستان په اړه واقعیت هغه څه دي چې د سي، ای، اي او پنتاګون دفاعي او امنیتي چارواکي یې عملاً د خپلو پوځي ځواکونو او درون الوتکو په زریعه د افغانستان په کلیو او بانډو کې عملي کوي نه هغه څه چې خلیلزاد او د هغه دیپلوماتیک چارواکي یې د دیپلوماسي او سیاست په دهلیزونو کې اعلانوي.

سیمې ته د خلیلزاد دریم سفر یوه ورځ تر هغه وروسته پیل شو چې د امریکا د دفاع وزیر جیمس متیس وویل چې د دوی سرتیري به د سوله ییزو خبرو له دوام سره سره په افغانستان کې پاتې وي.

همدا راز د ناټو سرمنشي ینس ستولتنبرګ د یاد سازمان په وروستۍ غونډه کې چې د دسمبر په پیل کې په بروکسل کې جوړه شوې وه وویل چې له افغانستان څخه د ځواکونو را ایستل ناټو ته تر هغه په لوړه بیه تمامیږي کومه چې اوس ناټو په افغانستان کې پر خپلو سرتیرو د هغې له مخې لګښت کوي.

د دغو دواړو لوړپوړو غربي چارواکو د سولې ضد څرګندونو ترڅنګ د امریکا د لوی درستیزانو د کمیټې مشر جنرال دانفورډ هم په خپلو څرګندونو کې وایي چې افغان سوله د دوی لومړیتوب نه او په افغانستان کې میشت امریکایي سرتیري یواځې د امریکایي مصالحو د خوندیتوب لپاره هلته اوسي.

لهذا د خلیلزاد سفر ته باید د امریکایي دفاعي چارواکو د څرګندونو له منظاره وکتل شي نه یواځې د خلیلزاد له تیر ایستونکو سوله ییزو تعبیرونو څخه.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان د قضیې په اړه د امریکا اصلي نظر هغه څه وي کوم چې د امریکا د کانګریس او کانګریس مینانو پریکړه او غوښتنه وي.

اوس چې د افغانستان د سولې په اړه د امریکا دفاعي او دیپلوماتیک چارواکي مختلف او متضاد نظرونه لري، دا په حقیقت کې د یوې ستراتیژۍ په حیث د افغانستان په اړه د سپینې ماڼۍ اصلي تګلاره او تر ډیر غور او جر و بحث وروسته د افغانستان لپاره غوره شوې ده.

خو له بده مرغه چې دا داسې ستراتیژي ده چې د افغانستان د لانجې د هوارې په لاره کې هیڅ موثریت نشي لرلای.

همدا وجه ده چې د خلیلزاد له دریم سفر سره په افغانستان کې جنګي وضعیت تر بل هر وخت خپل اوج ته رسیدلی او لیدل کیږي چې امریکایي یرغلګر سولې د کاذبو شعارونو ترڅنګ د جګړې غزولو هڅه کړې او د هغې د ګړندي کولو لپاره خپل ټول امکانات په لاره اچوي

دابوظبي غونډه په دافغانستان

پر پوځي وضعیت څه اغیز ولري؟

معین احمد (معین)

په داسې حال کې چې د متحده عرب اماراتو په ابوظبي ښار کې د اسلامي امارت او امریکایي چارواکو ترمنځ د سولې په اړه خبرې رواني دي د هیواد په داخل د څرخي پله په زندان کې د زندان د امنیتي خواکونو لخوا د زندان پر اسیرانو د وسلې دزې رواني او تر اوسه ورکې د ګڼ شمیر زندانیانو د بې هوشه کیدو او ژوبلیدو خبر ورکړل شوی دی.

دا یواځې د څرخي پله زندان نه دی چې د مذاکراتي غونډې په مهال تر برید لاندې نیول کیږي ؛ بلکې د مذاکراتي سلسلې له پیلیدو سره سم امریکایي وحشت ګرو او د هغوی مزدورانو پر طالبانو باندې د فشار راوستلو په پلمه پر مظلومو افغانانو خپل وحشیانه بریدونه پیل کړي چې هره ورځ ورکې په لسګونو ولسي خلک مره او ژوبل کیږي.

اوس پوښتنه داده چې ایا د امارت او امریکایي استازو ترمنځ ورروستي غونډه به د امریکایي وحشت دغه د بریدونو په سلسله کې څه کمښت را ولي او که به نورهم تر دې اضافه شي؟

د امریکایانو وحشیانه خصلت ته په کتوسره فکر نه کیږي چې هغوی دې د وحشتونو کچه کمه کړي؛ ځکه هغوی وایي چې مونږ به د همدې وحشت په وسیله طالبان مجبور کړو چې زمونږ غوښتنې ومني.

امریکایان د نړۍ د ترټولو احمقو انسانانو په حیث دې ته نه ګوري چې که طالبان فشار ته د تسلیمیدو خلګ وای نو په تیرو اوولسوکلونو کې به د امریکایي وحشت ته تسلیم شوي وای چې د بمونو له موره نیولې تر نورو کیمیایي ممنوعه وسلوپورې یې هرڅه وربانډې وکارول ، خو طالبان د تسلیمې په ځای لا د هغوی خلاف مقاومت ته تکړه شول.

لا یې ډیر کسان د مقاومت او سربښندنې سنګرونه ته ولاړل ، او لا یې د امریکایي یرغلګرو خلاف د قربانیو او سربښندنو کچه ډیره لوړه شوه.

دا چې نن امریکایي یرغلګر مخامخ له طالبانو سره د خبرو میزته ناست دي دا هم د طالبانو جهادي مقاومت او د جهادي فعالیتونو د د بریا برکت دی.

په متحده عرب اماراتو کې د امارت او امریکایانو روانه غونډه په سیاسي او تبلیغاتي لحاظ د امارت لپاره لویه لاسته راوړنه ده ، په تیره دا چې امارت په هغې کې تر پایه پورې په خپل موقف ټینګ پاتې شو او د کابل رژیم له پلاوي سره یې هرقسم لیده کاته رد کړل.

پر خپل موقف د امارت ثابت پاتې کیدل او پرمقابل لوري خپلې غوښتنې منل په ډیپلوماتیکي او تبلیغاتي لحاظ لویه بریاده.

چې د امارت دغه بریا به خامخا پر امریکایانو منفي اغیز کوي او په مقابل کې به یې بیاهم په پوځي ساحه کې غچ له ولسي افغانانو اخلي او د هغوی په خلاف به خپلې رندې بمبارۍ او شپني بریدونه اضافه کوي.

لهذا د طالبانو مذاکراتي ټیم ته په کار دي چې د غونډې په حال کې له امریکایي جانبه وغواړي چې پر طالبانو د فشار راوستلو په پلمه د کونړ او هلمند ګرمسیر په څیر له بشر ضد جنایتونو څخه لاس واخلي.

ځکه د ولسي خلګو خلاف امریکایي وحشت لاهم د امریکایانو خلاف د جهادي مقاومت او کفر ځپونکو بریدونو د تودیدو لامل کیږي.

داچې دغه جهادي مقاومت د ګونتنامو، بګرام او څرخي پله محبسونو وحشت کنترول نه کړای شو، د امریکایي ځناورلو لخوا د ولسي عام وژنې وحشت یې هم هیڅکله نشي کابو کولای ، بلکې د الله په نصرت به نورهم دوموه د ظالمانو د ظلم په مقابل کې توند او ژبعراند کیږي چې بالاخره به د امریکایي امپراتورې ټول غرور او وحشت ورکې لاهو او داسې به د تاریخ برخه ګرځول کیږي لکه تر دوی وړاندې چې انګلیسي او شوروي امپراتورۍ دلته ځښې او د تاریخ برخه وګرځیدې ..

ان شاء الله .

هغوی ته چې د امریکا لپاره خپلې وینې تویوي!!

فریاد

بدون شک په منافقت، دروغو ،فراډ او دوکه ورکولو کې امریکائي طاغوت ساري نه لري او تل يې په چل، فریب او تیرایستلوخپلواک هیوادونه اوولسونه دغلامۍ په لومو کې ترلي دي،امریکایان دخپلو استعماري ګټو وټو ترلاسه کولو پخاطر هیڅ وحشت، دهشت او بربریت هم نه دریغوي اوس مهال چې دزمکنۍ کرې پر مخ هرځای چې کومې وینې بهول کیږي بالخصوص دمسلمانانو او داسلامي هیوادو دننه پکې امریکا مستقیم یا غیر مستقیم لاس لري اوهغه هیوادونه چې پریمانه نفتي زیرمې یا نورې پراخې طبعې شتمنۍ او ګڼ شمیر معدنیات لري امریکا هغوی له وړاندې په مختلفو حیلو او چلونودترونو او لوظنامو په نوم په داسې جالونو کې نښلولي چې که اوس هرڅومره لاس و پښې ووهي ځانونه تژغورلی نشي او که یونیم تري ځان ویستلو هڅه وکړه هم هغه ته داسې سبق ورکوي چې بیا به ترڅو پیریو سرپورته نکړي

زمونږ هیواد هم یو دهغو هیوادو څخه دی چې د امریکاپه استعماري مونګلو کې ښکېل دی او اوس مهال دفضائي قلمرو ترڅنګ يې ارضي تمامیت هم دامریکایانو تراشغال لاندې قرار لري او وحشت پال ځواکونه يې په زیاته سپین سترګۍ زمونږ دهیواد والو وینې دابو پشان تویوي

دتیرو اوولس کلوراهیسې امریکا زمونږ په هیواد کې د بشري تاریخ ترټولو لویه او وحشیانه جګړه روانه سا تلې په کومه کې چې هره ورځ زمونږ لسګونه معصوم هیوادوال پخپلو کورونو، کلیو او ښارونو کې په شهادت رسي او ټولي نړۍ وړباندې سترګې پټې او غوږونه کاڼه نیولي!

لیکن بیا هم دافغان ولس دتاریخي مقاومت او جهاد له برکته امریکا ونکړای شول چې بري ترلاسه کړي او دخپلو زرګونو عسکرو دوژل کیدو او دشاوخوا زرملیارد ډالرو مصرفولو وروسته هم دجګړې په ډګر کې له شرمنده ګۍ او خجالت سره مخ ده په وروستیو کې دامریکا ولسمشر ترمپ په حکم افغانستان کې دسولې او دجګړې دپای ته رسولو لپاره شپږ میاشتې د ضرب الاجل په توګه وټاکل شوې، چې خلکو سره داهیله پیداشوه چې ښکاري امریکا دخپلو تیروتنو په ادراک سره اوس دې نتیجې ته رسیدلې چې افغانستان کې روان جنګ د دوی لپاره ګټه نلري په همدې احساس دافغانستان اسلامي امارت هم سولې راتلو ته دخپلې لیوالتیاپه ښودلو سره اعلان وکړ: که امریکا رښتیا هم دسولې پلوي او ملاتړ کول غواړي نو لومړی دي له افغانستانه خپل ټول ځواکونه وباسي او دافغانستان روان ظالمانه اشغال دي پای ته ورسوي ، دسولې راتلو او د اشغال دپای ته رسولو پخاطر په قطر کې دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد داسلامي امارت دسیاسي استازو سره څو ځله مخامخ لیده کاته هم وکړل او بیادتیرې میاشتې (نومبر)

په ۸مه نېټه دروسيې په کوربتوب مسکو کې هم افغانستان کې دسولې راتلو پر موضوع نړيوال کانفرانس جوړشوی و کوم ته چې دنيږدې دولس هيوادو په ګډون داسلامي امارت پنځه کسيز وفد او دامريکا او کابل رژيم دسولې شورا استازو هم لاړوو، هلته داسلامي استازو ټولو مندوبينو هيوادونه په افغانستان کې دسولې راتلو په لارو چارو دغږيدو په ترځ کې ټينګار وکړ چې دافغان معضلې واقعبينانه حل بواځې دخارجي ځواکونو په وتلو پورې تړلی بايد امريکا خپل ځواکونه وباسي ،دزياترو هيوادو استازو داسلامي امارت ددې موقف نه خاموش ملاتړ وکړ او ټولو له افغانستان دامريکايي ځواکونو په اړتيا خبرې وکړې خو دهغه وروسته دځينې امريکايي چارواکو له لورې ضدو نقيض څرګندونو په رسنيو کې نوې بحثونه راوپارول او داپوښتنه يې راپورته کړه چې ايا امريکا دومخې سياست نکوي؟او ايا بوخل بيا دخپل زاړه منافقت څخه کار نه اخلي؟ دامريکا دلويو درستيزانو دکميټې مشر (جنرال جوزيف ډانفور) دامريکا کانګريس ته پخپله وينا کې ويلي: ددوی(امريکا) ځواکونه افغانستان کې دخپلو خلکو دخونديتوب لپاره شتون لري او هلته سوله زمونږ (امريکايانو) لومړيتوب نده.

هغه زياتوي: که دوی له افغانستانه ووځي نوبيا به داعش او القاعده په څېرډلو ته د منظم کيدو چانس په لاس ورشي اوپه امريکابه ديوولسم ستمبر په څير حملې وکړي

جنرال ډانفور کانګرس ته وويل: دم ګړي داستخباراتي معلومات ښيي چې ترهګري ډلې په نړۍ کې دسترو بريدونو کولو وړتيا نلري خو که بيا هم ورته فرصتونه په لاس ورشي ښايي ديوولسم ستمبر پشان بريدونه وکړي

هغه دا هم وويل: چې اوس مهال افغان ځواکونه په سخته جګړه کې ښکيل دي او هغوی ډير زيات تلفات هم ورکوي دکومو له امله چې لږ ترلږه دنړۍ په بله برخه کې امريکايان دخونديتوب احساس کوي ليکن که په افغانستان جنګي فشار کم شي نوبيا به دالقاعدې پشان ډلې منسجمې شي اوپه امريکا به حملې وکړي او ددې لپاره يې په افغانستان کې دامريکايي ځواکونو په شتون ټينګار وکړ.

دجنرال ډانفور پورته څرګندونې دهغو افغان اجيرانو لپاره دشرم او خجالت نه ډکې دي چې هغوی شپه ورځ دخو ناچله سيکو په بدل کې لګيادي دامريکا لپاره ځانونه وژني دهغوی باداره امريکا دهغوی په وژنو او مرګونو خفه نه بلکې دا دخپلو امريکايانو دحيات لپاره اړين کاربولي يعنې دافغانانو وينې هيڅ قدرو قيمت نلري او نه افغانان دبشري حقوقو نه برخمن انسانان بولي بواځې امريکايان ترټولو لوړه درجه انسانان او دبشر دحقوقو څخه برخمن ګڼي نور نړيوال هيڅ کوم انساني او بشري کرامت نه لري.

دکومو خلکو اولادونه چې نن دطالب په خلاف دجګړې په کرښه کې ولاړدي هغوی دي هم دامريکايي جنرال (ډانفور) دپورتنی وينا توري بيا بيا ولولي!! او پخپلو ګريوانو کې سرونه ښکته کړي او لږه شيبه دي وربانديې غورو فکر وکړي چې دوی دامنودتنو غوښې دچا لپاره کباب کيږي؟ او دچا ددفاع لپاره دبارونو داورخوراک ګرځي؟

ښکاره ده طالبانو له پيله ويلي: چې څو يو امريکا ئی هم پاته وي ترهغه به د دوی لخوا جهاد دوام لري او دوی به هيڅکله دجهاد نه وروسته نشي او نه به دجهادي ارزښتونو پر سر دچا سره کومه پټه او ښکاره معامله وکړي.

نو رازم ديته چې يو پلو امريکا دسولې نارې سورې وهي او زلمی خليل زاد پرلپسې سيمې ته سفرونه کوي دامارت دسياسي استازو سره مخامخ ليده کاته کوي او هغوی ته داسې ذهنيت ورکوي چې امريکا سوله غواړي او جګړه پای ته رسول غواړي ،خو په عين حال کې چې کله پنټاګان نانګريس ته معلومات ورکوي هلته هغوی په جګړه ټينګار کوي او دامريکا دخوندي کولو لپاره په افغانستان کې دجنګ دوام او په هغه کې دافغان عسکرو له حده ډير تلفات دامريکا يانو دژوند لپاره ګټور او ضروري بولي، په دې سره حتماً هغه هيلې چې دسولې

راتلو او داشغال دپای ته رسيدو په اړه دافغانانو او نړيوالـو پـه زړونـو کـې راټوکيدلې ټکان خوړې او دسـولې روان جريـان او بهيـر تـه دشـک پـه نظـر ګـوري او دې نتيجې تـه رسي چې امريکا له زړه نه سوله نه غواړي او نه خپل ځواکونـه لـه افغانسـتانه وباسي.

بل امريکا ته دافغان عسکرو دتلفاتو لوړه سلنه هيڅ ارزښت نلري او نه وربانـدې خوابـدي دي بلکې دهغوی وژل کيدل دامريکايـانو دژونـد خوندي کولو لپاره اړين بولې نو په دې بانـدې دې هغه پردېپال افغان عسکر چې دڅو پيسو په بدل کې خپلې وينې دامريکا يانو دژوند خوندي کولو لپاره تويـوي او دخپـل طالـب پـه خـلاف يـې توپـک پورتـه کـړی لـږ سـوچ وکـړي چـې اخـر دوی وينې دچا لپاره تويوي؟ او څوک يې دخپلو وينو تويولـو تـه اړباسـي؟ کـه پخپلـه ورتـه ځـواب ونـه مومي! دامريکايي جنرال (ډانفور) پـه وينـا کـې يـې ځواب مندلی شي ... پای



تېرې بدې او ترخې خاطرې مو داسې هېرې کړئ!

ژباړن: عطا محمد مياخېل

موږ ټول له تېر څخه خاطرې لرو، چې نور نه غواړو په ياد يې راوړو او هېرولو ته يې لېوالـه يوو، خو داسې تګلارې شتون لـري، چې دا ستونزه مو حل کوي:

د تېرو خاطرو د هېرولو لپاره ٦ ګامونه

ډېرې خلک تر اوسه هم لـه خپلـو تېـرو خـاطرو سره لاس و ګرېـوان دي او هـره ورځ پـه خپلـو تېرو ترخو خاطرو باندې مرور کوي، پـه داسې حال کې چې پـوهېږي، تېـر وختونـه تېـر شـوي دي.

په تېرو ترخو باندې تل مرور کـول، د دې سـبب ګرځي، چې له خپل اوسني ژوند څخـه نـا خبره شئ او يوازې ځان ورتېر، پـه دې صـورت کـې هغه ډول، چې تېر ژوند مو تريخ و، اوسنی ژوند مو هم ترېخېږي، غوره ده، چې همـدا اوس د دې ستونزې د له منځه وړلـو لپـاره يـوه د حـل لاره پيدا کړئ او له هغې تګلارې څخه کار واخلـئ، په کومې چې کولای شئ، خپلې ترخې خـاطرې هېرې کړئ.

موږ په هغو تګلارو باندې رڼـا اچـوو، چـې پـه مرسته يې کـولای شـئ، خپلـې ترخـې خـاطرې هېرې کړئ:

د تېرو ترخو خاطرو هېرول يعنې څه؟

د تېرو وختونو هېرول، يعنې دا چـې ومنـئ، پـه تېر کې له ستونزو سره د مخامخ کېـدو پرمهـال مو تر ټولو غوره غبرګونونـه لـرل او کـه چېـرې بېرتـه هـم تېـر تـه ور وګرځـئ، نـو هماغـه ډول غبرګونونه به ولرئ.

١ ـــ نوې اړيکې ټينګې کړئ

د تېر د هېرولو لپاره، نوي دوستان پيدا کړئ. دا دوسـتان کـولای شي، ستاسـو د همکـارانو او ګاونډيانو له منځه وي. تاسو کولای شئ، د خپـل تېر په منلو سره، په اړه يې له خپلـو دوسـتانو سره خبرې وکړئ.

٢ ـــ په خپلو خبرو اترو کې د توازن په لټـه کـې واوسئ

د تېر د هېرولو لپاره، کله چې لـه خپلـو دوسـتانو سره خبرې کوئ، يوازې د خپلو ستونزو په اړه مـه غږېږئ او پرېږدئ، چې هغوی هم د خپل ژونـد پـه اړه تاسو ته وغږېږي.

٣ ـــ نوي او تازه کارونه تجربه کړئ

د تېر د هېرولو لپاره، نوي کارونـه ترسره کـړئ، د بېلګې په توګه: يو نوی هنر زده کړئ او يا د ځـان لپاره، يوه نوې بوختيا را منځته کړئ.

۴ ـــ ځان وبښئ

تر ټولو مهم کار، چې بايد د تېر د هېرولو لپاره يې ترسره کړئ، د ځان ببښل دي. که چېرې په تېر کـې مو کومه غلطي کړې وي، بايد ځان وبښـئ او پـه اړه يې نور فکر مه کوئ، ځکه چې د تېـر پـه اړه فکر کول، کوم درد نه شي دوا کولای.

٥ ـــ خپل افکار مديريت کړئ

تېر د هېرولو لپاره، خپل افکار مديريت کـړئ او د تېر په اړه د فکر کولو عادت پرېږدئ. تاسو بايـد د تېر په اړه د فکر کولو پرمهال، خپل افکار اوس ته را وګرځوئ.

٦ ـــ د وخـت پـه تېرېـدو بانـدې بـاور وکـړئ

د تېر د هېرولو لپاره، تاسو تـر هرڅه ډېـر د وخـت تېرېدو ته اړتيا لرئ. اوسنی وخت ستاسو ستونزه ده، ورو ورو او د وخت په تېرېدو سره تېـر تېرونـه رغېږي، ډېر کم يې پاتې کېږي، چې هغه هم ورو ورو بنه کېږي.

دلومړي نړیوال جنګ نه پېړۍ پس

نړۍ پرکوم لور؟

شهیدزوی

په ۲۰ میلادي پیړۍ کې درومبي نړیوال جنګ په نوم رامنځته شوي معرکه داسې یو خونخواره معرکه وه چې دانساني تاریخ لوری یې بلکل بدل کړ،دځېرو شویو اعدادو او ارقامو له مخې پدې جنګ کې ۲۰ ملیونه انسانان ووژل شول چې نیم یې فوځیان او سم نیم یې ولسي- وګړي وو؛ جنګ کې د۲۰ ملیونو نه زیات فوځیان ټپیان شوي هم وو.

افغانستان الله تعالی پدې جنګ کې دګډون نه ساتلی وو خو زموږ په ځنګ کې دمقبوضه هند د یو ملیون نه زیات عسکر دبرتانیې له لورې دې جنګ ته استول شوي وو چې عراق ، فلسطین ، ایتالیا ، فرانسې اوبلجیم کې دمخالفنو پرضد جنګېدلي وو او ددوئ له جملې نه ۷۴۱۸۰ فوځیانو یکې خپل ژوند هم له لاسه ورکړی وو؛ دوئ کې دهندوانو او سیکانو ترڅنګ ګڼ شمېر مسلمانان هم وو .

دستروخاني زیانونوترڅنګ دې جنګ دنړۍ په تاریخ کې دېرزیات مالي زیان اړولی و او ګڼ آباد ښارونه یې په کندوالو بدل کړي وو.

دا جنګ په ۱۹۱۴م کال کې پیل او د ۱۹۱۸م کال دنومبر میاشتې په ۱۱ مې نېټې پای ته ورسېد.

اوس د روان ۲۰۱۸ م کـــــال دنومبر په ۱۱ مې نېټې ددې جنګ دپای ته رسېدو ۱۰۰ کلونه پوره شول نو ددې جنګ د ۱۰۰ کلونو پوره کېدو په یاد کې دفرانسې پلازمېنې پاریس کې یوه نړیواله یادګاري غونډه جوړه شوې وه چې د امریکا دولسمشر ترمپ او روسې ولسمشر- پوتین په شمول یکــې دنــړۍ د ۷۰ نــه دزیــاتو دهغوهېوادونو مشرانو ګډون وکړ چې په یو نه یو ډول دې جنګ کې شریک شوي وو.

باران و ،سخته یخنـي وه دنړۍ مشرانو په سرونو تورې چترۍ نیولې وې له غرمې وړاندې ۱۱ بجې په ټولې فرانسې کې په کلیساګانوکې زنګونه ووهل شول او د Arc de triump ،،دفتحې محراب،، او دنامعلوم عسکر ترقبره پلې ولاړل ؛په جنګ کې دګډون کونکو عسکرو خطوط ولوستل شول او بیا دپاریس قصر- کې جوړ شوي دامن کانفرانس کې دا مشران سره راجمع شول چې یکې دجرمني مشرې

انجـيلا مركـل او دملگـرو ملتونـو سرمنشي۔ کـوتيرس افتتـاحي وينـاوې وکړې .

ددې جنـګ اصـل عوامـل خـود ۱۸۷۱م کال نه پيل شـوي ووکلـه چـې جرمني فرانسې ته په جنګ کـې مـاتې ورکړې اوددوه معدني سيمې (الســاس اولورين)يې ترې ونيولې .

په ۱۸۶۷م کې دپروشيا چانسلر (لومړي وزير) بسمارک دشمالي جرمني ايالتونه متحد کړي وو.

بيادفرانسې پرضد دجنګ ګټلونـه پس دپروشياپاچا ولهلم اول خپـل ځـان دجرمني دقيصرپه صفت اعلان کړ.

برتانې ،فرانسې ، پرتګال ، هاليند اوبلجيم زياتره افريقايي سيمې ترخپلې قبضـې لانـدې راوسـتې وې اوجرمنـي پدې استعماري منډوکې ډېر وروسـته شريـک شـوی ونوځکـه يـې تراشـغال لانـدې سـيمې کمـې وې خـو داچـې صنعت يـې تېـز پرمختـګ کـړی و نـو دمصنوعاتو لپاره يې لويه منډې پکـار وه نوځکـه يـې دنـورو يـادوغربي هېوادونوسره ډېر جور استعماري رقابت روان و .

همـدا راز د۱۸۷۸م کـال کـې دروسې اوترکې ترمنځ رامنځتـه شـوي جنګ کې سربيا له ترکـانو ازاده شـوې وه اوبوسنيا په آستريا کې شامل شوې وه ؛ سربيـا دبوسـنيا دسرب سيموخپل ځان سره دضم کولوخواهشـمنده وه نـو ځکــه آســتريا دسربيــا نــه خطــر محسوسولو.

ددې ترڅنـګ روسـې پـه ابنـای باسفورس اوددانيال دره باندې دقبضې خواهش لرلو اوددې لپاره يـې دعـثماني خلافـت پـر پلازمېنــې قســطنطنيه (استنبول) قبضه ارينه بللـه نوځکـه لا له وړاندې ترکـې دروسـې نـه ډېرسـتر خطر محسـوسولو.

لنډه داچې لاملونه لا له وړانـدې ووخـو دپيـل کېدوښـکاره لامـل يـې دقتل يوه عادي پېښه وه؛ د۱۹۱۴م کال دجـون پـه ۲۸ مـې نېټـې دبوسـنيا پـه سرايوښارکې د دسربيا يو اوسېدونکي د آستريا هنګري ولي عهد شهزاده فرانز فـرډي نينـډ او دهغـه مېـرمن پـه يـو لاريون کې د ګـډون پرمهـال وويشـتل اوځای پرځای يې ووژل ؛ ددوئ دواړو دوژلونه پس قاتل سربيا ته پـه تېښـته بريـالی شـو؛ آسـتريا دسربيـا نـه قاتـل وغوښتلو او ورته يـې ديـوې مياشـتې مهلـت ورکـړ خوروسـې چـې سربيايـه شاتپوله نوسربيا دآستريا غوښتنه ونـه منلـه اودقاتـل ورسـپارلونه يـې کـلې انکار وکړ چـې لـه املـه يـې د۱۹۱۴م کال دجولای په ۲۸ مې نېټې آستريا په سربياحمله وکره اودآسـتريا هنګـري او سربيـا تـرمنځ جنـګ رامنځتـه شـو ؛

دسربيا دمرستې لپـاره دروسـې فـوځ دآستريا مقابلې تـه راووت چـې ورسره سم داګست پـه رومبـی نېټـې جرمنـي دروسـې پـر ضـد جنګ اعـلان کـړ ؛ دجرمنـي ددې اعـلان نــه يــوه ورځ وروسته ياني داګست په ۲ مـې نېټـې فرانسې دروسې دحمايت په موخه خپل فوځونه دجرمني مقابلې ته راوويسـتل اودجرمني اوفرانسـې فوځونـه ديوبـل سره مخامخ په جنګ کې اختـه شـول ؛ دجرمني فوځونو په بلجيم حملـه وکـړه اوفرانسـه يـې تـر محـاصرې لانـدې راوسـته چـې لـه املـه يـې برتانيـه دفرانسې مرستې ته راووته اودجرمنـي پر ضد يې جنګ اعلان کړ نـو دسربيا اوآسـترياهمدې دوه هېوادونـو تـرمنځ رامنځته شوی جنګ بيا ټولې اروپا ته خپور شواوله اروپـا بيـرون يکـې تـور ګڼ هېوادونه هم رالتاړ شول.

دړومبي نړيوال جنګ مرکز اروپا وه؛يکې جرمني،آسترياهنګري بلغاريـه او عثماني خلافـت يولـور و او امريکـا فرانسه برتانيه،روسيه او سربيا دجنګ بل لوري و.

په جنګ کې جرمني او اتحاديانو يې مـاتې وخـوړه او بـې قيـدو شرطـه وســلې ايښــودلو تــه اړ کــرای شول؛جرمني بيخې بې لاس او بې پښو شو زيـاتره سيمې يـې فـاتحو لښـکرو ترخپلې قبضې لاندې راوستې او ورتـه

قابضو قوتونو له لوري دفوځ ددومره راکمولوحکم وشوچې دنه درلودلو په معنی و.

اسلامي نړۍ دې جنګ دخورا ډېر ستر زيان سره مخامخ کړه ځکه چې عثماني خلافت ټوټې ټوټې شو تړواک لاندې تولې سيمې يې له لاسه ووتې او پربيت المقدس برتانيه قابضه شوه؛بل لور ته دجنګ دپای ته رسېدو په اړه دجرمني او اتحاديانو پرضددذلت نه ډک رامنځته شوی تړون ددوهم نړيوال جنګ سبب شو.

دا جنګ دنورو مذهبونو دپيروانو په پرتله دمسلمانانو لپاره دزيات تاوان لامل شو.

عثماني خلافت مخامخ پدې جنګ کې نه و لتاړ بلکې دسخت مجبوريت له مخې ددې جنګ برخه وګرځېده ځکه چې روسيې دخپلو اتحاديانو دمرستې په موخه د بالکان سيمې او روم بحيرې نه تېرېدل غوښتل نو عثماني خلافت دخپلو سيمو او پولو دساتنې په موخه دروسې مخې ته ودرېده چې له امله يې روسيه اترکيه مخامخ ښکر په ښکر شول اوپدې طريقې ترکيه هم ددې جنګ برخه وګرځېده.

دا چې پدې جنګ کې دجنګ په پرتله شوم پلان زيات و نو ځکه په ډېر چل او هنر دا جنګ د اروپا دنورو برخو ته راغونډ او ورو ورو دعثماني خلافت تر ساحو محدود شو.

دجنګ په جريان کې دمسلمانانو سره وعده شوې وه چې د جنګ پای ته رسېدو نه پس به دعثماني خلافت شتون ته هيڅ ډول تاوان نه رسول کېږي خو پدې وعدې وفا ونه شوه؛پر قسطنطنيه دقبضې نه ۱۳ ورځې پس د ۱۹۱۸ م کال داکتوبر په ۳۰ مې نېټې ديو رامنځته شوي کړغېړن تړون له مخې دعثماني خلافت دتجزيې عمل پيل شو او بيا دسيور تړون له مخې دخلافت سره تړاو لرونکې دمنځني ختيځ تولې برخې برتانې او فرانسې ته ورکړې شوې او دروم بحيرې ساحلي سيمې ايټاليا او دترکې سمندري غاړې يونان او ابنای باسفورس او مرمره بحيرې ته بين المللي حيثيت ورکړل شو او داتحادي فوځونو مشترکه مقبوضه سيمه وګرځول شوه او ددې ترڅنګ دختيځې اناطوليا ډېره برخه ارمنيا ته ورکړل شوه.

برتانې دډېرې چالاکۍ نه کار واخست او دفرانسې سره يې دسائيکوس پيکوټ نومې کړغېړن تړون له مخې تول منځنی ختيځ په خپلو منځونو کې ووېشلو.

فلسطين چې دبرتانې تړواک لاندې راغلی و ۱۹۱۷م کې يې په پټه دبالفور اعلان وکړ اودصهيونستې دولت درامنځته کولولپاره يې دنړۍ دمختلفو برخونه يهوديان راوستل .

بيا وروسته په ترکې کې دقوميت ناره پورته شوه دعثماني خلافت نه دازادۍ اعلان وشو او ترکې فوځونو ديونان ايټاليا او فرانسې قابض فوځونه داناطوليا نه ووېستل او دسيورې تړون په نتيجه کې چې کومې سيمې ارمنيا ته ورکړل شوې تولې سيمې دارمنيا نه بېرته واخستل شوې؛ترکې فوځونو بېرته ابنائی

باسفورس او استنبول ترخپلې ولکې لاندې راوستل.

همدا راز په ۱۸ میلادي پېړۍ کې لا فرانسې او برتانې دعثماني خلافت پر خینوسیمو حملې کړې اوورځنې یې نیولې هم وې : په ۱۸۷۸م کال کې برتانې دعثماني خلافت نه دقبرص جزیره نیولې وه اوپه ۱۸۸۱م کال کې تري فرانسې تول تیونس ونیولو اوپه ۱۹۱۱م کال کې ورنه ایتالیا یومهم ولایت طرابلس(لیبیا) قبضه کړه .

په ۱۹۱۲م کال کې دبلقان په جنګ کې هم داروپایي څواکونوپالیسي دعثماني خلافت پرضد وه .

نوځکه ترکې په ۱۹۱۴م کې دجرمني سره دفاعي تړون لاسلیک کړ اودېر ستر مجبوریت له مخې دې جنګ کې ورشریکه شوه .

دا چې عثماني خلافت دیو لړ مجبوریتونو له مخې دجرمني سره دیو ځای کېدلو پرېکړه کړې وه نو ځکه دا جنګ داروپا نه منځني ختیځ او افریقا ته خپور شو ځکه چې دلته دعثماني خلافت ګڼ ولایتونه وو په ۱۹۱۴ م کې چې جنګ رامنځته کېدلو جرمني دنړۍ یو ستر ځواک و؛جرمني صنعت دېر عصري او جدید و سوداګري یې دېره مخ په وړاندې تللې وه او فوځي ځواک یې دنړۍ په سطحه نه ماتېدونکی ګڼل کېدلو.

او جرمنیانو په خپل هېواد کې هوسا او خوشحاله ژوند کاوه.

دجرمني دا هر اړخیز پرمختګ یواځې داروپا نه بلکې دټولې نړۍ لپاره چیلنج ګرځېدلی و نو ځکه ناقدین وایي چې که جرمني په دې جنګ کې دګډون پرېکړه نه وای کړې اوس به جرمني دنړۍ تر ټولو سترځواک وای.

پدې جنګ کې ۷۰ ملیونه فوځیانو برخه اخستې وه چې ۶۰ ملیونه یې اروپایان او نورو ۱۰ ملیونو یې دنورو سیمو سره تړاو درلودلو.

په همدې جنګ کې په رومبي ځل غټې جنګي وسلې اوکیمیاوي مواد وکارول شول چې دا دانساني وحشت دېر لوې اظهار و او داسې ښکارېدله لکه انسانان چې دانسانانودکلې تباهي او بربادۍ لپاره متې رانغښتې وي.

بل لور ته دجنګ سیاسي حالت هم دېر له تاوانونو او خطرونو ډک و؛جنګ بندي او دجنګ بندۍ لپاره رامنځته شوی تړون دامن پرځای دیو بل خطرناک جنګ درامنځته کېدو بنسټ کېښود.

داور بند لپاره درامنځته شوي تړون په نتیجه کې جرمني دذلت نه ډکو شرطونو قبلولو ته اړ کړای شو چې له امله یې دهتلر په څېر جابر دیکتاتور وزېږاوه.

په ښکاره جرمني سرتېټ کړ خو دجرمني دپرمختګ مخه ونه نیول شوه او نه دجرمنیانو دځان لوړ ګڼلو احساس له منځه ولاړ نو ځکه هتلر ددوئ ملت پالنې داحساس په راپېدارولو او خپل مقابل لوري نه دجرمني دذلت سره مخامخ کولو دجرم دانتقام اخستلو په موخه جنګ کولو ته تیار کړ؛او جنګ ته دپوره چمتووالي نه پس داول جنګ دپای ته رسېدونه پوره ۲۲ کلونه پس دوهم نړیوال جنګ رامنځته شو چې پکې درومبي نړیوال جنګ نه هم زیاته تباهي رامنځته شوه۱۰۰ملیونه انسانان ووژل شول او دجاپان په هیرو شیما او ناګاساکي ښارونو امریکا اتوم بمونه وغورځول چې په څو لحو کې په سونو زره بې ګناه انسانان په دېرې بې رحمۍ او بې دردۍ ووژل شول.

په ۱۹۱۶م کې چې اتحادي فوځونو پرقسطنطنیه دقبضې لپاره حمله وکړه نوپه ټاپووزمې ګیلي پولي کې یې ترکان مقابلې ته راوتل اودلته ترکان په دېرې میړانې ددوئ پر ضد وجنګېدل ؛ دې جنګ ترڅو میاشتو دوام وکړ چې په نتیجه کې یې اتحادیان دسخت شکست سره مخامخ

اوشاتګ ته اړ شول ؛ پدې جنګ کې دبرتانې ، فرانسې ، آسترالیا اونیوزیلینډ دوه لکه پنځه ویشت زره فوځیان ووژل شول اویکې یولک ۸۹ زره ترکان هم په شهادت ورسېدل .

برتاني دهندي فوځ نه په ګټې اخستوپه منځني ختیځ کې عراق ، اردن اوفلسطین ترخپلې قبضې لاندې راوستل اود۱۹۱۸م کال په اکتوبرکې شام هم دعثماني خلافت له واکه ووت او دا خلافت اړشوچې داکتوبرپه ۳۰ مې نېټې دعارضي اوربند تړون لاسلیک کړي .

په پیل کې امریکا ددې جنګ برخه نه وه بلکې په ۱۹۱۷م کال کې چې یوجرمني اوبتل په اوقیانوس سمندرکې امریکايي سمندري جاز غرق کړچې له امله یې امریکا هم دهمدې کال داپریل په ٦مې نېټې دجرمني پرضد داتحادیانو سره مل شوه؛ داتحادیانو سره دامریکا دفوځ اوجنګي وسایلو دیوځای کېدوسره سم ددوئ تله درنده شوه اوراتلونکي کال ته جرمني دسولې دتړون خواست کولوته اړشو؛ اتحادیانو دجرمني غوښتنه ومنله او۱۹۱۸م کال دنومبر په ۱۱مې نېټې داوربند تړون رامنځته اوپه لویدیځوساحوکې جنګ پای ته ورسېد ؛ په ختیځوساحوکې خوهسې هم د۱۹۱۷م کال په نومبرکې په روسې کې دکمونستي انقلاب درامنځته کېدو له امله لېنن دجرمني سره سوله کړې اوجنګ ودرېدلی و.

دنړیوال جنګ دپای ته رسېدونه پس په ۱۹۱۹م کال کې دوارسا دسولې تړون رامنځته شو؛ دآستریا اوجرمني شاهي نظامونه ختم شول ؛ دآستریا ، جرمني او روسي له لوري دپولینډ قبضه شوي سیمي ددې هېوادونو دقبضې نه راووتې او ددې سیموپه یوځای کېدودپولینډ په نوم آزاد هېواد رامنځته شو؛ دآستریا دشمالي سیمونه چیک هېواد جوړ شو؛ دسربیا، بوسنیا ،کروشیا ،سلاوینیا اومقدونیا نه یوه یوګوسلاویه جوړه شوه.

دجرمني له لوري دفرانسې قبضه شوې سیمې (الساس اولورین) بېرته فرانسې ترخپل واک لاندې راوستې ؛ دجرمني له لوري دافریقې قبضه شوې سیمې تنزانیا ،نیمبیا ،کیمرون اوتوګو اتحادیانوپه خپلومنځونوکې وویشلې. اواتحادیانودجرمني نه دبحرالکاهل مقبوضه ټولې جزیرې هم ونیولې .

دجرمني پر اوږدو دجنګ ستر تاوانونه ورواچول شول اودسمندري جازونو او دفوځ دراکمولوشرطونه هم ورباندې کېښودل شول .

دړومبي جنګ دپای ته رسېدو نه پس دنړیوال امن دبقاليپاره د جمعیت اقوام (لیګ آف نیشنز) په نوم نړیواله اداره رامنځته شوه خودحریصو قبضه خوښونکو اروپايي ځواکونو خودغرضیو نړۍ امن ته پرې نه ښوده تو۲۱ کلونه پس نړۍ دبل نړیوال جنګ په لمبوکې لولپه شوه.

دتاوان خبره دا ده چې نړۍ دړومبي او دوهم نړیوال جنګ نه هیڅ عبرت وانخست ؛ اوس هم په کمزورو هېوادونو دزورورهېوادونو حملې جریان لري ؛ دقبضو شوق ختم شوی ندی اودامریکا، روسي ،برتانې اوفرانسې په څېر دنړۍ مهمو هېوادونو دقبضې او اشغال په موخه دنړۍ پرېړې ستري برخې بې ګټې جنګونه مسلط کړیدي چې پکې په ملیونونو انسانانوخپل ژوند له لاسه ورکړی.

دلویو زبر ځواکونو ترمنځ داستعمار او قبضې رقابت اوس هم جریان لري اوپه ډېرو ځایونوکې یوبل ته مخامخ شوي او دادريم جنګ خطرونه هم رامنځته شویدي .

دنړۍ زبرځواکونه چې دنړۍ دامن لپاره نه یواځې داچې یوعملي قدم نه پورته کوي بلکې په ټولې نړۍ کې بد امني هم دهمدوئ له لوري ده نو په داسې حال کې دلومړي جنګ دپای ته رسېدو دسلمې کلیزې لمانزل اوبیا په پاریس کې دامن کانفرانس جوړول که منافقت نه وي نو وربه څه وي ؟

داتل غازي شهيد

قاري خيرالله مُنيب (مُورچل) تقبله الله ژوند پاڼه اوميرانه

❖ ليکنه: جاويد جان حقاني

زمونږ هېواد دهرطاغوت په مقابل کې له مودونه دجهادي شهکاريو ډگرپاته شوی ،داتلوليو اوميرانو په مټ يې لويې امپراطورۍ راپرځولې

دا چې داسلامي امارت دحاکميت په نيکمرغه دوره کې زمونږدهېواد په نوي سلنه خاوره کې سوچه اسلامي حکومت او بشپړ امنيت راغلی ونړيوال کفر ونشو زغملای اوپرضديې نړيوال صليبي ائتلاف رامنځته کړاو دهغه په ملتيايي پرافغانستان وحشيانه يرغل وکړچې په ترڅ کې يې افغان ولس ته زړه بوږنوونکي بدمرغۍ راوړې په لکونو افغانان يې شيهدان او ټپيان کړل په زرهاوو يې بنديان کړل ليکن افغان يې په وړاندې مات نشول ، دامريکاغرور ته غاړه ښکته نکړه دادی دتيرو اتلس کلو راهيسې په ټول هيواد کې داسلامي امارت تربيرغ لاندې دامريکا او دملګروپه خلاف يې تاريخي جهاد دوام لري او لله الحمد امريکا پکې دبري په ځای دشکست او زوال سره مخ ده او هره ورځ يې دجګړې په ډګر کې لسګونه عسکر وژل کيږي اوهم ورته دځو سوه مليونه ډالرو په ارزښت مالي خساره اوړي

څنګه چې دجنګ په ميدان کې ګورې نه ويشل ضروردواړولوريوته زيانونه پيښوي خلک پکې له منځه ځي، په لوی شمير کې کورنۍ دويرونو په تغر کينوي نو طبعاً دامريکا پخلاف په تيرو ۱۷-۱۸ کلو کې په لوی شمير کې درنه علماءِکرام، دعظيم الشان قرآن حافظان او دنبوي علومو سپېڅلي طالبان په شهادت ورسيدل او دګران هيواد دازادۍ لپاره ډيرې پاکې او معصومېويني توی شوې الله تعالی دې دهغوی دقربانيو په برکت افغانستان دامريکايانو دمنګلونه ازاد کړي او پکې يوځل بيا دې داسلامي سپېڅلی نظام راولي دلته زه څو کرښې دامريکا پخلاف دروان جهاد ديوه اتل او قهرمان مجاهد (قاري خير الله منيب رح) پر ژونداو کارنامو څو توري کاږم.

#زوکړه: اتل شهيد قاري خيرالله مُنيب مُورچل تقبله الله د دوست محمدزوی، دمحمد عمر

لمسی په ۱۷ دربیع الاول ۱۹۷۸ میلادي کال دنورمحمد تره کي دواکمنۍ پرمهال دکندهار ولایت سپین بولدک ولسوالۍ دنېدو کلي په یوه متدینه، او غریبه کورنۍ کې دنیاته سترګې وغړولې،نوموړی دمصمم هوډ خاوند،له ملګرو اوعام ولسي وګړو سره یې زړه راکښونکی تعامل درلود،تل مُدام یې پرتندي به خوشالي خوره وه اوپرخوله به یې هروخت تبسم وو، شهیدقاري صاحب تقبله الله د پلار دشپږوزامنوڅخه یوازېنی څوی پاتې و، اوپنځه ورونه یې له ده څخه مخکې دآخرت په سفرتللي وه، یوازې یې په ده پورې د ژوند ټول ارمانونه تړلي وو، داچې پلارېې دین دوست او لمونځ ګزار انسان و په شهیدقاري صاحب باندې یې د دنیاچاري ونکړې یوازې دالله تعالی لارې ته وقف کړئ و، لومړنۍ زدکړې یې دکلي دملاامام څخه او بیا دنورود دیني کتابونو ویلولپاره دسیمې جیدعالم مرحوم مولوی عبدالمالک صاحب ته مراجعه وکړه په ۱۹۹۷ میلادي کال کې افغان پولې ته څېرمه سرحدي ښارچمن کې دجیّد قاري ممتازاحمدسرحدي دقرأت دستار ورپه سر کړل شو،نوموړي په همدې کال یو شپه په خوب کې د رسول الله صلی الله علیه وسلمزیارت وکړاو ورته رسول الله[ص]دمدرسې جوړولوامر کړي، سهارېې خوب دخپلو ملګرو او استاذانو سره شریک کړ داستخاري کولو وروسته هغوی ورته دمدرسې جوړولو مشوره ورکړه، کله چې نوموړی خپل کلي ته راستون سو په تش لاس یې سمدستي پرخپله څمکه دمدرسي دجوړولو کارپیل کړ،په ۲۰۰۱ءکال کله چې اشغالګرو زموږ پروطن یرغل راوړ همآغه کال دنوموړي په مدرسه کې په لومړي ځل دفاضلانو لپاره دجلسي غونډه دایره شوي وه چې شاوخوا ۴۰ کسانو ته دفراغت دستارونه ورپه سرسول.

#جهاد: کله چې نړیوال ائتلاف پر ګران هېواد افغانستان یرغل راوړ شهید قاري صاحب دخپلې کورنۍ سره د هجرت دیار ته کډه وکړه له همآغه ځایه اولاً دشهید حافظ عبد الرحیم تر قومندي لاندې دکندهارپه ولایت کې په وسلوال جهادي مقاومت لاس پورې کړ نوموړی په ۲۰۰۴ء کال کې دهمسایه هېواد پاکستان لخوا ونیول سو شاوخوا اتلس میاشتې دزندان کړاونه تېرکړل، وروسته دسیمې دعلماءکرامو او مخلصو ملګرو په زیار سره له بنده ازاد او دحاجي یوسف وفاء [حالاً دغزنې ولایت نظامي مسؤل] ترقومندي لاندې دکندهار ولایت پنجوائ ولسوالۍ کې خپل وسلوال جهادي مقاومت ته ادامه ورکړه،شهید قاري صاحب ددښمن په خلاف دکندهارولایت په بولدک،ښوراوک،شاه ولېکوټ، ژړی،ډنډ،پنجوائ او میوند ولسوالیو کې جهادي فعالیتونه ترسره کړل،په ۲۰۰۹ء کال کې داسلامي امارت لخوا دسپین بولدک ولسوالۍ نظامي ولسوال وټاکل سو،په دغه کال کې صلیبي یرغلګروته دسراو مال درانه تلفات واړول ، او په ۲۰۱۰ء کال کې چې کله نوموړی د ډنډولسوالۍ لپاره نظامي مسؤل په توګه وټاکل سو دصلیبي یرغلګرو لخوا ترډېر جدّي تعقیب لاندې وو هرشپه یې په نوموړی پسې په مختلفو ساحوکې چاپې اچولي آخر نوموړی دکندهارپه ښارکې دننه چې یو کورکې مېلمه وه دیرغلګرو لخوا چاپه ورباندې ووهل سوه او له هغه ځایه دهېواد کرغېړن زندان باګرام ته انتقال کړ،پنځه کاله د باګرام زندان کې له تېرولو وروسته دهېواد یوه بل وحشي زندان پلچرخي ته انتقال سو،هلته زندان کې هم یرغلګرو صلیبیانو هم دنوموړي په ربړولو اوشکنجه کولو

کې څه سرفه ونکړه خو د راسخې عقیدې خاوندان او دالله پر وحدانیت کلک ولاړ و، دشهید قاري صاحب تقبله الله دژوند یو نږدې ملګرئ وايي چې ما له نوموړی څخه یو وخت پوښتنه وکړه چې قاري صاحب دباګرام دوحشي زندان یوه خاطره خو راته بیان کړه وویل قیصه درته کوم خو له ځان سره یې خوندې وساته ویلي! صلیبي یرغلګرو زماڅخه د اقرار کولو په غوښتنه کې یو خواکې دژوند قبرجوړکړئ وو دا دهغه چا لپاره جوړسوئ وو، کوم زنداني چې به اقرار نه کاوه وای زه چې هلته ورشیوه کړم داسې توره تیاره خوره وه چې آن مادخپل لاس ګوتي هم نسوي لیدلای د دغه قبر په سرکې یوه خفیه کیمره ځای پرځای کړې وه چې له دي لارې دوی زماحالات ځانته معلومول وای نه مې خوراک وو نه خوب کله چې به دلمانځه وخت سو مابه هسې اذان شروع کړ، وخت نه راته معلومیده چې دکوم لمانځه وخت دی دغه سلسله شروع وه چې ماته دروازه راخلاصه کړه یرغلګرراغله او زه دبانډې راویستم یو کوټې ته راوستم له مايې دترجمان په توسط پوښتني شروع کړې ویل چې ته ولې دغه اذانونه کوې تاته دا وخت څنګه معلومیږي وايي ماورته وویل زه هسې اذان شروع کړم ماته هیڅ وخت نه رامعلومیږي بیا یې راته وویل نور به دغه اذانونه نه کوي ماورته وویل دازمونږ دهغه رب دعظیم عبادت یو اعلان دی دکوم رب ج لپاره چې زه دغه زندان ته راغلئ یم زه نسم کولای چې دغه اعلان پرېږدم بیایې راته وویل چې کله ته دغه اعلان شروع کړې مونږ داسمان په ستورو وزړېږو ناري وهو هرڅه له لاسه ورکړو،نوموړی وایي کله چې دغه سلسله پنځوسو ورځو ته ورسیده ورسره یې سم زه له هغه قبره بهر راویستلم خپلې کوټې ته یې راوستم.ددې ترڅنګ شهیدقاري صاحب د زندان په موده کې دقرآن کریم حفظ هم مکمل کړ او ترڅنګ یې نورو زندانیانو ته هم هلته کتابونه درسول،پردې سربیره له هغه ځایه دخپلو بچیانو لپاره ددیني زدکړو هلې ځلې هم کولې.

دپلاردسرسیوری یې هغه وخت د نړی وکوچید، کوم وخت چې نوموړی د زندان توري شفي صباکولې هېچابه دغه طمع نکوله چې دغه له کلونو راهیسې ورک اونه ستړي کېدونکی مجاهد به یوځل بیا خپلو بچیانو او قریبانو ته ځان رسوي او دهغوی سترګي به دخپل ځان په لیدو سړه وي،خو دا چې تدبیر تل د تقدیرپه مقابل کې سر خوړلی،د ۲۰۱۶ء کال د۷میاشتې پر۴نېټه له څو نورو أسیرانو سره دباګرام له وحشي زندانه ازاد او ترخپلو بچیانو، قریبانو راورسیدی،بچیان یې خوشاله سول چې کله خپل بابا مو ولیدو، دخپل بابا دازادی خوشالی یې ولمانځله، لږ موده وسوه چې دریو واړو زامنو یې په یوه پله دکراچې په بنوري ټاون مشهوره مدرسه کې دنبوی وراثت پګړی پرسر او له دیني زدکړو څخه فارغ سول دقاري صاحب شهید دغه ارمان هم پوره سوکوم چې په زندان کې هم ددغو دریو واړو بچیانو په اړه ورسره وو.له دي وروسته بیاهم شهید قاري صاحب ندی ستړی سوی او بیا په خپله جهادي مبارزه لاس پورې کوې یو ملګری وایي: ماورته وویل لږ وخت څه ارام وکړه کورنی،قریبان او بچیان هم درباندې حق لرې بیا به خپل کارونه شروع وکړې،ویلي سمه ده خو چې کله نوموړی یوجهادي سفرسر ته رسوې بیاراځې او زه خبرېږم حیران پاته سوم چې داسې ژردې بیاځنګه خپلو کارونو ته ملاوتړله ویلي مولوي صاحب زه کې مې لمبه وه. نو دغه ملګری یې وایې چې

زما ورسره ۲۱ کاله دملګرتیا وسول په داټول وخت کې یې یو ورځ داسې ندي ویلي چې زه نور ستړی سوم بس په کورکښېنم.

په ۲۰۱۷ء کال کې چې کله نوموړی بیا په خپل جهادي مقاومت لاس پورې کړ داسلامي امارت لخوا یو ځل بیا دسپین بولدک ولسوالۍ لپاره دنظامي مسؤل په توګه وټاکل سودغه کال یې بیا دښمن د ارامې خوب ته ندی پرې ایښۍ خپل کارنده بریدونه یې وربانـدې ترسره کول،دروان کال۲۰۱۸ء کې یو ځل بیا داسلامي امارت لخوا دسیاسي کمېسیون غړیتوب هم ورکول سو چې په دې ترڅ کې نوموړي څو ځله له هېواده بهر سفرونه هم کړي وه او لاسته راوړني هم دځان سره لرلې،ددې سره سره دکندهارولایتي کمېسیون لخوا دځلورو ولسوالیو لپاره دنظامي کمېسیون غړۍ وټاکل سو ترڅنګ یې دکندهاربندتیمور، دبولدک ناوي په سیمه کې هم خپل نظامي فعالیتونه ترسره کول.

شهکاري: دشهیدقاری صاحب ژوند له شهکاریو ډک وو،دهغو له جملې څخه یوه شهکاري داهم ده چې کله نوموړی په ۲۰۰۹ء کال کې دبولدک ولسوالۍ نظامي مسؤل وو هغه

وخت یې دناوي په سیمه کې دبوشکي په واسطه یو امریکایي زغره وال ټانګ تخریب اوپکې ناست ټول اشغالګر سره له یو لوړرتبه امریکایي د دوزخ کندې ته ورټېل وهل،اشغالګرو ته قاري صاحب له همدې وخته تر تعقیب لاندې وو څکه دوئ هغه وخت دهغه[بوشکي] ټوټې راجمع کړې او په خپلو عصري ماشینونو یې ددغه بوشکي اصلي کارکونکۍ معلوم کړئ وو،کله چې قاري صاحب د باګرام له زندانه خوشې کېږي دباګرام اډې مخې ته له کابل څخه دملي امنیت یو دتورو شیشو والا موټر راځي او قاري صاحب ته وایي چې تا موږ کابل ته وړو له هماغه ځایه دې خوشې کوو قاري صاحب قیصه کوي چې کله کابل ته یې راوړم یو ځای کې کښېنولم چې ګورم یوه امریکایي ښځه راغله دا دهغه لوړرتبه امریکایي مېرمن ده چې خاوند دماین په چاودنه کې خپل ژوندله لاسه ورکړئ وو، له امریکا څخه یې زما په نامه یوه پاڼه راخېستې وه،ماته یې وویل چې دغه پاڼه وګوره پدې کې موږ هغه شواهد لرو کوم چې ستاپه لاس دغه ماین جوړ سوئ او بیا په مځکه کې ښخ سوئ او چاودنه رامنځته کړې او زما خاوند خپل ژوندله لاسه کې ورکړئ نو زمادخاوند اصلي قاتل ته یې قاري صاحب وایي چې ماوچ کلک انکار وکړ آخر ښځه په ژړا سوه او ویل چې اوس ته مالخوا معاف یې وروسته یې یو افغانۍ درباري مُلاراته راوست هغه جُبّه هم له ځانه تاو کړې ماته دنصیحت په ژبه ګویان سوراته یې ویلي نورله دغو کړنو لاس واخله او راسه دخپل دولت ترڅنګ ودرېږه،قاري صاحب ته

هغـه پانـه پـه لاس کـې ورکـړه او رخصت يې کړو.

همدارنګـه يـو بـل ملګـرئ قيصه کوي چې له بنده مخکې دوه تنه فدايان کابل تـه راوستل زه هـم ورسره يې روان کړم چې ګورم يـو هوتـل تـه ورغلـو هلتـه پـاس خارجيـان هـم اوسيدل ډوډی مـو وخوړه بنه پـر طبيعت يـې ساحه وکتل او فدايان ملګري هم ورسره وو چې هغوی مانه پيژندل قـاري صاحب وويل تاسو دلته انتظارسئ زه بيرته راځم مونږ انتظارسو ورتـه کله چې قاري صاحب راغلی مونږ تـه يـې وويـل راځی يوکورکې مـو شپه وکـړه دشـفي مهـال ويـده يـم چې قاري صـاحب زمالـه رخصـت پرته وتلئ دملګرو سـره او نـامعلوم لورې ته تللئ سهارسـو چې ګـورم همآغـه مېلمسـتون تـه دوه کسـه فـدايان ننوتلې کـوم کې چې مـونږ ډوډی وخوړه هلته يې موجودټول خارجيـان وژلـي او دوی دواړه هـم دشـهادت مقـام تـه رسيدلي،قاري صاحب لکه پيرئ ژونديئ له ساحي څخه ووت،دغه دوه ميراني يې په ژوند کې لويې لاسته راوړنې وي.

#شهادت_يې: شـهيدقاري صـاحب تقبلـه اللـه د لـوی اختـر وروسـته دمشـرانو د هـداياتو سـره سـم لـه خپلـه کـوره دخپـل دوي مياشـتنې نوبـت لپـاره دميونـد ولسوالی طرف ته روان سـو وخـت يـې پـوره سـو دبيرتـه راتـګ لپـاره تابيـه نيـولې وه دمابنـام دلمانځـه وروسته يې په خپل موټرکې ديوه بـل ملګـرې سـره دميوندولسـوالی څخه حرکت وکړ دشپې مهال چې دغـــــورک ولسوالی،وبنـــــتان کاريزسـيمې تـه ورسـيد يرغلګـرو اوغلامانو يې په ګډه سره سيمه کې دچاپې طياري کنبـولې وي او دده دموټر دراتـګ انتظـاريې کاوه کله چې قـاري صـاحب دچـاپې سـيمې تـه رسـيږي دوښـمن دخپـل توپـک شفيلی دځوانې مرګ شـهيد دموټر خواتـه اړه وي اوموټرپـه مرميـو غلبيـل کـوي،او نورقـاري صـاحب دتل لپاره دخپل سنګر اوهمسنګرو سره مخه ښه کوي،نحسبه کذٰلِک والله حَسِيبه.

شهيدقاري صاحب تقبله اللـه ترشا دوي کونډې نهه اولادونه چې له هغو څخه درې زامن عالمـان او کشرزوی يې لا دتعليم اوتعلّم په برخه کې قرارلرې پريښـوول،همدا رنګه شهيدقاري صاحب تقبله اللـه د سنګرترخنګ حُجره اومحـراب هـم سـاتلي، دسـنګرترخنګ يـې دخيرالمدارس په نامـه يـوه مدرسـه هـم ترشـا پريښـوده چې هغـه کې لسګونه شاګردان زدکړې کوي.

روح يـې ښـاد اويـادېي تـل ترتله ...

جنسي ځورونې !
دچا سوغات دی؟

ارمان

رښتیا چې دغرب نه نازلې شوې دیمکراسۍ زمونږ ټولنې ته دشرم او خجالت نه ډک پیغورونه وبښل او په راتلوېې د حیا، عزت او ابرو ساتنې جنازې ووتې او په هرلور بې حیایې، رسوایې،بې پرده ګې او بې عفتې براوج رسیدلې.

افغانستان هغه هیواددی چې له پیړیوپیړیو نه یې ولسونو، قومونو، پرګنو او خلکو دخپل ناموسونو، عزتونو او ابرو ساتلو لپاره بیدریغه قربانۍ او تاریخي سرښندنې ور کړې

افسوس اٰن دهغومیړنیو او باتورو افغانانو په ټاټوبي کې دبیحایۍ او بیغیرتۍ کلچر دومره خوراوپه عامیدو دی چې له سره څوک دپردیو سړیو سره دخپلو لوڼو او خویندو په ګرځیدو راګرځیدو ، په اړیکو لرلو اوآن خارجي هیوادو ته په سفرونو کولو او هلته په یوځایي استوګونه او اوسیدو هم کوم باک، شرم، عار یا خجالت نه محسوسوي په دې لړ کې ګڼ مثالونه شته او په اړه یې ډیرڅه لیکل کیدای شي خو دلته تاسوته دبي بې سي روستی رایور وړاندې کوو او بیا په اړه یې دخپلو هیواد والو سره څو لنډې جملې شریکوو او پوښتنه کوو چې داو لس لوڼه په کومه خوا بیول کیږي؟ او څوک یې بوځي؟

بې بې سي لیکي: دافغان پوټبال فدراسیون پر شځینه لوبغاړو دجنسي ځورونو وروسته ددغه فدراسیون دمشر په ګډون دپنځو غړو دندې ځنډول شوي دي دلویې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي دبي بې سي نصیر بهزاد ته ویلي: دپوټبال دفدراسیون مشر کرام الدین کریم، د سکرتر جنرال مرستیال، دګول ساتونکو د کمیټې مشر او همدارنګه د ولایتونو د اړیکو مسؤول دندې یې ځنډولې ښاغلي رسولي دا هم ویلي: ددندو ځنډول دهر اړخیزې او بې پرې څیړنې وروسته شوې دي.

پوښتنه دا ده چې اخر دغه پېغلې انجونې به خامخا دچا لوڼه او خویندې وي! ولې دډالرو نشې دهغو خلکو ضمیرونه دومره وژلي چې په دغه ډول انکشافاتوبیرون ته راوتو کوم عار او خجالت محسوس نکړ، نه کومې محکمې ته عارضان شول او نه یې دغربي نظام نه دبغاوت لپاره پښې لوځې کړې؟ ښکاري ننیو افغانانو خپل دیني او ملي غیرت په لاسه ورکولو سره دغه ډول ځورونې عادي انګیري که یې شرم درلودای لومړۍ خو باید هیڅ کورنۍ به خپلې لور او خورته اجازه نه وه ورکړې چې هغوی دپردیو او نامحرمو نارینه وو ترڅار او نظارت لاندې په اوونیو او میاشتو بهرنیو هیوادونو ته سفرونه وکړي

په حقیقت کې دانجونو دلوبوټیمونو جوړولو او په هغوی باندې دپانګونې هدف دادی چې په افغاني ټولنه کې فحاشې، لوڅتوب او بې پرده ګې عامه کړي، ددې لپاره دمختلفو لالچونو او حیلو جوړولو دلارې ځواني انجونې دعوتوي او پکې د ګډون اسانتیاوې برابروي، دلوبو لپاره ځانګړې تنګ او چوست داسې کالي یا یوني فارمونه ورکوي چې په هغو کې یې دبدن

دننه جوړښتونه لیدل کېږي او کتونکي ځانونه مائل کوي اوپه ټوله کې غرض یې دغرب پشان جنسي بې لارې عامول او په اړه چانسونه او فرصتونه برابرول دي، ددې لپاره دمیرمنو دلوبو ځانګړې لوبغالي جوړشوي، مختلف ټیمونه او کلبونه رامنځته کړي چېرې چې یواځې ځواني انجونې منل کېږي او دفدراسیون لخوا په ملي ټیم کې هم دغوره کولو لپاره دانجونوځخه درشوتونو غوښتلو سربیره دهغوی حسن او ښکلاهم کاري رول لري، هغه انجونې چې ترنورو زیات ښایست ولري هغه په اساني کولی شي دملي ټیم غړیتوب ترلاسه کړي اوبیا په دغسي ځایونو کې جنسي خوروني او بد اخلاقي کومه پټه یا پناه خبره نده او عیب او عار ګڼل کېږي، دفدراسون دمشرانو نیولي تر اجیرانو او ساتونکو ټول په دغو خورونو او بد اخلاقیو کې ښکېل وي

په دې علاوه دديمكراسي بل نحوست دادی چې په ښارونو، دولتي ادارو او دلوړو زده کړو په مؤسسو همدا راز دبهرنیو انجوګانو په دفترونو کې د اداري فساد ترڅنګ اخلاقي فساد په څو واره زیات دی او یکې دپارلمان وکیلان، دکابینې وزیران، دپوهنتونو استادان او د دولت لوړپوړي او ټیټ پوړي ماموران ککړ دي زکه چې په کوم نظام کې چارواکي دخدای تعالی نه ډار ونلري، دالله تعالی نظام ته ژمنتیا ونلري هلته بیا دغسې بدمرغه پیښې تکراریدل اویا پیښیدل لازمي خبره ده او ترڅو چې دغه منفور کفري نظام سلطه ولري مخنیوی یې هیڅ ممکن او اسان ندی، په کومه ټولنه کې چې شراب داوبوپشان خرڅلاو ولري هلته جنسي خوروني پیښیدل لازمي خبره ده له کله نه چې امریکایي یرغلګر راغلي ویل کېږي دهغوی پوځي هډو او مرکزونوته هرماښام دتورو هندارو په موټرونو کې ډلي، ډلي انجوني بیول کېږي او هم دا راز دبهرنیو هیوادو څخه په لوی شمیر انجوني دکابل لوکس ، او مجللو هوټلونوته راوستل هم دروغندي باید اومنو چې موږ اوس دیو قوم په توګه دکوم اخلاقي زوال ښکار اخیستي یو هغه په تاریخ کې ساری نلري او راتلونکې پایلې به یې خورا شرموونکې او هیښوونکې وي پکار دی افغان ملت ویښ شي او نور خپل مجرمانه سکوت پای ته ورسوي داوسني امریکائي رژیم چارواکې نه یواځې په اداري فساد د فهرست په سرکې ځای لري هم داسې په اخلاقي فساد او فحشاوو کې هم ډیر بد او دخجالتونو څخه ډک داستانونه لري، په هر ځا کې چې لږ غیرت هم وي هغه دخپلې لور او خورلپاره دغسې دشرم نه ډک سرنوشت نه غواړي چې هغوی دي بهرنیو هیوادو ته بیول کېږي او هلته دي بیا دجنسي، هوسونو دتسکین لپاره کارول کېږي یواځې داردن پیښه نده چې رسنیو لخوا راپورته شوه یاپه اړه یې رسنیو کې دخلکو لخوا مخالف غبرګونونه راپورته شول بلکې په سلګونو نورې پیښې تراوسه پټې دي او بیرون ته یې معلومات ندي راوتلي دا ټول د غیر فطري دیمکراسي بدې پایلې دي چې ټولې نړۍ ته یې افغانان وشرمول غربیان غواړي په دغسې فحشاوو سره افغانان دخپل دین او ملي ارزښتونو څخه لرې کړي او غواړي دغرب پشان بیحیا اولنډ غر کړي.



د زماني امام ابوحنيفه؛

مولانا رشيد احمد ګنګوهي - رحمه اللّٰه -

هغه دعلمي او عملي يون ترهاغه بريده رسيدلی و چې دخپل پير د محدثينو سرخېل، ديوبندي تحريک دريم سرلاری او ثاني ابوحنيفه پر لقبونو ونازول شو.

محمدالياس «فاتح»

زوکړه: داسلامي نړۍ سترعالم، محدث، فقيه ، مصنف ، امام ، روحاني، مرشد او قطب، سياسي او مجاهد شخصيت مولانا رشيداحمد ګنګوهي - رحمه الله- د مولانا هدايت احمد خوی، د قاضي پير بخش لمسی، د قاضي غلام حسن کړوسی، د قاضي علام علي کودی د ابن قاضي محمد اسلم الانصاري الايوبي پرکتی دی . خپل نوم يې رشيد احمد، کنيه يې ابو مسعود او نسبت يې " الانصاري، الحنفي، الرامپوري، الګنګوهي" دی، چې د نسب لړۍ يې مشهور صحابي حضرت ابو ايوب انصاري -رض- ته رسېږي؛ د چا په کور کې چې دهجرت پرمهال د اسلام سترپېغمبر - صلی الله عليه وسلم- ميلمه شو.

زوکړه: نوموړی د ۱۲۴۴ هـ کال د ذوالقعدې په شپږم د شنبې په ورځ دڅاښت پرمهال (۱۸۲٦م) د هندوستان د اترپردېش ايالت د سهارنپور ولسوالۍ د ګنګوه سيمې دسرای محلې دمولانا هدايت احمدؒ په درنې علمي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې. د هغه اصلي وطن رامپور دی، مګردهغه نيکه قاضي پير بخشؒ په « ګهنګوه » کې استوګنه غوره کړې وه.

ابتدايي مراحل: دمولانا ګنګوهيؒ پلار د امام شاه ولي اللهؒ له علمي حلقې سره تړاو درلود، او په تصوف کې د شيخ غلام علي مجددي دهلويؒ خليفه وو. په ۱۲۵۲هـق ۱۸۳٦از کال د ۳۵ کالو په عمر وفات شو،چې په دې وخت کې رشيد احمدؒ اووه کلن و. د پلار له مړيني وروسته يې روزنه د قاضي پير بخش او د ده ماما مولانا عبدالغنيؒ چې ده ته د پلار په څېر ګرځيدلی و؛ پر غاړه واخيسته.

زده کړې: مولانا ګنګوهيؒ په کوچنيوالي کې د قران کريم زده کړه له خپلې مور څخه وکړه، لومړني کتابونه يې له خپل ماما مولانا محمد تقي، مولانا ميا بخشؒ ، مولانا محمد غوثؒ او مشر ورور عنايت احمد څخه لوستلي وو. د صرف او نحوې کتابونه يې له محمدبخش رامپوري وويل، د چا په تشويق چې دی په ۱۲٦۱ه.ق ۱۸٤٥از کال د ۱۷ کلونو په عمر د لا زياتو علمي زده کړو ترلاسه کولو په موخه ډيلي ته لاړ، او هلته يې د محمد قاسم نانوتويؒ سره يو ځای د مولانا مملوک علي نانوتويؒ په درس کې ګډون وکړ. همدلته يې د مولانا مملوک عليؒ سره بيره له شاه احمد سعيدؒ ، مفتي صدرالدينؒ او قاضي احمد دينؒ سره تفسير، فقه، اصول فقه، معاني... فنونو علوم تکميل کړل او له محمد قاسم نانوتويؒ سره يو ځای د احاديثو لويې دورې (صحاح سته) د لوست په پار يې شاه عبدالغني مجدديؒ ته مخه کړه او دلته ډيلي کې تر ۴ درسي کلونو تېرولو وروسته بيرته خپل ټاټوبي ګنګوه ته راستون شو.

تدريس: کله چې مولاناؒ له ډيلي راستون شو، دا مهال يې عمر ۲۱کاله و، او د خپل ماما او استاد مولانا محمد تقيؒ له لور سره يې واده(نکاح) وکړ، همدلته استوګن شو او په تدريس يې لاس پورې کړ، چې د لومړي ځل لپاره يې صحاح

سته تول کتابونه په یو وار تدریس کړل. او دتدریس په جریان کې یې تر څوارلس ځله زیات هدایة تدریس کړی وه. د مولاناګنګوهي د علمي غښتلتیا او شهرت مزي په لنده موده کې تر لرې لرې سیمو وغځیدل. نوموړي ۴۹ کاله تدریس وکړ، د عمر په آخري ورځو کې مولانا د سترګې دید ډېر کمزوری شو همغه وه چې د تدریس دړه یې پورې کړه. دا چې دهغه دژوند هره شیبه له علم او عمل سره پیبلې وه، هماغه وه چې دخپل وخت دفقهي او احادیثو د لوی امام په توګه وپېژندل شو، د تاریخي هستو په استناد هغه ته د خپل پېر د نومیالیو علماوو لخوا د شیخ الاسلام والمسلمین، سندالاصفیاء الکاملین، مجدد العصر.. لقبونه ورکړل شول. او په تفقه کې دهغه د لوړ مقام پر بنا د مولانامحمدقاسم نانوتوي - قدس سره- له لوري د« ابوحنیفه عصر » لقب ورکړل شو.

تصوف کې لاسیوی: دعلمي پرمخیون ترڅنګ دروحاني څواک ترلاسه کولو په پار دامام الطائف حضرت حاجي امدادالله مهاجر مکي -رحمه الله- دملاقات لپاره تهانه بهون ته لاړ. هلته یې د حاجي صاحب -رحمه الله- سره په تصوف کې بیعت وکړ او د ځلوېښت ورځو وروسته یې چې خپل وطن ګنګوه ته د ستنیدااراده وکړه ؛ نو په تصوف کې دده دپرمخیون پر اساس حاجي صاحب -رحمه الله- د خلافت او بیعت کولو اجازه هم په دې الفاظو ورعنایه کړه: "اګر تم سے کوئی بیعت کی درخواست کرے تو بیعت کرلینا"

شاګردان یې: مولانا ګنګوهي – رحمه الله- لا د طالب علمی پرمهال طالبانو ته کتابونه تدریسول، دتدریس په نړۍ کې د هغه لومړنی شاګرد ملا محمود -رحمه الله- (د دارالعلوم دیوبند لومړنی استاد) او آخرنی شاګرد یې د شیخ الحدیث مولانا زکریا -رحمه الله- پلار مولانا یحيٰ- رحمه الله- و.کله چې مولانا ګنګوهي خپل پلارني وطن ګنګوه ته راستون شو، دلته یې د مولانا عبدالقدوس ګنګوهي خانقاه درې سوه کاله بعد یوځل بیا اباده کړه. مولانا ګنګوهي په دې خانقاه کې شیخ الهند محمود الحسن (ددارالعلوم دیوبند مهتمم) ، شاه عبدالرحیم رائپوري ، شیخ الحدیث مولانا خلیل احمد سهارنپوري ، مفتي اعظم عزیزالرحمن ، مولانا مفتي کفایت الله دهلوي ، محدث العصر شاه انورشاه کشمیري ، باني تبلیغ مولانا محمد الیاس کاندهلوي ، شیخ العرب و العجم مولانا حسین احمد مدني او داسې په سلګونه مشائخ یې روحاني تربیه او تر درې زرو زیات پیاوړي عالمان یې اسلامي امت ته په میراث پرېښودل.

تأثر: مولانا عبید الله سندي وایي: دمولاناګنګوهي څخه مې په شاګردۍ کې خورا زیاته ګټه پورته کړې، دهغه دصحبت نتیجه ده چې ما دهغه مسلک په داسې شان اخیستی چې د یوې ذرې انحراف خیال هم، نه رامخته کېږي. دهغه له برکته مې علوم؛ فقه، سلوک ومعرفت، عربي او قران وسنت کې لوړ عقلي مباحث او مبادیات ، په اصولو کې کافي مهارت حاصل شو دی. زما په یقین حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي د حنفي مسلک د لوړې پوړۍ امام او مجتهد دی.

سیاسي او جهادي مبارزه: په ۱۸۵۷م کې په هندوستان کې د انګرېزانو پر خلاف عمومي جهاد اعلان شو. مولانا ګنګوهي -رحمه الله- د خپل هم سبق (مولاناقاسم نانوتوي) او شیخ (حاجي امدادالله مهاجرمکي) سره یو ځای په دې جهاد کې ګډون وکړ. حاجي صاحب -رحمه الله- امام ، مولانا نانوتوي -رحمه الله- سپاه سالار او مولانا ګنګوهي -رحمه الله- قاضي مقرر شو. متأسفانه چې دوخت او سیمې مسلمانانو ماتې وخوړه؛ انګرېزانو د بدل اخیستلو په پار هر عالم رنګې سړی دار ته پورته کاوه. مولانا ګنګوهي چې په دې جهاد کې قاضي و، ونیول شو. دخدای تعالی په نصرت د انګرېزانو له وحشي پنجو بېرته سلامت را ووت.

د دوو سترو ترېوالو مدرسو سرپرست په توګه: مولانا ګنګوهي له یوې مخې داسلامي امت په تاریخ کې لویه کارنامه دا ثبت کړي چې د نړۍ د دو عظیمو مدرسو (دارالعلوم دیوبند او مظاهرالعلوم سهارانپور) بنسټ دېره یې ایښي ده او له بله پلوه یې دا نه هېرېدونکی عظیم کردار ترسره کړي دي چې کله (۱۲۹۷هـ) کې د دارالعلوم دیوبند مشر مولانا

محمدقاسم نانوتوي او مظاهرالعلوم سهارنپور مشر مولانا احمد علي محدث سهانپوري دواړه وفات شول او دا کال د مدارس الهند لپاره عام الحزن و؛ نو مولانا ګنګوهي تر مرګ پورې د دواړو مدرسو دمشر په توګه پاتې شو.

ښکلوونکي خصلتونه: تقوىٰ: مولانا ګنګوهي د تقوىٰ تر وروستي بریده رسیدلی و، دهغه خصوصي شاګرد مولانا علي رضا - رحمه الله- وايي: "په ټول ژوند کې مې د مولانا ګنګوهي رحمه الله یو فعل هم د سنتو خلاف نه دی لیدلی."

نبوي مینه: مولانا ګنګوهي د مدني جانان په سپیڅلې مینه کې دومره ډوب شوی و، چې دجانان دوطن خاورې، بوټې او هوا ګانو ته یې خورا زیات احترام درلود. هغه هیڅکله دمدینې منورې د خورما زړی نه دی غورځولي. نوموړي به ویل :خلګ د زم زم د اوبو ډبې او د مدني خورماوو زړي غورځوي، افسوس دا فکر هم نه کوي چې دا د مدینې منورې او مکې معظمې هوا(شمال) وهلي ". دیادونې ده چې مولانا ګنګوهي درې واري حج ته تللی و چې په یو سفر کې ورسره مولانا محمد قاسم نانوتوي، مولانا محمد یعقوب نانوتوي ، مولانا رفیع الدین مهتمم دارالعلوم، شیخ الهند ، حکیم ضیاء الدین او د مولانا مظهر نانوتوي په څېر درنې هستۍ ملګرې وې.

ځان اصلاح او متقابل احترام: د بریلویانو د ډلې مشر احمد رضا خان برېلوي چې د دیوبند د اکابرو علماوو په تکفیر اوکنځلو کې له پولې اوښتی و، اوبیا تر ټولو زیات هدف یې مولانا ګنګوهي ګرځولی و، یو ورځ مولانا ګنګوهي خپل شاګرد مولانا محمد یحی صاحب ته وویل چې د هغه تصانیف راته راوړه وه، مولانا یحی وفرمایل: حضرت په دې کې خو یې ډېر کنځل لیکلي دي، مولانا ګنګوهي ورته وویل: که کنځل وي هم راته وه یې لوله، کېداشي یو معقوله خبره یې لیکلې وي اوموږ به یې له امله خپل ځان اصلاح کړو.

تواضع او خاکساري: داولیاءالله په خاصو صفاتو کې یو صفت تواضع ده، دا هغه ځانګړی صفت دی چې دځه په بدل کې الله تعالی خپل عاشق دپاره ټولو څمکې اوسیدونکو په زړونه مسخر کوي، او بې بریده محبت ددوی زړونو ته کورګي جوړوي، من تواضع لله رفعه الله ؛ ددې صفت رنګ دمولاناګنګوهي په دې کیسه کې کتلی شئ:

مولانا ګنګوهي یوځل دحدیثو درس لوستو، چې باران راغی ټولو طالبانو په بېړه کتابونه رواخیستل او ننوتل،مګر مولانا ګنګوهي دټولو طالبانو څپلې راغونډې کړې او په خپل څادر کې یې واچولې، چې له باران یې وژغوري ، طالبانو چې دغه حالت ولید نو ډېر پښېمانه او حیران شول، ده ورته وویل:« دا څه لویه خبره ده؟ دستاسې خدمت زما دنجات باعث دی، ددینې طالبانو دپاره په سمندر کې ماهیان، په سمځو کې میږیان دعاګانې کوي، او فرښتې دستاسې قدمونو لاندې وزرې غوړوي، او تاسې درسول الله – صلی الله علیه وسلم – میلمانه یئ!»

ذکاوت او ذهانت: الله تعالی دټولو انسانانو شکلونه او صورتونه مختلف پیدا کړي دي، همداڅېر دټولو ذهنونه یې هم مختلف او دغور، فکر او سوچ له زاویې هم جلا جلا دي، ذکاوت او ذهانت لوی خدایي نعمت دي، علامه ذهبي امام اعظم ابوحنیفه - رحمة الله علیه- دنړی په ټرټولو لویو کاوت او ذهانت خاوندانو کې شمار کړی، په دې الفاظو شمار کړی "کان من أذکیاء بنی آدم" مولانا ګنګوهي چې پر ذهانت اوفطانت یې علماوو ویاړ کاوه، او په خاصه توګه دفقهې او احادیثو لوی امام یې باله ، نوموړي به دمعقولاتو پیچلي کتابونه؛ صدرا، شمس بازغه، میرزاهد، قاضي او نور... داسې په یادو لوستل لکه قاري چې منزل لولي،په درست ډیلي کې دمولاناګنګوهي او مولاناقاسم نانوتوي رحمهماالله دذکاوت او ذهانت ستاینې کېدلې، خدای داسې زړه او دماغ ورعطا کړي وو چې لوی لوی جماعتونو به دده په څېر پېچلېتیاوې نه شوې محسوسولی. دلوی بصیرت سربېره په راه سلوک او طریقت کې هم ممتاز شخصیت و، دامت لوی علما او اولیاء دده علمي او عملي مقام او ایماني فراست ته په غوڅ نظر قایل وو. په دې اړه یې خورا زیاتې زړه راښکونکي خاطرې او واقعې دتاریخ پاڼو کې ثبت شوي، هماغه وه چې مولانامحمدقاسم نانوتوي رحمة الله

دخپلې زمانې دامام ابوحنيفه لقب ورکړ. او علامه انورشاه کشميري –رحمة الله– دلوړې پوړې محقق علامه شامي ته "فقيه النفس" مرتبې ورکولو دپاره نه ده تيار شوی، خو حضرت ګنګوهي ته يې د "فقيه النفس" لقب ورکړی دی.

د ديوبند مسلک لاربنود په صفت: کله چې مولانا محمد قاسم نانوتویؒ له نړۍ سترګې پټې کړې نو مولانا ګنګوهي دسرپرست په ويژندل شو، او ددارالعلوم دنصاب په تيارولو کې دهغه اهم کردار اوسيدلی، چې له همدې کبله دمولانا ترخنګ ګنګوهي هم د« مسلک دار العلوم ديوبند» پيشوا او لاربنود په توګه پاتې شو. دحضرت شاه اسماعيل شهيد دتصنيف ايضاح الحق په استناد ؛ اميرامدادالله رح او مولاناقاسم نانوتوي را وروسته د ديوبندي جماعت ستر امام حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي تېر شوی.

تصانيف: له مولانا ګنګوهي -رحمه الله- څخه زيات تصانيف او افاداتي کتابونه پاتې شوي دي، يوازې په علم فقه او تصوف کې يې تر۱۴پورې کتابونه ليکلي، په ټولې توګه يې مشهور کتابونه دادي:

- ✓ فتوى رشيديه
- ✓ ردالطغيان في اوقاف القرآن
- ✓ قطوف دانيه
- ✓ زبدة المناسک
- ✓ هداية الشيعه
- ✓ هداية المعتدي
- ✓ سبيل الرشاد
- ✓ رساله تراويح
- ✓ لطائف رشيديه
- ✓ تصفية القلوب
- ✓ (الکوکب الدري شرح جامع ترمذي)

رحلت: مولانا رشيد احمد ګنګوهي -رحمه الله- علمي ډګرونو ته تر زياتو خدمتونوورورسته د ۱۳۲۳ ه دجمادي الثاني په ۹ ، (اګست ۱۱، ۱۹۰۵ء)دجمعې په ورځ دجمعې تر اذان وروسته له دې نړېدونکې نړۍ څخه دتل لپاره سترګې پټې کړې. انالله وانا اليه راجعون. او په خپل پلارني ټاټوبي (ګنګوه) کې خاورو ته وسپارل شو. نورالله مرقده.

اخذليکونه:

ماہنامہ دارالعلوم ديوبند، شماره۹، جلد: ۹۰ ،شعبان۱۴۲۷ ہجری مطابق ستمبر۲۰۰٦ء

ماهنامه دارالعلوم ديوبند، شماره ۹-۱۰ ، جلد: ۹٤ رمضان - ذيقعده ۱٤۳۱ ه مطابق ستمبر - اکتوبر ۲۰۱۰ ء

جامعه فاروقيه کراچی - ويب سائٹ

ارواح ثلثہ- کتب خانہ تعيميہ ديوبند- حکيم الامت مولانا اشرف علی تهانوي ليکنه

تذکرة الرشيد مطبوعہ دارالکتاب ديوبند - مولانا عاشق الہی ليکنه

مولانا رشيد احمد ګنګوہی- شيخ الہند اکيڈمی ديوبند،

پچاس جليل القدر علماء – مولانا اکبرشاه بخاري ليکنه

اکابر ديوبند کيا تهے؟ مفتي تقي عثماني ليکنه

مشاهير علماء دارالعلو ديوبند- مفتي ظفيرالدين ليکنه

علماء ديوبند کے واقعات اور کرامات - حافظ مؤمن خان عثماني لکنه

ديوبند کی بانی شخصيات - زاہد الراشدي ليکنه



وقتی حکومت به قاتل مردم خود تبدیل میشود

دوکتور م ، عثمان تره کی

جنگ استخوان سوز جاری کشور در فضای بی تفاوتی صد ها سازمان ملی، بین المللی، حکومتی و غیر حکومتی مدعی دفاع حقوق بشر، هر روز از مردم ما قربانی میگیرد. حجم جنایات جنگی این نبرد نزدیک است ریکارد جنایات تهاجم شوروی به افغانستان و یا جنایات اسرائیل در حق مردم فلسطین را بشکند. قربانیان تازه جنگ بدنبال نابودی دربست یک قریه در ولسوالی شیگل ولایت کنر اطفال، زنان و مردم ملکی است.

جنگ جاری در افغانستان دو جناح داخلی و خارجی دارد.

نویسنده درین یاد داشت مختصر مکث کوتائی به عاملین افغانی این جنگ شبه ژنو ساید که کتله بزرگ پشتون های دو طرف خط دیورند را نشانه گرفته است میاندازد. توجه به جنایات جنگی قوای اشغالگر در افغانستان در محتوای تغییر در نظام تقسیم قدرت در سطح بین المللی باید مطرح شود. عجالتاً دست هیچ مرجع بازخواستی به یخن کاکا سام که با غرور ارزش ها را در عرصه حقوق و اخلاق سیاسی به لگد زده راهی است ، نمیرسد.

نویسنده از سال ۲۰۰۱ به این سو از طریق نوشته ها و مرکه ها به کرات به این مطلب که قتل عام پشتون ها در رأس اجندای ستراتژیست های غربی قرا دارد، سیگنال های هوشدار دهنده و در عین حال بی نتیجه به آدرس وجدان های خفته، بیدار و نیمه بیدار فرستاده است.

ائتلاف نظامی بین المللی به رهبری امریکا به قصد کنترول بر اوضاع و نهایتاً دستیابی به نتیجه ملموس از کشتار کتلوی، چندین شیوه را مورد استفاده قرار داده است. از جمله:

-زمینه سازی اختلافات قومی

-انحلال کدر های با تجربه اردوی ملی و اکمال خلأ ناشی ازان توسط باند های اجیر وابسته به تنظیم ها

-حفظ یک اردوی ضعیف، تحت کنترول و فاقد سلاح ثقیله تهاجمی

-ایجاد ملیشیای محلی، پولیس محلی و انتقال داعش از سوریه و عراق به افغانستان

-به فرسایندگی کشیدن جنگ تحت کنترول با طالبان

-ایجاد زمینه های نزاع قومی در بطن نظام حکومتی.

-مداخله در عزل و نصب موره های حساس در نظام به منظور اطمینان از وفاداری آن به حفظ منافع قوای مهاجم.

قوای ائتلاف نظامی بین المللی از انبوه تکتیک های بکار گرفته شده در جنگ افغانستان، بیشتر روی زمینه توسعه منازعات قومی حساب کرده است. چه تهداب

کشیدگی های قومی از زمان تهاجم شوروی به افغانستان استوار باقی مانده بود که میباید روی آن کار بیشتر صورت میگرفت.

کانفرانس بن روی همین تهداب، نظام مبتنی بر سهمیه قومی را شکل داد.

تقسیمات کرسی های حکومتی بر مبنای صلاحیت مسلکی در حاشیه لغزید.

بعد از کانفرانس بن جدال قومی از سطح مطبوعات، مدیا، فیسبوک، کوچه و بازار در عمق تشکیلات حکومتی راه یافت.

جنبه رسمی، تشکیلاتی و سازمانی اختیار کرد. رخنه عصبیت های قومی در اورگان های امنیتی از جمله اردو، وزارت دفاع را به دلیل دسترسی به ساز و برگ نظامی به افزار خطرناک تصفیه قومی بدل کرد. نفوذ گرایش های قومی سلسله مراتب اردو را زیر سوال قرار داد.

قوای مسلح امروز افغانستان محصول چهل سال جنگ است که قوت های مغرض خارجی در بطن آن نطفه کثیف عصبیت قومی را جا داده اند.

جنایت جنگی شیگل را که سلسله جنایات جنگی اردوی افغانستان در طی هفده سال علیه مردم است، نمیتوان بیرون از پروسه تصفیه قومی که قوای ائتلاف در رأس آن قرار دارد ارزیابی کرد.

بعد ازین همه انزجار و تأسف از جنایت مرتکب شده در شیگل میرویم به طرح دو سوال:

–آیا یک اردوی اجیر که تحت فرمان قوای اشغالگر قرار دارد و جنایات جنگی را به کریدت وطن پرستی خود حساب میکند، میتواند در افغانستان آینده داشته باشد ؟

–وقتی ما شاهد بیچاره و بیوسیله کشتار هم وطنان بیگناه خود توسط اردوی اجیر استیم، نقش قوماندان عمومی قوای مسلح در ارتکاب جنایات جنگی بالوسیله اردوی تحت فرمان چه میشود ؟ ظاهراً

ما میدانیم که قوای مسلح افغانستان از مرجع غیر افغانی سوق و اداره میشود و قوماندان عالی قوای مسلح لقب تشریفاتی است که برای ارضای خاطر یک مقام اداری فاقد اتوریته مورد استفاده قرار گرفته است. اما قانون باری که نافذ شد، به ظواهر و تشریفات سرو کار ندارد. جبراً و قهراً باید تطبیق شود.

ولسمشر به تکرار گفته است که « من قوماندان قوای مسلح افغانستان استم ». فرض کنیم ولسمشر در بیان این جمله به عادت همیشگی شوخی کرده است. چه همه میدانیم که ولسمشر صلاحیت صدور امر و نهی را بالای اردو ندارد. اما باریکه قانون صلاحیت قومانده بالای اردو را بوی سپرده است از جنایات ارتکاب شده توسط قوای مسلح از وی بازخواست میکند. من میترسم ازینکه در آینده کدام چپه شاخ که به شیوه شوخی ولسمشر آشنا نباشد، نامبرده را به استناد عبارت « من قوماندان قوای مسلح افغانستان استم » به گناه ناکرده (جنایات جنگی) مورد بازخواست قرار بدهد. وی را در برابر این سوال که در صورتیکه توان صدور امر و نهی و صلاحیت جلوگیری از ارتکاب جنایت بالوسیله قوای مسلح را نداشتی چرا استعفاً نکردی ؟ قرار بدهد.

به همه حال ! حکومت افغانستان و بصورت اخص اردوی اجیر به قاتل مردم بیگناه تبدیل شده است. جنایت شیگل نه اولین است و نه هم آخرین خواهد بود.با تأسف که با دوام عمر حکومت جنایات مشابه استمرار خواهد یافت.

«پایان »

۱۷/۱۲/۲۰۱۸

طالبان ولې

افغان حکومت سره خبرې نه کوي؟

لیکوال: سیف کاکړ

د شکایتو کمیسیون د لوری د رائی د باطلیدو اعلان او بیرته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د لوری د رائی د نه باطلیدو اعلان او یو د بل په ضد د دوی د خبرو لهجه او د الفاظو د استعمال نه د افغانستان د اوسنی حکومت سیاسی اوضاع ښه معلومیږی .

خبره د شکایتو کمیسیون او دټاکنو د خپلواک کمیسیون نه ده ، بلکې خبره د ارګ او اجرائیه ریاست ده، خبره د دوو معالفو دشمنانو ده ،خبره د دوو متقابل لوړو ده ، په تقسیماتو کی د شکایاتو کمیسیون اجرائیه ریاست ته رسیدلی دی او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ارګ ته رسیدلی دی ، اجرائیه ریاست چی کوم کاندیدان غواړی کامیاب کړی هغه ارګ نه منی او ارګ چی کوم کاندیدان غواړی کامیاب کړی هغه ارګ نه منی،

خلک په دومره چاودنو او سختو حالاتو کی راووتل او رایه یی ورکړه خو د شکایتونو کمیسیون بس صرف په څو دقیقو وینا کی هغه لغوه اعلان کړل ، چی څوک د رایه ورکولو په نیت راوتلی او ووژل شو اوس به لوی خدای ج ته حساب ورکړی ، لوی خدای ج به تری پوښتنه وکړی چی ته ولی داسی خلکو ته د رایه ورکولو لپاره راوتلی وی چی هغوی د وضعی قانون حفاظت کوی او وضعی قانون عملی کول غواړی په داسی حال هماغه کسان د الهی قوانینو څخه داریږی او د الهی قوانینو عملی کول نه غواړی ؟

نو یو داسی حکومت سره طالبان څنګه خبری وکړی چی یو ریاست دوه برخی سره موافقی نه دی ، یو یی رایی باطلی اعلانوی او سخته لهجه استعمالوی او بل یی وایی چی رایی صحیح دی ، او هماغوی هم سخته لهجه استعمالوی ، او په داسی حال کی چی دواړه وایی چی دوی د اساس قانون په مطابق فیصله کړی ، نو حکومت خپل اساسی قانون په یو کمیسیون نشی عملی کولی او ورته واضح هم نه دی نو بیا به طالب سره څنګه د اساسی قانون په رڼا کی بحث وکړی ،

۲-حکومت یو هزاره بدمعاش د علی پور په نوم ونیو او دری ورځی یی محبس کی ونشو ساتلی او بیرته یی د داره خوشی کړ ، د علی پور په مسئله کی د ملی امنیت ریاست (معصوم ستانکزی) او د ارګ د دوهم مرستیال سرور دانش اختلافات په دی موضوع کی له ورایه ښکاره کیده ، نو اوس حکومت چی د یو غل او رهزن بدمعاش په نیولو کی سره مؤافق نه دی نو هغه به د طالب سره په خبرو کی څنګه سره مؤافق وی.

۳-د ارگ سره په دری کیلومتری کی د شهرنو په مشهور بنار کی حکومت ایله په دوو ورځو کی وتوانید یو عادی کس د تمیم په نوم پس د ډیرو زاریو او د فهیم د زوی په منځګړیتوب ونیسی ، پوره یو ورځ ټول مؤسسات رخصت وو نو ایا ارګ د دی وس لری چی طالب غوندی لوی سیاسی او مخالف ګروپ سره خبری وکړی او بیا یی عملی کړی ؟ د تمیم د نیولو نه یوه بله موضوع هم ښکاره کیږی چی ارګ د عادی د یو کس د نیولو وس نه لری نو بیا چیغی وهی چی طالب ته ماته ورکووم او طلبان به ختموم اوس نوایا دا د ختدا خبره نه ده ؟

۴-قومندان نویدک یو عادی لوچک او غل یی پس د څو ورځو سخت جنګ او مقابلی سره ونیو او خدای خبر چی څومره به یی ورته په مخابری زاری ورته کړی وی چی خان په لاس راکړی چی په شرمونو وشرمیدو او خدای خبر چی کوم پټی معاملی به یی د قومندان نویدک سره کړی لکه عطانور سره چی یی وکړی او هغه به بیا خان په لاس ورکړی وی .

دا د حکومت حالت دی نو بیا د داسی بی واکه ، غریب ، بی چاره حکومت سره حکومت څنګه خبری وکړی ؟

په داسی حال کی چی د حکومت دوه کسان جدا جدا طیارو کی د جینوا غونډی ته ځی او په یوه طیاره سره مؤافقی ته نه رسیږی نو حکومت به څنګه د طالبانو په اړه مؤافقی ته ورسیږی ؟؟؟؟

تاسو ته په لوی رب ج قسم درکووم او غلطول به نه کوو چی تاسو د امریکا د سفارت کوم بیان واوری او د ارګ کوم بیان واوری نو تاسو کوم بیان زیات د اعتبار وړ ګڼی او کوم بیان داسی ګڼی چی دا به عملی کیږی او دا بیان به نه بدلیږی ؟ ساده جواب یی دی د امریکا د سفارت بیان.

شاعر:سمیع الله ترون

غزل

خوب مې لیدلی دی حیران یم ورته
رڼا راپورته شي تورتم وخوري

بلا له لوړه بامه وغورزیږي
لاندې په خمکه کې یې بم وخوري

د پاچا سر په ککرۍ کې مات شي
دوه لپې زهر یې دوستم وخوري

زما د ښکلو پسرلو قاتلان
زما غاتول زما شرشم وخوري

د ادم ذاتو د غفلت په وجه
بني ابلیس بني ادم وخوري

یو څو کمزري میرتون راټول شي
مار خوري، لټکه خوري، لړم وخوري

د هغه چا مقابله ګرانه ده
هغه چې مرګ باندې قسم وخوري

زه به یې څنګه دښمن نه ګڼمه
څوک چې زلمي زما د چم وخوري

ترونه حق ته شاعري پرې کوه
خیر دی که وینه دې قلم وخوري

کنډلي خوله!

ص صارم

له دې عنوانه مو هغه خوله ذهن ته درنه شي چې په زندان کې دظلم او بې عدالتۍ په اعتراض کې یې له خوراکه ګنډي، بلکې دا هغه خوله ده چې له خوړو نه! بلکې له حق ویلو ګنډلې وي .

نو مه یې ښوروئ که خوله یې خلاصه کړه شاید داسې څه ووایي چې تردې هم بدتر وي، خیر دی که په ولس دعام وژنې هر اور راتیټ دی، دی پټه خوله ښه دی اوپټه خوله یې بهتري ده.

هو! کیدی شي په دې اړه له څه ویلو معذور وي، اولکه د (اس ریاست) کتاب یې چې یادونه کړې، ددې سکوت تړون یې وار له مخه لا له امریکایانو سره کړی وي، هغه لیکي په ملکي وژنو دپټې خولې اوسکوت تړون راسره کرزي ټول په ټوله ونه مانه خو اشرف غني راسره په کلکه منلی ، همدا لامل دی چې څه نه شي ویلای که نه زړه خو یې غواړي چې دپکتیا، خوست، کندز، وردګ، کاپیسا، پکتیکا، غزني او هلمندپه ولس دترسره شوي هوایي وحشت (بمبار) په اړه ډېر څه ووایي، خو دریغه چې خوله یې ګنډلې او څه نه شي ویلای.

دنړۍ په مخ دهر هیواد ولسمشر۔ دخپل هیواد په خلکو خفه کیږي او دولسي۔ ناورین په رامنځته کېدو سره رسمي ماتم اعلانوي، دایواځې افغانستان دی چې ولسمشر! یې دخپلو خلکو دهرې ورشپې په ناورین اوناخوالوپه حق کې له څه ویلو معذور دی اوخوله یې ګنډلې .

همدا جناب دی چې له ابتدا نه تردې دمه یې دامریکایانو په جنایاتو خوله نه ده چوله کړې، تردې چې داسې څه یې هم نه دي ویلي چې دهغوی دطبیعت خلاف وي، وایي چې " که نور څه نه شې کولای ° لکۍ خو ښوروه" وه ظالمه! که حقیقتا دهغوی له مظالمو څه نه شي ویلای، سیاستا خو یوڅه ووایه! هغوی به هم پوهیږي چې داهم د ده مجبوریت دی، نه سرکشي او طغیان .

دافغاني کمونستانو تاریخ دې ژوندی په مخ کې پروت دی، څنګه په خپل قدرت او متمولینو مغروره وو، او په دغه غرورکې یې دخپلو مظلومو افغانانو څومره وینې وڅښلې خو پای یې څه شو؟

نه یواځې ددوی، بلکې دهغوی چې ددوی تمویل یې کاوه ؟ نن له څومره پښېمانتیا او شرمندګۍ سره مخ دي ؟!

هغه سکوت او پټه خوله چې تانن دخپلو افغانانو په مرګ او خپل هیواد په لوټه لوټه کېدو اختیارکړې تاریخ یې همداسې پټ اوګونګه نه پرېږدي، بلکې لیکي یې او راتلونکو نسلونوته یې رسوي او تربل هرچا رومبی یې هغوی لیکي چې نن ته پرې نازېږي او ستا هیواد ته یې دبمونو، وسلو او لښکرو کتارونه راروان دي، سبا به دوی وزي او خامخا به وزي، ته څه فکر کوې دوی به بیا په تاڅه حساب کوي ؟!

تاریخ یې وګوره چې دتاریخ په اوږدو کې یې له خپلو مستعمرینو سره څه کړي او هغوی چې له دوی سره یې په استعمار کې لاس یو کړی و ° څه بدله یې ورکړه او څه یې یادکړل ؟!!

ولس درته له شاه شجاع او کارمل هاخواته بل بدیل اومثال نه لري .

ګلورینې پاڼې

سولې ته!

د چا پښې د چا لاسونه شول تناکې
سولې څه شوې؟درته زړونه شول تناکې

د مظلوم ولس په حال رحم پکار دی
خدایه! نور مو قدمونه شول تناکې

دومره ظلم په دې خاوره پردو وکړ
د مرغیو وزرونه شول تناکې

ګورئ څومره پښتون تږی دی د سولې
د وجود یې ټول بندونه شول تناکې

مروره به تر څو یې،په زړه سختې؟
د انعام! درته لفظونه شول تناکې

امریکا!

نجي الله سمون

چې ونه وه زې، غولې ملکه تولې امریکا!
نه امن شي رانلای او نه هم سوله امریکا!
ته نه وینې چې هر وخت یې لړدو هم درنه وژنې
شین سترګي بهودان دې نور دي بوله امریکا!
طالب او پولیسان که مو زړ کاله شخړه وکړي
ځي ستا به ورانلې بو ځای سنګرو له امریکا!
پوهیږو چې به تېښتې نوره دمه درکې نشته
خبره پاته نده زموږ، تر دوله امریکا!
سمون وایې افغان دلسې له خاورو پیدا نه دی
ورونه به یې ورکړې؛ ښه یې تو له امریکا!

غزل

جانان خدرخېل

چې واړه او زاړه ټول پکې را ګېر شي
لویه خدایه! محبت دې دومره ډېر شي

که دا زړونه مو له کرکې نه پاک تکړل
نو ټول ژوند به مو بې مینې مینې تېر شي

کله کله مې نوم اخله، یادوه مې
هسې نه چې بیا مې نوم درځینې هېر شي

څه بنهٔ وایي چې نصیب د لیدو نهٔ وي
په یوه کوڅه کې ایسته تېرو بېر شي

ستا د سترګو تلاوت اسانه نهٔ دی
تور بابهٔ دې کله زوَر شي، کله زېر شي

داسې خلاصې تنې مهٔ راځه شېرینې
هسې نهٔ زړهٔ کې مې څهٔ شی درته تېر شي

چې له ډېرې مینې مړهٔ وي "خدرخېله"
زهٔ خو وایم جنتیان دې ستا په خېر شي

ورکې سولې!

عزیز الله حسیني

مات شوي سر باندې مهال جوړوم،
ځانته پټکی اوتاته شال جوړوم،

سوله که راغله او له جنګه خلاص شو،
یو ښه غزل دې په جمال جوړوم،

یوه خولې، یوه لونګۍ، دې په ما،
یو ښه خامک درته دسمال جوړوم،

وربانندې نوم دورکې سولې ږدمه،
په سپینه زنه باندې خال جوړوم،

رقیب کافر مې له وطنه شړم،
له ګاونډي سره دیوال جوړوم،

حسیني څه به دخوښۍ شیبې وي،
چې مې په زلفو کې شمال جوړوم.

عام وژنه مه کړې!

حافظ محمد قاسم زهیب

غلیمه واوره عام وژنه مه کړې
دغه لوی جرم تیروتنه مه کړې

زموږ د معصوم ولس د پاکو وینو
داسې بې ځایه بهیدنه مه کړې

کېږدې اشغال ته مو نور ټکی د پای
قانون خلاف مو هره کړنه مه کړې

د خپلو خولو او هیوادوالو ورونو
عسکروا بس ده خوریدنه مه کړې

د دې مظلوم ولس د وینو تږي
غازیانو پام ورته بښنه مه کړې

ازادي غواړو موږ ازاد خلک یو
د دائمي اډو غوښتنه مه کړې

کنې زهیب به پالیسي تغیر کړي
اوس لا دا وایم واشنګټنه مه کړې

داسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار

وروستۍ برخه

داسلامي نړۍ مفکر او ثقه عالم مولاناسید ابو الحسن علی ندوي
ژباړه: ابوظهیر

دا خبره که هرڅو ترخه او مناسب نده خو واقعیت ده چې توله کې اوسنی اسلامي نړۍ دځان پيژندنې او پر ځان د باورله نعمت محرومه ده، په پراخه اسلامي نړۍ کې چې کوم هیوادونه ازاد دي (که هغه دپیړیو راهیسې ازادیاتې دي او یا په نیږدې ماضي کې هغوی ازادي ترلاسه کړې) هغوی له ذهني او علمي دوارو پلوه دلویدیځ هغسې غلامان دي څنګ چې یوبیرته پاته هیواد دغلامۍ په چاپیریال کې یې سترګې غړولې، په هوش او ځوانۍ راغلی، ډیرځلي ددغسې هیوادو واکمن په سیاسي ډګر کې ځبني دتعریف وړ او کله ترخطر ناک حده دحرئت او همت خرې هم کوي او ډیرکرتي ورته پرکمپاین کې دخپل هیواد سودا هم نه دریغوي لیکن په فکري ،کلتوري او تعلیمي میدان کې پر ځان د باور، دتاکنو ازادۍ او تنقیدي صلاحیت هغسې اظهار نشي کولی ،دکوم تمه چې دیو عاقل اوبالغ انسانه کیږي، حال داچې دتاریخي فلسفې دا منلې اصول دي چې فکري، کلتوري او تعلیمي غلامي له سیاسي غلامۍ نه زیاته خطرناکه، ژوره او قوې ده! او ددې(فکري، تعلیمي او کلتوري غلامۍ) په شتون کې د حقیقت پال او فاتح قوم په اند دسیاسي غلامۍ اړتیا نشته، د شلمې عیسوي پیړۍ په وروستیو لسیزو کې چې نړۍ د دوه لویو نړیوالو جنګونو تېره شوه او ددریم جهان نړونکي نړیوال جنګ وربخې غومبر وهې په داسې حال کې چې دهیځ هیواد لخوا دېل هیواد دغلامولو او دهغه دخوبنې پرخلاف دهغه اشغالول د فهم څخه وتلې اوناشونی عمل ګڼل کیږي، لیکن بیا هم شوروي اتحاد لخوا دافغانستان اشغال دا کلیه یومخ مجروحه او مشکوکه وګرځوله؛ البته ددې سره جوخت دنړۍ په خاصه توګه غربي سترقدرتونه ورځ تربلې دسیاسي واک پر ځای په ذهني او کلتوري واک او په یکسانیت غوره کولو قانع ښکاري.

دلویدیځ دا فکري او کلتوري واک،اصولي او نظریاتي وحدت که په نړۍ کوم ځواک یا هیواد تنګولی شي یا دهغه پر وړاندې خند کیدای شي هغه یواځې داسلامي نړۍ جلا تشخص او دهغه دیني و اخلاقي دعوت او دهغه دژوند فلسفه ده؛لیکن یو پلو د هغه تاریخي عواملو پر بناء چې لږ تفصیل یې ماپخپل کتاب(په بشري نړۍ دمسلمانانو دعروج و زوال اغیزې) کې تشریح کړی اسلامي نړۍ د لویدیځ دراپورته او خواره شوې ځواک سره دسترګو لګولو قابله نده او هغه طبقه چې دانقلاب په دې دور کې د دهغه دقسمت څښتنه شوې، هغه لکه څنګ موږ په تیرباب کې بیان کړل، هغه نه یواځې توله دلویدیځ خوشه چینه او دغربي دائیې پې رودونکې کوچنی وه دکومې (ذهني) غوښه او پوستکي هم دهغې د پیو او ځیګر په وینوپالل شوې وه، بل پلوته دهغو اسلامي هیوادوپه خلکو او جمهورو کې دایمان او عقیدې چې کوم اغېز او اخلاقي سپرغۍ ایره پاتې وه او

دټولنيزواقدارود احترام او دنفساني مرغوباتو دمقابلي لپاره چې کوم لړډېر څواک و (کوم نه چې لويديځ محروم شوی) لويديځ د بېلابېلوذريعو له لارې(چې څېني يې په ښکاره معصومانه او فياضانه دي او څېني يې زهريلا او مجرمانه دي) دهغه پرڅېلو لاس پورې کړ، په تعليمي ميدان کې يونيسکو اعانت او سرپرسرستي او دفني کارپوهانوپلان گذاری له لارې، کله دلويديځ استادانو او تعليمي کارپوهانوپه واسطه، کله دهغه تشکيک اچونکو، انتشار او هيجان پارونکو پاڼو په زريعه کومې چې ديوتوپان پشان پر اسلامي نړۍ راڅغلې، کله دژوندانه معيار لوړولو او د خوشال او اسوده ژوند لپاره کور کور ته دتلويزون رسولو له لارې؛پرلپسې دغه څواک مفلوجوي ؛کله په هغوبيرته پاته هيوادو (چې ورسره بيدريغه کومکونه کوي) دسختو شرائطو لگولو له لارې هغوی نه دداسې بدلونو او اصلاحاتو غوښتنه کولی شي کوم چې دهغه هيواد دمسلمانانو خلکودمزاج او دهغوی داجتماعي ژوند دبدلو لو لپاره سخت زيان ثابتيدای شي، غرض داچې لويديځ له ډېر لرېنه هم هغه هيوادونه داسې کلابند او داسې حالات يې ورته پيدا کړي چې دغلامۍ دپخوانيو او فرسوده طريقو نه په څو واره خطرناک او زيان لرونکي دي او له لارې يې هغه ازاد هيوادونه دغربي څواکونو لاسو او دواک منګلو ته ور درومي، دمرحوم اکبرداپخواني شعردغه پراخ حقيقت په دومره ښه توگه تشريح کړی چې شايد دومره دهغه (شاعر) پخپل وهم او گومان کې هم نه وه

اپنی منقارون سی حلقه کس رهی جال کا
طائرو پر سحرهی، صياد اقبال کا

ددې بدلونو يا اصلاحاتو پلی کولو کې دهغو هيوادونو مشران چې څېني يې اسلامي روحيه هم لري اوڅېني ديو نړيوال اسلامي څواک او داسلامي بلاک جوړولو شعار هم زمرمه کوي هغسې فعال او مستعدبرېښي څنگه چې پخپله غربي جديد خوښي دي، چې دچون چرا پرته د امريکا او روس په اصلاحي او تعليمي پلانونو عمل کوي او يا څنگه يې چې دهغوی کارپوهانوته دخپلوهيوادونو ددهن و مزاج تغيرولو لپاره د نقشو جوړولو اجازت ورکړی او په کوم جوش ، جذبه ، عزم او هوډ (پرته دکوم اساسي بدلون او اصلاح څخه)کور کور ته دتلويزون رسولو لپاره کوښښونه روان دي او دمختلفو زريعو له لارې په ارزانه بيه د ترلاسه کولو لپاره اسانتياوې برابروي، څنگه چې دمستشرقينو څينو بخت لرونکو شاگردانوته په اسلامي ټولنه کې دتشکيک او انتشاراچولو لپاره پريمانه وسائل او فرصتونه پيداکولی شي، په څه ډول چې دگڼو زريعود لارې دتفريح او تعيش رجحان زياتولی شي او په ميرمنو کې دلامحدودې ازادۍ ،بې پرده گی ، مخلوطو زده کړو اود فلمي صنعت هڅونه او سرپرستي کېږي تري داشک پيداکېږي چې دغه مشران دغربي هيوادو (دانسته او غير دانسته) لاسپوڅي او گوډاگيان او دهغوی له تخريبي هڅو سره هم غړي او همکاران ندي ؟او ايا داسې خونده چې هغوی عام مسلمانان له ديني غيرت، اخلاقي شعور، خيرو شر ترمنځ دتميز او دحيا او بې حياتوب له مفاهيمو سره نا اشنا گرځوي نه؟کوم چې ډېر ځلي دهغوی دانفرادي بېلاری، ،دجديديت اود مغرب پرستی په لار کې خنډ گرځي اوکوم چې هر وخت د ديني انقلاب او ثانيه نشأة په گرځيدوسره دهغوی دواک لپاره گواښ کيدای شي! په څرگنده برېښې که دبدلون يا اصلاحاتو په نامه روان عمل څو کاله نور هم دوام وکړي د اخلاقي تخريب او انتشار وسائل څو کاله نور هم په ازاده توگه جريان ولري دهغو هيوادونو هغه نسل چې ددې نويو مؤثراتو قبلولو بشپړ صلاحيت لري دومره متاثرشي چې هغوی به ددې جديديت او مغربيت په وړاندې هيڅ مزاحمت ونکړای شي ترکومه چې ددې نوي نسل تعلق دی چې په دې چاپيريال کې وده کوي دهغه له لوري يې دمخالفت يا داختلافي رائې سوال هم نه پيداکېږي او ددې

هم قوي خطره ده (اثار او نښې يې اوس ښکارې)چې داړوندو هيوادو يوه لويه برخه بالخصوص شتمن، خوشال او واک لرونکي خلک به په دې اخلاقي جذام کې مبتلی شي دکوم چې ټول لويديځ ښکار دی او بيا شايد ټوله نړۍ کې هيڅ يوه ټولنه تري خوندي پاتې نشي ځو ددوهم ځل لپاره بيا دروحاني او اخلاقي تطهير په اړه وربانديې باور وکړای شي.

ترکومه ځايه چې په لويديځ پورې اړه لري، هغوی داسلامي نړۍ په باره کې هيڅکله مخلص او نيک نيت نلري دا دهغه پخواني تاريخ غوښتنه هم ده پرکوم چې دصليبي جنګونو سيوری غوړيدلی او دعثماني سلطنت او غربي هيوادو ترمنځ د اوږده اوخونړي کشمکش ژورنقش پرې پروت دی دا دحقيقت پرستۍ او عقلانيت غوښتنه هم ده چې يواځې اسلامي نړۍ ده چې دلويديځ نړيوال واک وننګوي او ديوداسې نوي بلاک دجوړولو صلاحيت لري چې دهغه اساس به دژونديه جلا فلسفه او نړيوال دعوت ايښی وي دادهغو قدرتي وسائلو او ذخايرو دقدروقيمت داحساس نتيجه هم ده کوم چې داسلامي نړۍ په مختلفوبرخو کې په زيات افراط او پريمانۍ سره مندل کيږي، کوم چې دلويديځ دصنعتي،سوداګريز اودسياسي واک لپاره ستر اهميت او ډيرکرتي فيصله کونکی حيثيت لري او په اخرکې دا دبشري فطرت ديوې کمزورتيا غوښتنه هم ده چې اکثر کله يو انسان په يوه لاعلاجه ناروغۍ کې مبتلی کيږي نو هغه ته ددينه تسکين کيږي چې نور هم دده په حال مبتلی دي او دتندرست او ناروغ ترمنځ هيڅ کوم توپير پاتې نه‌ دی بشري فطرت ددې کمزورتيا نه هغه خلک خوندي کيدای شي يا پرهغه غالب کېدايشي چې دهغوی دننه دپيغمبرانو دلاربښوونو داثر په برکت درښتيني خدا پرستۍاو بشريت پالنې جذبه راوټوکوي او بدبختانه لويديځ دپيړيو راهيسې ددې دولت نه محروم دی ، دغربي واک او برياوو تاريخ ښيي چې کوم هيوادونه دهغوی ترسيوري لاندې راغلي هغوی اخلاقي تکان خامخا خوړلی کوم چې دمغرب داستازو سره يوځای راغلي، ځنګ چې ځينو زړورو او منصف مزاج غربي ليکوالو او ناقدينو هم منلي.. دلويديځ استعماري ځواکونو په ختيځو هيوادو نو کې داخلاقي انتشار خورولو او دتشکيک پيدا کولو په باره کې که هرځومره متشکک (AGNOTIC) ګرځيدلي دمسيحي عقايدو په باره کې پخپله دهغو روڼ آندي او پراخ نظري که هغه هم دالحاد او زندقيتوب تر پولو رسيدلي وي خو داسلامي نړۍ او مسلمانانو په وړاندې کلک عيسويان ثابت شوي هغه په دې معامله کې دخپل پيدائشي۔ دښمن يهودانو سره مصالحت او روغه باک نه بولي او ور ته په مسلمانانوځرګنده ترجيح ورکولی شي، ددې مذهبي تعصب نه علاوه کوم چې دهغوی په ګوتې کې ګډ دی او کوم چې نيږدې دهغوی مزاج ګرځيدلی هغوی ته خپلې ګټې په هر صورت له هرڅه ګرانې دي دا په ځو ځلونو تجربه شوې ده چې هر اسلامي ځواک چې کله دکوم غير اسلامي ځواک سره ډغره وهلې نو هغوی هميش دغير اسلامي ځواک سره په ښکاره ملګرتيا کړې ده يا يې دپردې ترشاه دهغه مرسته کړې په ۱۹۶۷زکې دعربانو او يهودانو په جنګ کې داخبره درنا ورځې په ځبرروښانه شوه چې دمسلمانانو لپاره دهيڅ کوم بل ملت يا ډلې نه اويا دحتيځ بلاک نه دهيڅ کومې مخلصانه مرستې او ملګرتياتمه لرل تدې پکار هغوی ته د هرې پريکړې او هرګام پورته کولو په مهال دالله تعالی دذات وروسته پخپلو متو او پخپلو وسائلو باور پکار دی .

ترکومه پورې چې داسلامي هيوادو دمشرانو او رهبرانو تعلق دی دهغوی پوهاوي ته اړتيا ده اګرکه دانيم رنګه جديديت او مغربيت ، يا تشکيک او انتشاردوی ته اوس په مؤقت ډول ګټه رسوي خوپه ټوليزه توګه ملت او مسلمانانو ته زيان رسوي او دهغوی رښتې داسې وباسي چې بيا به ترپيړيو پيريو جبران نشي ،په مسلمانانو ولسونوکې دخپلو ټولو کمزوريو، خرابيو باوجود هغه ځواکمنه ايماني جذبه ،

دالله په نوم دایثارو قرباني صلاحیت ، اطاعت او دانقیاد ولولې، دخلوص او محبت تودې جذبې ترسترگو کېږي دکومو څخه چې نیږدې ټوله نړۍ او ماده پرست قومونه محروم دي داسلامي هیوادو عام وگړي دخپل افسوس وړ جهالت او بیرته پاتیوالي باوجود هغه غوره خام مواد دي چې تري غوره انساني نمونې او ماډل تیاریدای شي دهغوی ترټولو لوی ځواک ایمان ،خلوص او دهغوی ساده تاوده احساسات دي ، دي ځواک په څو ځله محیر العقول کارنامې سرته رسولې او ډیر خلي یې ناممکن ممکن کړی دی او هرکله چې په اسلامي هیوادو کوم نازک وخت راغلی نو دعامو مسلمانانو همدا ایماني جذبه ،خلوص او ساده گې په کار راغلې، رښتیا ، په حقیقت او واقعیت سره ددې ځواک قدر پکار دی او دخپلو هیوادونو ددفاع ، خوندیتابه او په نړۍ کې دیو لوی کردار اداء کولو لپاره یې ترټولو لویه پانگه او ملاتړ گڼل پکار دي خو دجدیدیت او مغربیت په وجه دعامو مسلمانانو ځواک داسې زنگ وهلی چې هغه په یو اخلاقي کینسر- بدلیدای شي کوم چې ناقابل علاج وي... او دلویدیځ ناقابل انکار علمي او صنعتي تفوق ته پر کتو په پټو ستر گو قبلول نه دعقل غوښتنه ده او نه ددین لاربښوونه!او نه عملاً داسې ممکن ده په دې حال کې داسلامي نړۍ په وړاندې صرف دوه لارې پاتې کېږي: یوه لار ده چې دهغه نه په مسحور کیدو دهغه دژواندانه ټوله فلسفه، د کائنات په اړه دهغه تصور، د مابعد الطبیعاتي عقایدو په اړه دهغه تصور، عمراني او اجتماعي نظریات یې، اخلاقي لرلیدونه او دژوند مسلک یې چې هر څنگه دی هغه هوبهو قبلول او خپله هسته دهغه په قالب کې یومخ محوه کول دي،ددې حقیقت نه قطع نظر چې دا یوپراخ ارتداد او دروانې او ذهني ځان وژنې مرادف عمل دی او دهغه بشریت سره غداري او بیوفائي ده دکوم وروستی امید چې دآخري پیغمبر(صَلَّىٰ‌ٱللَّٰهُ‌عَلَيۡهِ‌وَسَلَّمَ) د امت سره تړلی ، دایو داسې غیر ضروري محنت او لاحاصل سعي ده دکومې پایلې چې داوږدمهالې وینې تویدنې ، ذهني کشمکش او دروحاني نا ارامۍ پرته دبشري ځواکونو دضیاع او دوخت داضاعت سیوا بل څه نه راوځي، دا د یوې شې جوړې اوکلکې ودانۍ تخریب ته ورته دی چې دهغې پر ځای دبلې (ودانۍ) جوړولو لپاره نه خام مواد شتون لري او نه تعمیري صلاحیت او ځواک ،نه آب و هوا اونه چاپیریال مساعد او مناسب ... او نه دماضي سره تړاو شته، داسلامي نړۍ په کومو برخو او په کوموا سلامي هیوادو کې چې دا کوښښونه شوي هغه ناکام شوي او هر کله چې هم هلته ددې مصنوعي او غیر طبعي واک واگې سستې شوې او عامو خلکو ته دخپلې خوښې او نا خوښې داظهار موقع په لاس ورغلې سملاسې یې هغه لباس له تن ویستلی او غورځولولی دی کوم چې نه دهغوی دتن سره برابر جوړ و او نه یې دهغوی دمزاج سمون لاره نن په ترکیه کې هم دعه څه په نظر لیدل کېږي او په مصر اوشام کې به هم ژر هم وبریښي.

دوهمه لار داده چې دلویدیځ نه په علم وصنعت، ټیکنالوجی، سائنس، او په هغو علومو او تحقیقاتو کې چې کوم د تجربوي حقایقو، واقعاتو او دبشري زیار او محنت زیرنده دي په فراخ زړه له هغونه استفاده وکړي بیا هم هغه دهغو مقاصدو لپاره پخپل خدای ورکړي ذهانت او اجتهاد دهغو لوړو مقاصدو تابع و خادم وگرځوي کوم چې ورته وروستي نبوت او وروستی صحیفې ښئلي دي او دکومو په وجه چې ورته د (خیر امت) او وروستي امت لقب ورکړل شوی، دوسائلو او مقاصدو داپه زړه پورې امتزاج دکوم نه چې اوس مهال لویدیځ هم محروم دی او مشرق هم؛ چې لویدیځ تنها دقاهره وسائلو پانگوال دی او له صالحه مقاصدونه خالي لاس دی او مشرق (اسلامي نړۍ) دصالحه مقاصدو یواځینی اجاره دار او له مؤثرو وسائلو نه یومخ محروم دی، لویدیځ هرڅه کولی شي خونه غواړي چې وپي کړي! یا په بل سپیناوي کول نه پیژني!اسلامي ختیځ

کیدل پکار دی داده:

عالم همه ویرانه ز چنگیزی افرنگ

معمار حرم باز به تعمیر جهان خیز (اقبال)



وروستیو پېښو ته یو ځغلنده نظر

یوځوک چې څلوېښت کاله د زبرځواکونو په جګړه، نړیوالو ننګونو او چیلنجونو کې تېر کړي، شاید له لاس اوګرېوان لوبو او ننګونو سره په ژبه بنه پوه شي همدا وجه به وي چې ناخوالې یې دومره اوږدیږي، ځکه نه سازش کوي اونه په جګړه کې ماتې خوري .

داشغال په وړاندې روان مقاومت چې اوس یواځې طالبان نه! بلکې ټول مسلمان افغان ولس په برکې نیسي له دغې پوهې او ځیرکتیا برخمن دی .

له تېرو څو میاشتو راهیسې دمذاکراتو ترڅنګ په هیواد کې بېلابېل حرکتونه، پېښې او بدلونونه هغه ننګونې او چیلنجونه دي چې دغه مقاومت ورسره په آزموینه کې مخ دی او ډېرې یې په دې موخه رامنځته شوې چې مقاومت پکې له پښو وغورځول شي او حیثیت یې له منځه ولاړ شي .

مخامخ خبروته دامریکایانو حاضرېدل اوله هغو سره دمذاکراتو جریان لاهم په داسې حال کې دی چې قاطعانه نظر وړباندې ورکول ګران برېښي، ولې ورسره په څنګ کې ځینې داسې جریانونه او پېښې هم موازي په کار اچول شوي چې دغه جریان ته نه صدق او بدې ارادې ترې فهمول کیږي، چې په توله کې ترې خبرېدل او ځیرکتیا ورته ډېره اړینه ده، ځکه به نو دخبرو اترو په جریان له څه ویلو تېر شو او په دغو پېښوبه یوڅه راتم شو .

شاید ډېر خلک یې تصادفي پېښې او یا یې ببرته له مقاومته وبولي، خولکه یادونه چې وشوه له اشغاله دخپلواکۍ ولسي مقاومت لا له وړاندې په تجربه پوخ دی او د دې تولو ننګونو په وړاندې ډېر په پاخه تدبیر او سره سینه مبارزې ته دوام ورکوي .

موټر وینو چې پرعامو ولسي وګړو بمبار او چاپو زور نیولی، دله ایزې هدفي وژنې کیږي اوترټولو مهمه لاداچې دشعیه او سني ترمنځ داور بلولو ډېرې رسوا هڅې او په زورکې تبلیغات کیږي، دمیلاد پرغونډه برید او دجاغورۍ او مالستان جګړو تبلیغات یې بېلګې بللی شو .

دغه راز مذهبي اختلافات راپورته کول اوپه فروعي مسایلوکې نه توافق ته دومره هوا ورکول چې اصول پکې نه یواځې هېر وي، بلکې ترپښو لاندې کیږي، داهم ددې هڅو یوه بله لړۍ ده چې باید ټول افغانان اوپه تېره مجاهدین ورته ډېر متوجه وي .

دې کې اوس هیڅ شک نه شته چې امریکایانو په افغانستان کې ماته خوړلې او دتېښتې لار لټوي اوکه څوک شک کوي، نو تر اوولسو کلونو اوږدېدل په خپله ددې جګړې ناکامي او ماته ده، ولې بیاهم دښمن هڅه کوي اولکه اوبو اخیستی کس دځان دنجات لپاره داوبو ځګ ته هم لاس اچوي، په هیواد کې دله ایزې بې رحمه وژنې او دشیعه او سني ترمنځ نفرتونو ته لمن وهل او اورونه بلول دهمدې هڅو نتیجه ده ، هره هغه پېښه او ناورین چې هیڅ سابقه

يې دلته نه ليدل کيږي اودهيواد په لر اوبر کې رامنځته کيږي، دا د دښمن هغه پټ او ښکاره لاسونه دي چې دځان دنجات او لار لټونې لپاره يې يوې او بلې خواته اچوي .

دوی فکر کوي شايد دلته هم دعراق په څېر نتيجې په لاس ورشي، نو په عين ډول يې لومړی دشيعه افغانانو په مرکزونو، تکيه خانو، ورزشي کلپونو او غونډو کې چاودنې ترسره کړې، ترڅو يوډول عقده او دمحروميت احساس خپل کړي او په عين وخت کې ورسره دمحروميت دغبږ داوچتولو په وخت کې بيا دغه غبږ تربل هرچا دوی ډېر بدرګه کړي، په دې توګه به هغوی لا مسلح اودخپل سری لارې ته سيخ شي چې په نه خبره به له وسلو سره راوتلي وي په تېره بيا چې يوڅه نور شنه څراغونه هم ورته بل شي او ورو ورو به دبل هر هغه نظام په وړاندې خنډ وي چې له دې وروسته رامنځته کيږي.

خوله دې ټولو سره سره اميد ښښونکي دوه دليله شته چې دښمن په دې هڅه کې هم ناکام دی او کومه لاسته راوړنه نه شي لرلای ان شاءالله . ترټولو عمده او هيله من فکتور داده چې راتلونکی قاطع اکثريت، وړ، مستحق او مؤثر جهت (طالبان) که په هر ډول رامنځته کيږي، دشيعه او سني ترمنځ د ښه ارتباط او ګډ ژوند ترټولو ښه تجربه لري چې دغه ډول لاسوهنې او پارونې به يې له مسيرنه وانړولی شي.

بل داچې زمونږ اهل تشيع ورونه هم افغانان دي او له افغاني غيرت څخه برخمن دي لکه دنور کله په شان به هيڅکله بياهم په دغو لمسونو خطا نه شي او دغلامي کړی به په هيڅ ډول غاړې ته وانچوي .

نتيجه ببرته دامريکايانو او اشغالګرو په زيان تماميږي، يواځې دومره ده چې افغانان يوڅه بيدار او ځيرک ووسي چې يوخو په هر لحاظ هره ناسته ولاړه او تجمع کې دځان ساتنې په خاطر ډېر پام وکړي اوبل داچې ، دتبليغاتو په ډګر ډېر ژر په چاپسې ولاړ نه شي، بلکې ترهرڅه مخکې خپل فکر ډېر په کار واچوي اوپه شعارونو تېر نه وځي.

سعد کتوازی

همت او بې همتي څه شی دي؟!

یو عادي او عام انسان ته د هغه په دننه کې خدای(ج) د هغه هرڅه معنوي ورتیا ورکړې چې په خپل مدني ژوند کې هغه ورته اړتیا لري، او ورسره د دغو اړتیاو د پوره کولو اسباب او توکي (مادي ورتیا) هم وخت په وخت ورته برابروي او بیا هغه ته د خپلې ورتیا او د غو توکو د یو ځای کولو، په کار اچولو او ورڅخه د خپلې اړتیا پوره کولو چل او لارې چارې هم وربښې او د هغه د راتلونکې لپاره یې روزنه کوي، دغه ښوونه او روزنه انسا ن د عقل او پوهې په هغه قوه ترلاسه کوي چې خدای(ج)په هغه باندې لږه زیاته پیرزو کړې وي.

دغه ښوونه او روزنه له بېلابېلو لارو او ګودرو (سترګو، غوږو، پوزې، دماغ، حس او...) د انسان پوهې ته راځي، او بیاچې خدای (ج) هغه ته د ورکړې ورتیا او اسبابو په کار اچولو چل ور ښیې نو په لږ وخت کې ډېرې اړتیاوې او بیا بیا یې ور پېښوي، ځیني وختونه سرې د خپلې تولنې نورو وګړو ته هم یکې اړ کېږي چې ورته مدنیت وایو، همداسې په لږ وخت کې ډېرڅه ور وښیې او پرې و یې روزي چې ور سره پوهه او د هغې درکات هم پاخه او انسان یې عادي شي، په ځان باور ترلاسه کړي او بیا تل د خپلو اړتیاو د پوره کولو تدبیر په اسانۍ سره کوي.

د دې یوه بېلګه را اخلو: خدای(ج)په انسان لوږه را ولې خوراک ته یې اړکړی، د خوراک برابرولو هغه ورتیا او اسباب چې د ده په واک کې یې ورکړي هغه به دی په خپله د خپلې خدای ور کړې پوهې په رڼاکې په کار اچوي چې همت ورته وایې، او کله چې یې همت وکړ اړتیا یې هم پوره شوه او د بیا لپاره یې تدبیر اسان شو، خو که انسان د خدای(ج) ورکړې ورتیا او اسباب په کار وانه چوي نو دا بې همتي شوه، په بې همتۍ سره هیڅ وخت چابریالیتوب نه دی ترلاسه کړی.

موږ وینو یو ماشوم چې لاپه ولاړېدلو او پل اخستلو نه وي عادت لویانو ته ګوري چې هغه څنګه ولاړېږي او ګرځي؟ دیته په پام هغه هم په خپل ځان کې د ګرځېدلو ورتیا او په خپلو پښو د درېدلو اړتیا ویني، بیا بیا هڅه کوي او هرځل پرځي، نه یواځې دا چې پرځي بلکې په کلکه ځمکه، اوبو کې، په خاورو او ختو کې، له پورته نه لاندې را غورځي له ستونزوسره مخ کېږي خو بیاهم همت له لاسه نه ور کوي له قوي موړال سره بیا بیا هڅه کوي چې پخپلو پښو ځان و دروي او نور یې په غېږکې ونه ګرځوي، اخیر هم پخپلو پښو روان شي او بیا له خپل همت او موړال څخه دومره خوښ وي چې توله ورځ ترپېږي خو ستړی کېږي نه، د همت او موړال دغه ستره معجزه هرڅوک، هر وخت او

هر ځای لیدلای شي، و دي ګوري کوم یو ماشوم لـه کـومي نړیوالي او بین المللي اداري څخه دغه زدکړي کوي؟ بلکـې لا د دغه باچا غرور خو د خپلې مور غیـره هـم نـه منـي پـردې ورته ښکاري.

نو ځوانان چې لـه وړوکتـوب وروسـته اوس د تانـدي ځواني او غښتلو متـو ځښتـان دي ولي هغـه همـت چـې پـه وړوکتوب یې درلود له لاسه ور کـوي او د پردیـو غـېږي تـه ځان ور غورځوي؟! ایا دوی د دې همت نه شي کـولای چـې خپل ځان او تولنه په پښو و دروي، خپلې تولني ته پخپله کار وکړي، چاري یې فعالي او منظمي کړي او له بیوزلي او پردیو ته له اړتیا ځان ازاد کړي؟

دا وروسته له هغه چې زموږ تولنې د تمدن لومړی مقـام درلود اواروپایي لاتر اوسه منندویه ده، نو ایا بیا هم هغه پـه ځان کې خپل لومړني تمدن تـه د بیرتـه ور ګرځیـدو اړتیـا او وړتیا نه ویني او که یې چاره نه لیدله کېږي؟ نـه داسي نـه ده بلکې زموږ ځوانانو همت او خپلي تولني ته کار نه دی کړی.

هو! دا هم یو څرګند حقیقت دی چې د انسان ژوند لـه کړاو څخه خوندي نه دی، هرڅوک د خپل ژوند پـه اوږدو کې له رنګا رنګ ناخوالو سره مخ کېږي، له بل لوري خـدای ج انسان مدني تبه پیداکړی دی د یوه فرد کړاو یې لویه تولنه هم اغېزمنوي، او بیا د نن سبا اسلامي تولنه چې هـر فـرد یـې له کړاو سره لاس اوګرېوان دی، له شک پرته چـې پـه لـوړه کچه زیان یې لیدلی.

اســلامي تولنــه یــاني دوه پیــړی وړانــدې د تمــدن او تکنالوجی هغه سمبول چې د نن سبا اروپایان یې لا تر اوسه ځانونه پوروړي بولي وروسته له هغې چې د امپراطوریـو او کودتاو په زور د هغې افرادو ته کـړاو و رسـید، توتـه توتـه شوه، وخت په وخت له نن څخه نږدې پینځه پیړی وړانـدې اروپا پوري شاته لاړه او زموږ د ځوان او نوي نسل لـه خپـل اسلامي تاریخ، کارنامو او شـاهکاریو څخـه د نـاخبري او د خپل کلتور او تهذیب په چوکات کې له سالمي روزني څخه د بې برخي کېـدو یـواځینی، لـوی او مرکـزي لامـل وګرځیـد، زموږ تولني د کار او داسي خلک له لاسه ورکړل چې د هغې تولي چاري فعالي، منظمي او خپلـواکې وساتي او د پردیـو د لاسوهنو مخه ډب کړي ترڅو مو له تـاریخ څخـه د نـاخبره قشر له لاري تولنه نوره له پرمختګ څخه را ونه ګرځوي.

خو له نیکه مرغه چې څومره د اندېښنې وړ هـم نـه دی، زموږ د وخت دیني عالمان او د پـوهیني طبقـي خلـک پرلپسې په دې هڅه او کوښښ کې دي چې ځـوان نسـل مـو ویښ او د هغوی پـام مـو خپـل سرشاره اسـلامي تـاریخ تـه واړوي، پخپله د خپلې تـولني د چـارو سـمبالولو او پـه خپـل واک کې د سـاتلو وړتیـا ورکـې پیـدا کـړي، پـه نـاپوهي او ناخبري کې د بابللي تمدن د بیا لاسته را وړلو لاري چـاري ـــ رمزونه او رازونه ور په ګوته کړي، له تنزل څخه یې بیرته د تمدن په لورمخ واړوي او ورسره دا هم عملاً ور و پېـژني چـې که د تمدن په هغو لاروچارو غور وکړو د کوموپه مټ چـې مو دوه پیړی له مخه درلود نو دا اوس دوه پیړی وروسته یـې هم درلودلای شو.

موږ د یو عالمګیر الهي نظام پیروان او له همـدي نظـام څخه سرچینه اخیستونکې دیوبندي فکر او مکتب لارویـان یو، زموږ چاپیر د معاصر کفر ګڼ شـمیر افکـار او مکتبونـه شته، نو راځئ! همت وکړو ځوان کول پـرې را ویښ کـړو، خپلو اولادونو او ځوان نسل ته د خپل کلتـور او ثقافـت پـه چوکات کې له پوره تاپیا او تلوسې سره تربیـه او روزنـه ور کړو، له خپل سرشاره تاریخ سره یې بلدکړو چـې چیرتـه پـه ناپامی د کوم کفري مکتب او پردي ثقافت په لومه کې پښـه کېښږدي او له پوره شعور سره د خپل تمدن تېـر تـاریخ تـه ور وګرځو.

زه دې په ایمان کې شک کنم
ته راته مریدان نیسي!!

خبیراحمدم

داسې بریښي چې امریکایان دافغانستان لـه جګـړې په بشپړه توګه زړه توري شوي اوپه زړه یې پخه منلې چې نورنه دغه جګړه ګټلای اوورلای شي اونه یې دکابل رژیم په غلامانواواردلیانوکې دومره څواک او جوهر شته چې د ځان او بهرنیو اشغالګرو عسکرو په وړاندې د افغانانو پاریدلې نفرت او انزجار کم او مهار کړای شي .

دکابـل رژیـم پـه چوکـاټ اوسرکـې چـې پخـوانی کمونیســتان دغــرب کلبــوال اوهــم دپخــوانی تلــوالي شریرچـارواکي قرارلـري دتیـرو۱۷ کلونوراهیسې ددې لپـاره چـې امریکایـان اوغربیـان دافغانسـتان لـه جګـړې اواشغال څخه بیـزاره نشيـ اوپـه دغـه جګـړه کـې ددوئ اسونه همداسې چاغ ووسي توامریکـا او ناټوتـه یـې پـه مسـلسل ډول دا بــکرورر دروغ کتـارول اوشـنه اورنګـین باغونه یې ورتـه رسـمول چـې طالبـان سـخت کمـزوري اوناتوانه شـوي ، مهـم جنګـي مسـؤلین یـې وژل شـوي ، اقتصـادي منـابع یـې لـه منځـه وړل شـوي اوهـم یـې پـه صفوفوکې ژورو اختلافاتو او بدګمانیو ځای نیولی

مطلب داچې امریکایان بائید نورهم په افغانسـتان کې تم او ایسارشي اوخپلې پـوځي اومـالي مرسـتي ورسره جاري وساتي.

دکابـل سـپین سـترګوواکمنو پـه دې خـاطرچې پـه خپلوناکامیوخـاوري واروي اوهغـه دچـاخبره دخپـل بـام واروي پردي بام ته وروغورځوي امریکایانوته یـې شـپه ورځ داوئیل چې تاسې په ګاونـډي هیوادپاکسـتان بانـدي فشارواچوی ترڅو دطالبانومشران له کابل اداري او سولي شورا سره مخامخ خبروته اماده کړي ځکه دا کـار د دوئ په اتکل دپاکستان په وس او اختیار کې دی !!

امریکایـانوهم فکرکـاوه چـې دکابـل رژیـم پـه دسترخوان راتـول غلامـان اوجاسوسـان یـې اخیرځانونـه افغانان بـولي دخپـل هیـواد، ولـس اوچـم ګاونډپـه نـبض اولوړو ژور به ښه پوهیږي اودافغانستان دجګړې پـه اړه چې کوم نظریات او مشوري ورکوي ممکن هغه به سمي ، منتجي اوپه عیني حقائیقومبني ووسي.

نوځکـه یـې ملیاردونـه ډالرپـه اختیـارکې ورکـړل دافغانانودوژلولپاره چې دوئ کـوم ځـای ، کلـی ، کـور، جومات ، مدرسه ، روغتون اودغم اوښادیو محافـل ورتـه په ګوته کـول امریکایـانوپرې بمونـه غورځـول اوددړون اونوروقاتلو الوتکواوجبه خانوزړونه به یې پرې سړول

امریکایانوپـه پاکسـتان هـم ډول ډول فشـارونه واچول چې که دطالبـانوکوم مشرپاکستان تـه وراوښـتی وي هغه تعقیب اوونیسي اودیته یې اماده کړي چې دکابـل له ګوډاګي رژیم سره مذاکرات اوخبري وکړي

خودمتعال رب جل جلاله په نصرت اومرسته طالـب قیـادت لـه دغوټولوفشارونواوسـتونزوسره مقابلـه وکـړه هرډول ربړي یې وګاللي خوله خپلواهدافو یولویشت هـم ورسته نشول

طالب په یواځي سرهـم دامریکااوناټومقابلـه وکـړه هم یې دافغانسـتان پـه ۷۰ سـلنه خـاوره داسـلامي امـارت ترسیوري اونظام لاندي خپله ولکه اوسلطه قائمه وساتله.

امریکایــان لــه دغوتولومرحلواودیـــاپیلوجنګي ستراتیژیواونیرنګوله پلې کیدواوتمرین ورسته بـالاخره دې سرحدته ورسیده چې اشغال یې بې نتیجې اوکـوم خیـال اوسـوچ یـې چـې دافغانسـتان داشـغال او جګـړې پـه اړه وهلی هغه کاملا ناسم ، باطل اوبې ماناوو .

نوځکه یې په خپل سرتمبه سیاست غـوروکړ دزور اوجبرپه ځای یې دافغانستان اسلامي امارت سره دسولې او روغې لاروڅیوله، افغانی الاصله امریکایی ځلمی خلیلزاد یې دیته وګماره چې مخامخ له طالب استاځو او مرکچیانو سره خبرې وکـړي اوارومرویـوه حـل تـه ځانونـه ورسره ورسوي.

ښکاري چې داسلامي امارت سیاسي استاځي هـم پـه دې ډاډمـن شـوي چـې دامریکایانوپـه سیاسـت ، خـبرو اوغوښتنوکې دپام وړبدلون راغلی یعني لدې دریځ څخه امریکایان کاملا په شاشوي چې داسلامي امارت اسـتاځي دې دکابل له ګوډاګي رژیم سره مذاکرات اوخبرې وکـړي پـه دغـه تکـي امریکایـانو۱۵ کالـه اصرار اوترکیزدرلـود داسلامي امارت دشرایطوهم یـوه مهمـه فقـره داوه چـې مخامخ له امریکایانوسره مذاکراتوته چمتودی نـه دکابـل له اداري سره ، دغه ډول وئیل کیږي چـې امریکایانودیته هم غاړه ایښې چې دمذاکراتوله رسمي پړاووونوړاندې به دبندیانوخلاصون ته عملي شکل ورښي

کچیرې دغه دواړه کارونه وشي له شـک پرتـه چـې دامریکایـانو او طالبـانو تـرمنځ دخـبرو پـل شـوی بهیـر نورهم په مخ تللای شي اوتمه ده چې یوې حتمي نتیجې تـه چې هغه درواني جګړې خاتمه او د تولـو خـارجي قـواوو وتل دې ورسیږي.

پـه دغـه حسـاس پړاوکـې اوس دکابـل شـړیدلې اوپرسوده اداره لګیاده لاس اوپښې غورځوي چې دسـولې خبرې دې طالبان لدوئ سره وکړي اوپه اصطلاح درژیم له مالکیت پرته دسولې هڅې اوتوافقات ورته دمنلووړنـه دي.

دځپل همدغـه موقـف دځلولوڅـاره یـې دسـولې پـه شـوراسربیره دسـولې نـوی بـورډ اوکمیسـون وتاکـه ترڅوددوئ په اتکل له طالبـانوسره دمذاکراتوسلسـله پـه مخ بوځي.

د بورډ په ترکیب کې ټول هغه کسان شامل دي چې ۱۷ کاله له امریکایي اشغال سره ملګري ول او دهمـدوئ په توسط اوجاسوسـی یومیلـون افغانانوتـه مـرګ ژوبلـه واوښته او دوه میلونه افغانان دامریکاپه جهنمي زنـدانونو او د کابل رژیم داستخباراتوپه توقیف خانو کـې شـکنجه اووکړول شول.

اشرف غنــي ، کــرزی ، جــنرال دوســتم ، ډاکتــر عبداللـه، سـیاف ، محقـق اونورهغـه جنایتکـاره څیـرې دنوموړي بـورډ مهم غـړي دي پـه داسـې حـال کـې چـې افغانستان کې بل شوی اوردهمدوئ پـه توسـط بـل شـوی اودامریکا اوناتولښکري دهمـدوئ پـه غوښـتنه او اوړو افغانستان ته راغلي دافغان ولس ، حیا، عزت او ارزښـتونه همدوئ دامریکایی منافعوڅخه قربان کړل.

هغه دپښتویومتل دی چې (زه دې په ایمان کې شـک لرم ته راته مریدان نیسې)

اسلامي امارت کـه دکابـل رژیـم اویـا دغـو مختـور څیـرو سره خـبرې کـولای اویـایې خیراومصـلحت پکـې لیدلای نـوګړ تـر لـره یـې یـوه لسیزه وړانـدې بایـد دغـه کارکړي وای

اسـلامي امـارت پوهیـده او پـوهیږي چـې دټولـو نـاخوالو او نـاوړینوتو عـاملین همدغـه ذلیلـه څیـرې دي دهغوئ په وجودکې په هیڅ قیمـت نـه سـوله راتـلای شي اونه دافغان قاطع ولس دغه ارزوده چې دغه ملي خـائنین

مطرح او د افغانستان په مهمو اوحیاتي موضوعاتوکې وپوښتل شي

له بل اړخه یودولت چې دخپلومامورینو دټاکلو اوحداقل دخپلوواليانودعزل اونصب واک اوصلاحیت نه لري اونه دامریکایانوله رحم کرم ، اومرستوپرته یوه اونۍ بقالرلای شي نو له داسې یوې پریوتي اوشړیدلې اداري سره خبري پرته لدې چې دافغانستان له ملي خپلواکۍ او ارزښتونوسره جفاوشي بل کوم مفهوم اوتعبیرنه لري.

دکابل رژیم دغه جفاکاره دلې اوخیري دې نورپه دوارو غوږونواوري چې شپې اوورځې مو په شمار دي که هرڅومره لاس اوپښې ووهي اوچیغې اوفریادونه وکړي بادارمودرڅخه روان ده که موخوښه وي اوکه نه امریکاغواړي چې داسلامي امارت سره په مستقیم دول ځان یوه سوله ییز حل اوتوافق ته ځان ورسوي .

که یې نه منی دخلیلزاد هغه ورستي مرکه چې له امریکایي ورځپاڼي "ستاراندستریبس" سره یې کړي په غور اوخلاصوغوږونو واوری ویلي یې دي :

دامریکااوطالبانوترمنځ به دسولې اوخبرولړی جاري وي اوهغه ورته خوشبین دی چې نتیجه به ورکوي ، که څوک یې په مخ کې خند جوړوي دګټي په ځای به تاوان کوي اوپه دې خوش باوری کې دي هم څوک نه اوسي چې امریکایان به په افغانستان کې ددیري مودي لپاره پاته شي ځکه امریکایان دې نتیجې ته رسیدلې چې په افغانستان کې سوله راشي دسولې په راتګ به امریکایي پوځیان ارومرووځي.

د کونړ فاجعه

او د باشعوره مسلمانانو مسؤلیت

مفتي عبدالله رشاد افغاني

سوله د هر افغان د زړه ارمان دی، هر مظلوم افغان ورته تږی دی، هر یو د داسي راتلونکي په انتظار شیبې شمیري چې په کور کلي کې یې نه بمبار وي، نه چاپه وي او نه یې په زړونو کې د اشغالگرو ویره او ډار.

دا اولس کاله له اوږدو ربړو، ظلمونو او وحشتونو ګاللو وروسته مو د سولې آواز تر غوږ سو، هیلي مو راوټوکېدلې، چې نور به مو د ژوند هوسایي په برخه شي، خو په دې دوران کې یرغلګر او داخلي غلامان یې پر بې ګناه او بې دفاع ښځو، ماشومانو او عامه افغانانو داسي چاپې وهي او بمبارونه کوي، چې هیڅ سالم بشري فطرت یې د لیدلو او اوریدلو توان نلري.

د کنړ او ګرمسیر پیښې یې تازه بیلګې دي، په روان کال کي اشغالګرو او غلامانو یې ٤٤٦٥٥ بې ګناه مظلوم وطنوال په شهادت ورسول.

د دغو وژنو په وړاندې د یو مسلمان په حیث زموږ مسؤلیت څه دی؟

که فرض کړو چې دا ډول وحشت شخصاً زموږ پر کور وای؛ څه به مو کول؟ او د دې ستر ظلم په وړاند موږ څه کولای شو؟

د احادیثو په ډېرو روایاتو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤمن د بل مؤمن لپاره یو تن بللی، په یو تن کې چې پر سر درد شي، ټول بدن ورسره ناآرامه وي، که پر لاس درد شي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چې مؤمن د مؤمن لپاره د خښتو حیثیت لري، په دیوال کې یوه خښته په بله سره ټینګیږي، بیا به یې په مثال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو لاس ګوتې په بل کې سره ورکړې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي· مسلمانان د یو تن په شان دی، که یې پر سترګه درد شي؛ ټول بدن ورسره نا آرامه وي، او که یې پر سر درد شي، نو هم ټول بدن ورسره بې قراره وي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې د مؤمنانو مثال په دوستي، ترحم او عاطفه کې د یو جسد غوند دی، که د یو جسد پر یو اندام درد شي، ټول جسد ورسره بې خوبه او په تبه اخته وي.

أن النبي ﷺ قال: المسلمون كرجل واحد، إن اشتكى عينُه اشتكى كلُّه، وإن اشتكى رأسُه اشتكى كلُّه قال رسول الله ﷺ: مثل المؤمنين في توادهم وتراحمهم وتعاطفهم مثل الجسد إذا اشتكى منه عضو تداعى له سائر الجسد بالسهر والحمى.

اوس نو د امریکایانو د وحشتو په مقابل کې زموږ احساس څه دی، په خپله فیصله کولای شو، چې موږ د

اسلامي وروروليٍ پر کومه پوله ولاړ يو. ياد وحشتونه مو دومره دردوي ، لکه دا ظلم چې واقعا زموږ پر خپلو خپلوانو تير شوی وي، او که بالمقابل د يرغلګرو د وحشت او بربريت لپاره مبررات پيدا کوو، توجهيات ورته لټوو؟

البته يوازي د زړه په خفګان هم کار تمام نه بلل کيږي.

براء بن عازب رضي الله تعالى عنه وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته د اوو شيانو حکم وکړ او له اوو نه يې منع کړلو.

براء رضي الله تعالى عنه د هغو شيانو په منځ کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته حکم کړی و؛ يو دا هم ياد کړی، چې د مظلوم مسلمان د نصرت حکم يې راته وکړ.

نو اوس د کنړ او دې ته ورته پېښو کې څه کولای شو، دا مظلوم ملت له دې وحشي دښمن نه موږ څنګه خلاصولای شو؟

موږ او تاسو مسلمانان ډير څه کولای شو ، الله تعالى فرمايي:

[وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّاً وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيراً] [النساء:۷۵]

(ژباړه : او (اې مسلمانانو!) څه دي، چې تاسو د الله په لار او د هغو بې وسه خلکو ، ښځو او ماشومانو په خاطر جنګ نه کوئ، کوم چې دا دعا کوي، چې: اې زموږ پروردګاره! موږ له دې ظالم کلي وباسې، او زموږ لپاره ستا له طرفه يو کومک کوونکی پيدا کړه، او له خپل طرفه زموږ لپاره يو مددګار ودروه).

د دې آيت کريمه مطلب دا دی، چې د ظلم څخه د خلاصون لپاره يوازنی لاره د الله په لار کې جهاد کول دي، انفرادي حرکات لکه د شام د خلکو په شان ډير نقصان کونکي دي، ډيره غوره لاره دا ده، چې د مجاهدينو صف نور هم قوي او مضبوط کړو، جهاد هغه څه دی، چې د کافر دښمن ماغزه ځای ته راولي، او که بالفرض موږ د دې وحشيانو په مقابل کې جهاد ونه کړو، نو ليري نه ده، چې سبا به د کنړ او ګرمسير کيسې زموږ د هر مسلمان پر سر هم ولاړې وي.

په ابو داود کې روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چې خلک يو ظالم په سترګو ويني، او تر لاس يې نه نيسي، نو زه پر دې بېرېږم چې الله به پر ټولو عذاب نازل کړي.

نو که د کنړ ، پکتيا، زابل روزګان او ګرمسير په شان واقعاتو ته همداسې لاس تر زنې کښېنو خدای مه کړه، د الله عذاب را باندې نازل نه شي.

په بيعة القبة کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د نصرت او کومک شرط ورسره لازم و ګرځاوه او و يې فرمايل: وأسألكم لنفسي ولأصحابي:

أن تُؤْوونا وتنصرونا، وتمنعونا ممّا منعتم منه أنفسكم

دامام مالک رحمه الله

ژوند ته ځغلنده کتنه

سید سعید

دمالکي مذهب امام او مؤسس ابو عبدالله مالک بن انس بن مالک بن ابي عامر الاصبحي الحميري المدني، په -۹۳هق / ۷۱۱م کال مدینه منوره کې زیږیدلی او په ۱۷۹ هق\۷۹۵ م کې وفات شوی. دمديني منورې په جنت البقیع کې خاورو ته سپارل شوی او د یحیی، محمد،حماد او فاطمه په نومونو څلور او لادونه ځني پاته شوي دي.

امام مالک رحمه الله لومړی د قران کریم حفظ وکړ،وروسته یې دحدیثو حفظ او دفقهي زده کړې ته ملاوتړله.دعبدالله ابن عمر رض دمولی نافع او ابن شهاب الزهري په ګډون له ډیرو نومیالیو حدیثپوهانو څخه یې مبارک نبوي احادیث اوریدلي دي.

امام مالک رحمه الله له تبع التابعين څخه و،د اهل سنت والجماعت د څلور امامانو له جملې دوهم امام،دمالکي مذهب موسس او مجتهد و. دامام مالک رحمه الله په مذهب کې د اجتهاد منابع دالله تعالی کتاب، دنبي علیه السلام سنت،د صحابه کرامو اقوال، اجماع،د مدينې دخلکو عمل ، قیاس، استحسان، مصالح مُرسله، استصحاب، عرف او سدّ ذرایع دي. دامام مالک رحمه الله دمذهب ډیر پیروان په مصر، اندلس ،لیبیا، تونس او الجزایر کې دي .

امام مالک رحمه الله د علم له حصول وروسته د مدينې منورې په ښکلي ښار کې په مبارکه روضه کې دتدریس او افتاء حلقه پرانستله . داسلامي خلافت دقلمرو له پراخیدو سره دعربو، ایرانیانو او هندیانو ترمنځ اړیکې هم پراخې شوې،د احادیثو دعلم، قضاء او فقهي اهمیت ډیر شو او په ځانګړې توګه وفقهي مسایلو ته توجه زیاته شوه.امام مالک رحمه الله دعباسیانو، علویانو، خوارجو، شیعه ګانو او سنیانو ترمنځ دجنجالونو شاهد و، خو په دې وتوانید چې په یادوو شوو جنجالونو کې ښکیل نشي او دفقهي مسایلو وتخریج اوحل وفصل ته دوام ورکړي.

امام مالک او نبوي احادیث:

دامام مالک رحمه الله په درسګاه کې داحادیثو ډیر احترام کیده او زده کونکو به داسې سکینه، حلم او وقار پکې احساساوه چې بل ځای به نه موندل کیده.امام مالک به په ډیر محبت او فکري

تمرکز سره دمبارکو احادیثو سماع کوله،کوم حدیث به یې چې نقل کاوه، اودس به یې تازه کړ، عطر به یې ولګول،ښې او پاکې جامې به یې په تن کړې،په نرم اواز به یې حدیث وایه. عبدالله بن مبارک وایي امام مالک داحادیثو دتدریس په مهال شپاړس ځایه لړم وچیچه،دتدریس تر پایه یې درد وزغمه، ولاړ نشو او کله چې تدریس پای ته ورسید، نو لړم یې له ځانه ایسته کړ.

روى الإمام الترمذي عن أبي هريرة أن النبي محمداً قال: «يوشك أن يضرب الناس أكباد الإبل يطلبون العلم، فلا يجدون أحداً أعلم من عالم المدينة». وروى ابن حبان في صحيحه عن أبي هريرة أنه قال: قال رسول الله : «يوشك أن يضرب الرجل أكباد الإبل في طلب العلم، فلا يجد عالماً أعلم من عالم المدينة». قال إسحاق بن موسى: «فبلغني عن ابن جريج أنه كان يقول: نرى أنه مالك بن أنس». وقال يحيى بن معين: «سمعت سفيان بن عيينة يقول: نظن أنه مالك بن أنس».

ژباړه : امام ترمذي او ابن حبان له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کوي: نژدې ده چې خلک به د علم په طلب کې اوښان په په نس کې و وهي - یعني سفرونه به وکړي-خو د مدینې تر عالم به ښه عالم پیدا کولای نه شي. ابن جریج اوسفیان بن عیینه رحمة الله علیهما وایي موږ ګمان کوو چې د مدینې عالم مالك بن أنس دی.

دامام مالک رحمه الله موطأ:

امام مالک رحمه الله دموطأ په نوم داحادیثو خورا ارزښتمن کتاب ولیکه،ابوبکر ابن عربي وایي چې: په احادیثو کې دامام مالک موطأ لومړی او بخاري شریف دوهم مقام لري،دعلامه ابن اثیر په قول دامام مالک موطأپه صحاح ستة کې دابن ماجه پر ځای شپږم ځای لري، مولانا عبد العزیز الدهلوي رحمة الله علیه په بستان المحدثین کې لیکي : له امام مالک رحمه الله څخه دده په ژوند کې په سلګونو محدثینو ، فقهاوو ، صوفیانو، امیرانو او.... د موطا روایت کړی دی.

وقد أثنى كثيرٌ من العلماء على الموطأ، قال الإمام الشافعي: «ما في الأرض كتاب بعد كتاب الله عز وجل أنفع من موطأ مالك،وقال أيضاً: «ما بعد كتاب الله تعالى كتابٌ أكثرُ صواباً من موطأ مالك»، وقال ابن مهدي: «لا أعلم من علم الإسلام بعد القرآن أصح من موطأ مالك».

ډیرو علماوو دامام مالک دموطا ستاینه کړې،امام شافعي رحمه الله د امام مالک دموطا په اړه وایي:له قران کریم څخه وروسته دمځکې پر مخ تر موطا غوره کتاب نشته او ابن مهدي ویلي: په اسلامي علومو کې تر قران کریم وروسته تر موطا په ښکلي کتاب علم نه لرم.

ډیرو علماوو دامام مالک رحمه الله پرموطا شرحې لیکلې، دځو نومونه یې په لاندې ډول دي:

- التمهيد، لما في الموطأ من المعاني والأسانيد
- الاستذكار، لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار،
- فيما تضمنه الموطأ من معاني الرأي والآثار
- المقتبس، شرح موطأ مالك بن أنس
- المسالك في شرح موطأ مالك
- القبس على موطأ مالك بن أنس
- كشف المُغطَّا عن الموطا
- تنوير الحوالك
- إسعاف المُبَطَّأ برجال الموطأ
- تجريد أحاديث الموطأ
- إتحاف العابد الناسك بالمنتقى من موطأ مالك

- لـه موطـا پرتـه دامـام مالـک رحمـه اللـه نـور تاليفات:
- الديباج المذهب
- الرد على القدرية
- حساب مدار الزمان ومنازل القمر
- السير

غريب القرآن داهغه کتاب دى چې خالـد بن عبد الرحمن المخزومي روايت کړی، دهمدې کتاب په باره کې أبي العباس السراج النيسابوري ويلي چې: «هذه سبعون ألف مسألة لمالك» په همدغه کتاب کې دامام مالک رحمه الله اويا زره مسئلې دي.

امام مالک رحمه الله احاديث دقران کريم تفسير بالـه، داحـاديثو پـه علـم کـې يـې خـورا مهـارت درلود،سفيان ثوري فرمايي چې: څوک هـم تـر امام مالـک داحـادريثو د راويـانو پـه اړه محتـاط نـه و،ابـن المديني وايي خبر نه يم چې امـام مالـک دې څـوک شړلی وي مګر هغه څوک چې په احاديثو کې به يې شک و. امـام شـافعي فرمـايي چې کله به چې امـام مالک په احاديثو کې شک ومونـد نـو هغـه بـه يـې رد کـړ، امـام مالـک لـه نبـوي احـاديثو سـره دومـره مينـه درلوده چې ويل يې کـه څـوک داحـاديثو دتـدريس پـه وخت کې په لوړ اواز خبرې کوي د لويې ګناه مرتکب دی، ددې خبرې دليـل يـې دغـه مبـارک اية يادإوه:يا أَيهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِي وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ]

امـام مالـک پـه فتـوی ورکولـو کـې ډيـر زيـات احتياط کاوه، په ډيرو مواردو کې به چې استفتاء څني طلب شوه په ځواب کې به يې لا ادري ويل. نوموړی د خپل ځـان پـه اړه وايـي چې:«إنمـا أنـا بشـر أخطـئ وأصيب، فـانظروا فـي رأيـي، فكـل مـا وافـق الكتـاب والسـنة فخـذوا بـه، ومـا لـم يوافـق الكتـاب والسـنة فاتركوه». زه بشر يم خطاء او سهوه کيږم، تاسي زما رايې ته ځير شئ،که دقران کريم او نبوي احاديثو سره موافقه وه،ويې ومنئ! او کـه مې رايـه دکتـاب اللـه او احاديثو سره موافقه نه وه ترک يې کړئ.

دامام مالک داستقامت يوه بېلګه:

امـام مالـک رحمـه اللـه دوخـت دحکومـت پرناسـمو کـړنـو انتقـاد کاوه،خليفـه منصـور تـرې وغوښتل چې ددې حـديث: لـيس علـى المسـتكره طـلاق» لـه ويلـو څخه صـرف نظـر وکـړي. - څينـو منصـور تـه ويلـي وو چـې همـدا حـديث دعباسـي خلافت پښې لړزولی شي- خو امام مالک تـر پايـه پـر خپله خبره ټينګ پاتـه شـو چې لـه املـه يـې ۷۰درې ووهل شو.

د امـام مالـک رحمـه الله د څـو اسـتادانو نومونه :

عبدالرحمن بـن هرمـز الاعـرج، ربيعـه بـن ابـي صالح فروخ، نافع د عبدالله بن عمر مولی، محمد بن مسلم الزهري، عبدالرحمن بن ذکوان، يحيـى بـن سعيد الانصاري، ابوحازم سلمه بن دينار، محمـد بـن المنكدر او عبدالله بن دينار او...

د امام مالک رحمه الله څيني شاګردان:

زهـري، ايـوب سـختياني، ابوالاسـود، ربيعـه بـن ابيعبدالرحمن، عبدالله بـن وهـب، عبـدالرحمن بـن قاسم، اشهب بن عبدالعزيز، اسد بن الفـرات، موسـى بـن عقبـه، هشـام بـن عـروه، دشـافعي مـذهب امـام شافعي رحمه الله او....

دامـام مالـک رحمـه الله پـه اړه دعلمـاوو څيني اقوال:

مالک بن انس په صبر،علم، فقاهـت ذکـاوت، وقار او ښايسته اخلاقو مشهور دی.ډيـرو فقهـاوو او

علماوو دامام مالک رحمه الله ستاینه کړي ده،امام شافعي رحمه الله د امام مالک په اړه وایي چې: «إذا ذُكر العلماء فمالك النجم، ومالك حجة الله على خلقه بعد التابعين». کله چې دعلماوو یادونه کیږي امام مالک یې ستوری دی،تر تابعینو وروسته امام مالک پ رمخلوق باندې دالله تعالی حجت دی.

ورُوي عن عبد السلام بن عاصم أنه قال: قلت لأحمد بن حنبل: «الرجل يريد حفظ الحديث، فحديث من يحفظ؟»، قال: «حديث مالك بن أنس»، قلت: «فالرجل يريد أن ينظر في الرأي، فبرأي من؟»، قال: «فرأي مالك بن أنس».امام احمد بن حنبل فرمايي:کوم څوک چې احاديث حفظ کوي نو دامام مالک رحمه الله روايت کړي احاديث دې ياد کړي اوکه څوک کومې رايې ته نظر کوي نو دمالک بن انس رايې ته دې وګوري.

وأخرج البخاري عن يحيى بن سعيد القطان أنه قال: «مالك أمير المؤمنين في الحديث»، وأخرج الغافقي عن أبي قلابة أنه قال: «كان مالك أحفظ أهل زمانه»، وأخرج عن ابن مهدي أنه قال: «ما رأيت أعقل من مالك».د بخاري شريف په روايت يحيى بن سعيد القطان ويلي: امام مالک امير المؤمنين في الحديث دی،ابي قلابه ويلي: امام مالک په خپل عصر کې تر ټولو غوره حافظ و او ابن مهدي ويلي: ما تر امام مالک هوښيار نه دی ليدلی.

علماء کرامو امام مالک رحمه الله ته دشيخ الإسلام، حجة الأمة، إمام دار الهجرة، مفتي الحجاز، فقيه الأمة، سيد الأئمة لقبونه ورکړي دي.

دامام مالک رحمه الله وینا:

دامام مالک رحمه الله مشهوره وينا ده: «حق على من طلب العلم أن يكون فيه وقار وسكينة وخشية، أن يكون متبعاً لآثار من مضى، وينبغي لأهل العلم أن يخلوا أنفسهم من المزاح، وبخاصة إذا ذكروا العلم»، وكان يقول: «من آداب العالم ألا يضحك إلا تبسماً».خلاصه: طالب العلم بايد وقار، خشية او اطمينان خپل عادت وګرځوي او داسلافو پر پلونو روان شي،علماء بايد له ټوکو ټکالو څخه پرهيز وکړي په ځانګړي توګه دتدريس په مهال او دعلم له ادابو څخه داده چې له تبسم پرته خندا ونه کړي.

ماخذونه:

- موسوعة الحر
- ويكيبيديا
- دائرة المعارف اعجاز

بې اساسه دعوې اوجعلي خبرونه!

د کابل مزدور او شرېدلی رژیم چې په هره برخه کې ناکام او مخ پر ځوړ روان دی او د خپلو بادارانو کړنو هم د ژوند تر وروستی سلګۍ رسولی.

اوس یې د خپلو ناکامیو پټولو لپاره د پروپاګند، بې اساسه ادعاوو او جعلي خبرونو خپرولو ته متې راندوهلي او متاسفانه چې رسنۍ هم دخپلو ټولو مطبوعاتي نرمونو خلاف ورسره همکاري کوي.

هره ورځ د کابل رژیم ویندویان رسنیو ته داسې خبرونه او ادعاوې استوي چې نن یې د افغانستان په فلاني ولایت او فلانی سیمه کې دومره اوهومره عملیات سرته رسولي چې په نتیجه کې یې له سلو زیات طالبان وژلي چې څوتنه جګپوړي طالبان هم پکې شامل دي.

په داسې حال کې چې مزدور غلیم به یواځې د ولسي وګړو او بې دفاع ولس په کورونو او جونګړو چاپې وروړي وي، په توره شپه کې به یې مظلوم او خوار افغانان د خپلو بچیانو په وړاندې په ډیرې بې دردۍ شهیدان کړي وي، کلاګاني به یې په بمونو وړاندې نړولي وي او شتمنۍ به یې ورڅخه غلا او چور کړې وي.

د فاسد او قاتل رژیم ددې لپاره چې عامه اذهان مشوش، خپلو بادارانو ته چاپلوسي وکړي او خپل بایللي باور ته د یوڅو ورخوپه مخ تکیه ورکړي، دغه راز ادعاوې او بې بنسټه خبرونه په ډېره سپین سترګۍ د مجاهدینو او طالبانو لور ته منسوبوي.

د هر دغه جنایت او وحشت په سبا عام ولس د خپلو شهیدانو د جنازو صحنې او د الوزول شوو کورونو تصویرونه د بریښنایي رسنیو (سوشل میډیا) له لارې نشرته سپاري او لویو لارو ته د احتجاج په موخه راوځي، خو اجیرې رسنۍ په ډېره بې شرمۍ بیا هم هماغه جعلي خبرونه او سرچپه معلومات خپروي چې د کابل د مختوري رژیم د ویندویانو له شیطاني حنجرو راوځي او دوی ته رسیږي!

په کار داده چې میډیا او خبري رسنۍ خپل مکلفیت پوره درک کړي، د هر خبر او پیښې هر اړخیزه څیړنه او پوښتنه وکړي او دا ځای معلوم کړي چې کومه مرجع دوی ته څه وایي د هغه په باب یې پرې جزیات او معلومات په لاس راوړي ورسته بیا هغه خبر اوپیښه عامه ذهنیت ته وړاندې کړې.

که خبریالان نه په خپله د پیښې ځای ته ځي او نه له عام ولس څخه پوښتنه کوي او یوازې هغه ارقام او جریان نشروي چې د دروغو نشرولو لپاره ګمارل شوي شیطانان یې ورته وايي؛ نو بیاخو یې ازادې رسنۍ نشوبللی.

په هرحال دروغ ویل او خپرول اوس د کابل رژیم د ویندویانو او چارواکو هغه مشغله او صنف ګرځیدلی چې کله دوی د کومې پیښې په اړه رسنیو ته رانبکاره شي او په څه ویلو شونډې پرانیزي، خلک ورباندې پوهیږي چې دغه امریکایي لاسپوڅي شیطانان څوفیصده رښتیا او څومره دروغ ورسره ګډوي!

د پخواني شوروي لښکرو له وتلو وروسته دکابل کمونیستي رژیم ونډورچیانو چې د سقوط او زوال په درشل یې پښه ایښې وه، همدغسې پروپاګند او جعلي ادعاوو ته لاس اچولی و او هره ورځ به یې ویل چې نن یې په سوونه مجاهدین په هاغه اودغه ولایت کې وژلي.

باور لرو چې د کابل اوسنی امریکایي رژیم هم د پخواني کمونیستي هغه له سرنوشت او انجام سره لاس اوګریوان دی او د تباهۍ هغې کندې ته د ورلویدو په حالت کې دي، چې ذلیل کمونیستان ور وغورځیدل.

ان شاالله تعالی (ورځنی تحلیل)



رحیمي

په کمه موده کې

دعظیم الشان قرآن حفظ کوونکي

د امام محمدبن الحسن شیباني رَحِمَهُ ٱللَّهُ دحفظ کیسه

امام محمد بن الحسن شیباني (څوک چې دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ممتاز شاګرد او زموږ دفقهي مذهب نومیالی مجتهد دی) بلوغ ته درسیدو وړاندې یې دعظیم الشان قرآن تعلیم حاصل کړی و او څه برخه یې حفظ کړې هم وه او داحادیثو او ادبي علومو په زده کړو بوخت و،د څوارلس کلنۍ په عمرکې یوه ورځ دحضرت امام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ مجلس ته ورغی او تري پوښتنه یې وکړه:

حضرت! ته دهغه هلک په اړه څه وایې چې دماسخوتن دلمانځه وروسته بلوغ ته ورسي!ایا په هغه دهمدې بلوغ شپې دماسخوتن لمونځ اداء وجبه ده؟امام صیب وفرمایل: هو!امام محمد پورته شو لاړ خپلې پاني یې واخیستې اودجومات په یوه خوا کې په لمانځه ودریده ، ښکاره شوه چې د یادې مسئلې سره نوموړی پخپله مخ شوی (دالومړی مسئله وه چې له امام صیب یې وپوښتله) امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې کله دامنظر ولید نوتعجب یې وکړ وې فرمایل: که الله تعالی ته خوښه وه داهلک به خامخابریالی کېږي ؛ همداسې وشول الله تعالی دامام محمد په زړه کې دخپل دین دفقهې محبت واچاوه ، دامام صیب دفقهې مجلس دجلال په لیدو یې دفقې حصول ته پام شو څه وخت وروسته دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته راغی، امام صیب رَحِمَهُ ٱللَّهُ تري وپوښتل: تا قرآن حفظ کړی؟ ویلي: نه! امام صیب وفرمایل: اول قران حفظ کړه او بیا فقهې لوستوته راشه! امام محمد پورته شو لاړ ،اووه ورځې وروسته دخپل پلار سره یوځای امام ابو حنیفه ته راغی ویې ویل: ماټول قران یاد کړ، امام صیب ورځخه په ګڼو ځایونو کې امتحان واخیست او په حفظ یې داډ ه شو بیا یې پخپل درس کې داخله ورکړه او په دې توګه مستقل دامام ابو حنیفه شاګرد شو آن چې تري داسلامي علومو لوی مجتهد او امام جوړ شو(بلوغ المرام فی سیرة الامام محمد بن الحسن شیبانی ۵مخ)

امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ

امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ داهلسنت والجماعت په څلورو فقهي مذهبونو کې دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه وروسته په لوی شمیر مقلدین لري، نوموړی په فقه کې دامام محمد بن الحسن شیباني رَحِمَهُ ٱللَّهُ شاګرددی او هم دهغه کره یې په یوه شپه کې دامام ابو حنیفه کتاب [کتاب الاوسط] حفظ کړی و، امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په یوه میاشت کې عظیم الشان قرآن حفظ کړی و او هم به یې هره ورځ یوختم کاوه او درمضان میاشتې په تراویحو کې به یې پوره قران لوسته (ظفرالمحصلین با حوال المصنفین ۴۸۵مخ)

دمولانا محمد قاسم ناتوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دحفظ واقعه:

مولانا محمد قاسم نانوتوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دارالعلوم دیوبند مؤسس او د ګڼو علمي ، عملي او دروحاني کمالاتوله برخمن و، نوموړی دخپل وخت لوی مجاهد او مبارز هم و،په هندوستان کې دانګریزانو او مسلمانانو ترمنځ د ۱۸۵۷زپه جنګ کې دحاجي امداد الله مهاجر مکي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مشرۍ دمسلمانانو له اړخه د جنګ عمومي نظامي قومندان و داچې په جنګ کې مسلمانانو شکست وخوړ او

انګریزانو برې ترلاسه کړ له امله یې دهندوستان ټول تاریخ تغیر وکړ دلته هغه ټول داستان راسپړل هدف ندی رازو دمولاناناتوي وي دحفظ واقعې ته، هغه زمانه کې دحج لپاره به حاجیان په باد باني کېښتیو کې دسمندر له لارې تلل، که به هوابه وه نوکېښتی په سمندرکې تلې او که کله به هوا مخالفه شوه نوکېښتیو به لنګرونه وغورځول او تم شوې، په دې وجه په پنځو شپږو میاشتو کې به کېښتی دکراچي نه جدې ته رسیدې، مولانا محمد قاسم نانوي رَحِمَهُ اللهُ هم دبادباني کېښتی له لارې حج ته روان شویعني په شعبان کېښتی حرکت وکړ د رمضان شریف میاشت په کېښتی کې راغله، اتفاقا کېښتی کې یوکس هم حافظ نه ونوتراویح په لندو سورتونو شروع شوې، مولانا محمد قاسم نانوتوي ته غیرت ورغی چې په درې نیم سوه مسلمانانو کې یوتن هم حافظ نشته چې هغه په تراویح کې قران پاک ولولي، خپله یې شروع وکړه، هره ورځ به یې یوه سیپاره حفظوله او هغه به یې د شپې په تراویح کې تلاوت کوله په دې توګه درمضان ترپایه یې ټول قران حفظ کړ او دقران حافظ شو

دمولانا حسین احمد مدني رَحِمَهُ اللهُ د قرآن پاک حفظ واقعه:

کله چې په ۱۳۶۲ ز کې جزیرة العرب کې دعثمانیانو سلطنت ختم شو او ځای یې هغو ملت پالو عربانو ونیو څوک چې د سیاسي او پوځي پلوه دانګریزانو لاسپوځي وو، انګریزان دهغوی په مټو دمکې مکر مې او مدینې منورې پرته په ټول جزیرة العرب قابض شول او په مکه مکرمه باندې دانګریزانو یوتن وفادار شریف حسین مکه (چې ورانده دترک عثماني سلطنت مامور و) دترکانو پر ضد بغاوت وکړ او هغوی یې دمکې مکرمې نه وویستل دغه مهال هندوستان دازادۍ دمخکښ رهبر او د دارالعلوم دیوبند صدر المدرسین حضرت شیخ الهند (مولانا محمود الحسن دیوبندي رَحِمَهُ اللهُ) په مکه مکرمه کې و هغه دعثماني خلافت واکمنو سره دسلا مشورو لپاره حجازته سفر کړی وغوښتل یې ترکیې ته سفر وکړي څو هلته له عثماني خلیفه سره مخامخ ووینې او هغه دهندوستاني مسلمانانو سره جهادي مرستو ته متوجه کړي انګریزانو دشریف مکه نه غوښتنه وکړه چې مولانا شیخ الهند ونیسي او دوی ته دې وسپاري، شریف مکه د ختو پرته دانګریزانو غوښتنه او منله او هغه یې ونیو انګریزانو ته یې په جده کې وسپاره مولانا حسین احمد مدني (دمولانا شیخ الهند ممتاز شاګرد او دهغه دوفات وروسته یې ځای ناستی مجاهد او مبارز) چې دمدینې منورې په مسجد نبوي کې دحدیثو استاد دغه دخپل استاد دخدمت په غرض په مکه مکرمه کې و، کله چې شریف مکه مولانا شیخ الهند ونیو مولانا حسین احمد مدني سره دهغه دخدمت فکر پیدا شو چې په زندان کې به یې خدمت څوک کوي؟ ژر هلته دهندوستان څو میشتو سوداګرو ته ورغی هغوی ته یې وویل: داچې مولانا شیخ الهند شریف مکه ونیو او هغه سپین ږیری دی ورسره دخدمت لپاره څوک نشته نو تاسو شریف مکه ته ورشئ او هغه ته داخبره وکړئ چې مولانا شیخ الهند(مولانا محمود الحسن) خو سپین ږیری سړی دی دلاسه به یې څه کېږي یانه خواصل متحرک او فعال سړی (حسین احمد) پاته دی هغه هم ور سره یوځای ونیسئ څو فتنه په نطفه کې خنثی شي، په دې سره به زه دمولانا شیخ الهند رَحِمَهُ اللهُ خدمت ته ورسم، هغه سوداګرورغلل شریف مکه ته هغه ته یې وویل تا اصل سړی پرې ایښی او هغه سپین ږیری او کمزوری شخص دی ونیو؟ هغه ویل اصلي سړی یعنې څوک؟ هغوی ...: حسین احمد! شریف مکه سملاسي مولانا حسین احمد هم ونیو او جده کې یې انګریزانو ته یې وسپاره، انګریزانو هغه دمولانا شیخ الهند سره یوځای دجدې نه مصرته اودمصرنه مالټاجزیرې ته واستاوه او هلته یې بندیان کړل، بندي خانه کې د رمضان شریف میاشت راغله مولانا شیخ الهند رَحِمَهُ اللهُ په تراویحو کې دختم معمول و اوهلته دختم لپاره څوک حافظ نه و، مولانا حسین احمد مدني دخپل استاد ختم ارزوپوره کولو هره ورځ څه باندې یوه سیپاره به حفظوله او دشپې به یې مولا نا شیخ الهند ته په تراویح کې اوروله په دې توګه یې درمضان ترپایه عظیم الشان قرآن حفظ کړ او هم یې دخپل درانه استاد ارزو پوره کړه. پای



حسن زوی

دسولې هلو ځلو سره یوځای

پر ولس امریکایي وحشت ولې تېز شوی ؟

په نړیوالورسنیوکې یوځل بیا دسولې او دخبرو له لارې دافغانستان دستونزې دحل موضوع گرمه شویده ؛ هرځای دسولې په تړاوخبرې، بحثونه او مجلسونه دي او یکې دسولې په ارزښت او ضرورت خلک غږیږي، په ورته توگه په رسنیو کې هم دسولې په باب مختلف نظرونه، بحثونه، شننې او تبصرې دوام لري .

له دې وړاندې هم څو کرته په رسنیوکې دمذومو اهدافو دترلاسه کولوپه موخه دیوتاکتیک په حیث دسولې اومذاکراتو خبره په رسنیوکې راگرمه شوی او د افغانستان داسلامی امارت دمعقول دریځ درامخې ته کېدوسره سم بېرته ورکه شوی.

داچې امریکا په رښتیا سیاسي حل نه غوښتلو نو له مختلفولاروبه یې هسې دسولې اومذاکراتوخبره راپورته کوله اوگرموله ؛ دعملي قدم پورته کولو او دطالبانوسره مخامخ خبرو کولوته نه تیارېدله؛ دواقعي حل راویستلو په معقولو لاروچارونه غږېدله ؛ دتېر ایستلوهڅې یې کولې دکابل بې واکه اولاسپوڅې اداره به یې رامخې ته کوله اوپېدې چل به یې ځان دمخامخ خبرو کولونه ویستلو.

امریکا پرطالبانو له هرلورې دفشارونو، وېرولو اوتمو ورکولو له لارو هڅې وکړې چې دکابل اداري سره کېناستلو ته یې اړ کړي خو له نېکه مرغه چې دافغانستان اسلامي امارت دي فشارونو ته سر ټیټ نکړ؛په قیادت کې کامله زیرکتیا وه نوهسې دبې گټې خبرو او وخت ضایع کولو ته یې ډډه کوله .

طالبان چې په خپل معقول اومشروع موقف کلک ودرېدل نو دالله تعالی په خصوصي مدد امریکا ددوی غوښتنې منلوته اړ شوه ؛ له خپل لورې یې دطالبانوسره دمذاکراتو لپاره چمتووالی ښکاره کړ ؛د افغانی الاصله امریکایي زلمي خلیلزاد په څېر تجربه کار؛دامریکاپه فکر کامیاب دیپلومات ؛ دافغانانو د دود دستور نه خبر؛ له نیږدي څلورلسیزوراهیسي دافغانستان په چاروکې دامریکا په تگلاروجوړولواوپرمخ بیولوکې دخیل ؛په افغانستان کې دجریاناتوشاهد اوپه ځانگړي ډول له امریکایي اشغال او د ۲۰۰۱م کال څخه راپه دې خوا دکابل رژیم په جوړښت اورامنځته کیدلوکې مهم رول لرونکی یې ددې کار لپاره گومارلی دی .

ویل کیږي چې ددې کارلپاره دهمدې استعداد درلودلو له امله دټرمپ اداري هغه ته ددې خبرې واک اوصلاحیت ورکړی چې دافغانستان له جگړې امریکاپه داسې

ډول راوباسي چې نه یې نړیوال حیثیت ته ستره صدمه ورسیږي اونه یې هم یومخ له افغانستان څخه لاس وخېژي.

دامریکاد هیلو سره سره سم خلیلزاد ښه متحرک اوپه خوځښت کې راغلي، په تیرودومیاشتوکي یواځې قطرته دری ځله تللی اوهلته یې دطالبانوله سیاسي استاځوسره مهم ملاقاتونه اومذاکرات سرته رسولي دي.

مختلفو هیوادونو ته سفرونه کوي دسولې راوستلو په باب دمتخلفو هیوادو دچارواکونه نظرونه او مشورې اخلي ،دافغانانوترڅنګ دسیمې او ګاونډیو هیوادو له چارواکو سره هم غږېږي او ورسره خپلې راتلونکې موخې او ارادې شریکوي.

د رسنیو د وروستیو رپوټونو له مخې خلیلزاد یو ځل بیا د سولې په غرض اتو هېوادونو ته سفر پیل کړی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له خوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې زلمی خلیلزاد به دا ځل افغانستان، پاکستان، روسیې، ازبکستان، ترکمنستان، بلجیم، متحده عربي اماراتو او قطر ته سفرونه وکړي.

دا هم ویل کېږي چې له دواړو لورونه دبندیانو په آزادولو رضایت رامخې ته شویدی او اسلامي امارت دخپلوبندیانو لستونه هم واشنګټن ته ورسپارلي دي.

دبی بی سی په شمول ځینونړیوالو رسنیو ویلي دي چې که داخبرې په ربښتیا عملي شي نوبې له شکه چې دجانبینو ترمنځ به د اعتماد فضا رامنځته اودمذاکراتوپه بریالیتوب کې به مهم رول ولوبوي .

امریکاپه تیرو۱۷ کلونوکې یونیم تریلیون ډالر ولګول ، دمړو شویو، ژوبلو،معیوبواوپه اعصابي مرضونوداخته شویوعسکروشمېر یې ددوئ په وینا له پنځوس زرو اوړېدلی دی ، ډول ډول ستراتیژیاني یې پلې کړي اوخپل ټول عصري جنګي وسایل یې په کارواچول خو نتیجه یې ددوئ لپاره صفروه ؛ ورځ تربلې یې پرضد دجهاد ډګر ګرم اومقاومت خوراقوي شو.

امریکا اونوراشغالګرملګري په څو ورځو کې دطالبانو دله منځه وړلواوددې هېواد ددائمي اشغال په اراده راغلي وو اوداشغال په رومبوشپوکې یې ټول افغانستان قبضه کړی هم وخوچې طالبان یې پرضد راپورته شول او په لوړ عزم اولوېې حوصلې یې خپل مقاومت پیل اوروان وساتلونونن دافغانستان ۷۰ فیصده ځمکه ترخپلې ولکې لاندې راوستې اوساتلې ده نو امریکایان نوردېر ښه پوه شوي چې دجګړې اوزور له لاري یوه لویشت هم په مخ نشي تللای اونه طالبان دجنګ اوفشارونوپه نتیجه کې ماتولای یا کمزوري کولای شي اونه دکابل په لاسپوڅي نظام کې دومره استعداد اوتوان ویني چې په ولس کې خپل اعتبار پیدا و دطالبانودولسي محبوبیت کچه راکمه کړي.

امریکایان چې دطالب دروازه ټکوي؛ سیاسي حل اوتفاهم ته دځان رسولولپاره دطالب استاځوسره کیني اوخبرې کوي داهسې عادي حالت اوتصادف ندی بلکې دا ددوئ دسخت مجبوریت حالت او دزهرو ډېرلوی غرپ دی چې کوي به یې .

د امریکایانوپه څېرکبرجن اوپه خپل فوځي اومادي ځواک مغرور خلک په ټولې نړۍ کې نشته ؛ که یې داڤغانانو دکلک مقاومت په نتیجه کې ستره مرګ ژوبله اودرانده مادي زیانونه نه وای لیدلي په ټول عمر به یې له افغانستان نه دوتلونوم نه وای اخستی اونه به دې ته تیار شوي وای چې دغریبوافغانانوسره خبروته کېني ؛خپل شکست ومني اوپېدې اعتراف وکړي چې جنګ اوزوردحل لارنده .

امریکایي جنرالانواوس په ټوله معنی دخپل بري احساس له لاسه ورکړی او اوس په واز کومي دشکست تسلیمولو پرته بله چاره نلري ؛ دجنرلانو په سویه اعتراف څه وړه خبره نده، یوجنرال داهیڅکله نشي زغملی چې هغه دې

د جګړې له ډګره ناکام خپل هیوادته ستون شي او څه داچې هغه دې دجګړې ډګر له منځه دخپلې ماتې کوکارې ووهي .

خوعجیبه داده چې له یوې خوا امریکایي دیپلوماتان،جنرالان وزیران او آن ولسمشر(ترمپ) هم پدې اعتراف کوي چې افغانستان کې د جنګ له لارې د دوئ برې ناممکن دی ؛ دجنګ له لارې ددوئ دبرې همدامایوسي ده چې اوس دطالبانو سره په حتمي اوژورو خبروبوخت دي او هڅه کوي چې په افغانستان کې روان جنګ پای ته ورسوي.

په مقابل کې اسلامي امارت هم دسولې په اړه ترپخوا یوڅه هیله مندې ښودلې او ارزو لري چې هرڅومره ژر شوني وي له امریکایانو سره دیو واقعي او حتمي حل پراو ته ورسي ،ددې لپاره تېره میاشت اسلامي امارت د مسکوپه نړیوال کانفرانس کې دګډون په موخه خپل پنځه کسیز باصلاحیته هیئت وروليږلوڅو دسولې په اړه دخپل رسمي نظرشریکولو سربیره هغه رښتیني موانع او خنډونه هم دکانفرانس دګډونوالواوتولې نړۍ ترغوږونو وررسوي دکومو له امله چې افغان ولس دتېرو ۱۷ کلونو راهیسې دسولې دنعمت څخه محروم ګرځول شوي دي.

نوله یوې خوا امریکادسولې ګرندی هڅې رواني کړیدي اود امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد یو ځل بیا د سولې په غرض اتو هېوادونو ته سفر پیل کړی خوله بلې خوا د نوموړي تر سفر یوه ورځ وړاندې د امریکا د دفاع وزیر جیمز میتس په خپلو څرګندونو کې وویل چې سپینه ماڼۍ د افغانستان جګړه ختمول غواړي، مګر دمګړۍ له دغه هېواده د سرتېرو ایستلو اراده نه لري.

دده دا وینا په داسې حال کې ده چې خپله ده تر دغو څرګندونو وړاندې پر دې خبرې اعتراف کړی چې له پوځې لارې د افغانستان د لانجې هواری ناشونی دی.

همدا راز څو ورځې دمخه دامریکا دفوځ مشر- جنرال ډانفورډ ویلي دي چې که امریکا له بشپړبریالیتوب پرته له افغانستان نه ووتله نوتوندرواتو ته به په افغانستان کې دبیا

منظم کېدوچانس په لاس ورشي اودیو بل ۱۱ستمبر دراپېښېدو خطربه رامنځته شي.

دمیتس دپورته ویناپه ځواب کې اسلامي امارت ځورا قاطع او داګیز غبرګون ښکاره کړ، د امارت ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیوته پخپل لیږلي غبرګون کې ویلي: دامریکا ددفاع وزیر او نورو امریکایي چارواکو ته وربه زړه کوي چې افغان مسلمان ولس مصمم هوډ لري چې له افغانستانه به دامریکاعسکر تیښتې ته اړباسي نوموړي زیاتوي : داچې اسلامي امارت دسیاسي لارې غواړې دامریکایانو دویستلو لپاره هڅې په کار واچوي داپه دې معنی ندي چې ګواکي دوی به په پوځې ډګر کې دامریکایانو پرضد روان جهاد ودروي او یا به له افغانستانه وتل او نه وتل دامریکا خوښې ته پرېږدي! څو چې یو امریکایي عسکر هم په افغانستان کې پاته وي د دوئ لخوابه یې پرضد جهاد دوام لري.

دامریکا ددفاع وزیراونورو پوځې چارواکو دغه ډول څرګندونې د افغانستان د لانجې په اړه د امریکایي سیاست د دوه مخیتوب ښکارندوینه کوي او دا روښانه کوي چې لا هم دامریکاپه زړه کې خیرې شته او اوس هم دخپل اشغال دتمدیدولو خوبونه ویني او دخپل فرعوني ځوی بوی څخه په شاه شوې نده!

دا په حقیقت کې دسولې پرتولوهڅودبطلان کرښه راکاږي او دا په دې هیواد کې د جګړې له دوام پرته بله هیڅ توجیه نه لري.

هم امریکایي لوړپوړي فوځیان دلته داوږدې مودې لپاره دپاتې کېدوخبره کوي اوهم امریکا یې اشغالګروفوځیانو په دې وروستیو کې د افغان ولس پر خلاف د وحشت څپه په بې سارې ډول تېزه کړیده .

په غزني ، پکتیا ، پکتیکا ، خوست ، ننګرهار او کندوز او د هیواد په بیلابیلو برخو کې پر ولسي سیمو باندې خپلو ړندو بمباریو او شپنیو بریدونو ته دوام ورکړی دی چې له امله یې په زرګونو خلکو ته مرګ ژوبله اوښتې ده .

پدې لړ کې د نومبر په وروستیو کې د هلمند په ګرمسیر ولسوالۍ کې دامریکایانو دوحشي بمبار په نتیجه



کې یواځې په یوه کور کې تر دیرش زیات ولسي خلک شهیدان شول چې اکثریت یې ښځې او ماشومان وو.

او دا اوس چې ددې لیکنې وروستۍ کرښې لیکم په خواشینۍ سره مې خبرتلاسه کړ چې دکونړ دشیګل ولسوالۍ پر چوکاټ ،برغندو اوڅوکنوکلو اشغالګرو امریکایانوسخت بمبارکړې؛ ګڼ کورونه یې په بشپړه توګه تباه کړی اوپکې یې ٦٥ ملکي وګړي په شهادت رسولي دي چې اکثریت یې ښځې اوماشومان دي .

امریکایي اشغالګر او د هغوی ګوډاګي رژیم چې په پوځي او سیاسي ډګر کې د مجاهدینو په مقابل کې دسترشکست سره مخامخ شوی غواړي چې خپل همدغه شکست د افغانانو خلاف د بمباریو او وحشت په تېزولو سره جبیره کړي اوتر څنګ یې د ولسي وګړو په خلاف د وحشیانه بمباریو او شپنیو بریدونو په زیاتولو سره اسلامي امارت مجبور کړي چې له دوئ سره په سیاسي مذاکراتو کې هغه څه ومني کوم چې دوئ په پوځي برخه کې تر لاسه نه کړای شول.

خو دا له شکه وتلې ده چې وحشي امریکایي اشغالګر چې د مظلومو افغانانو په خورولو او شهید کولو کې هرڅومره وحشت کاروي په هماغه اندازه د افغانانو په زړه کې د یرغلګرو په وړاندې د جهاد او مقاومت روحیه قوي کېږي .

له لارې به اسلامي امارت د سولې په نوم تسلیمي ته

دا چې هغوئ په تیرو اوولسو کلونو کې د یونیم لک بهرنیو خواکونو؛دخپل ټول نظامي طاقت په کارولو او ترڅنګ یې دنړیوال پوځي ، سیاسي او استخباراتي حمایت په زورد افغانستان جګړه ونه ګټله اوس چې امریکایي سرتېري د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږدې جګړې سخت ځپلي، ستړي کړي او داسې مورال بایللي دي چې له مجاهدینو سره یې د هرډول مقابلې توان له لاسه ورکړی دی څرنګه به داجنګ وګټي ؟!

زمونږ په مظلوم ولس دعام وژنې دغه ځپه ددښمن ډېره ستره وارخطايي ظاهروي .

ددوئ ددې نوې وحشي لړۍ دتېزېدو په وړاندې به دجهادسنګر لاتقویه او دانتقام روحیه لا پیاوړې شي، طالبان پدې ښه پوهېږي چې دامریکا دالوی تنزل څکه شوني شو چې سنګر قوي و.

دهمدې قوي سنګر په برکت طالبان اوس دبري او فاتحانه موقف څخه برخمن دي دجګړې کټونکي دي او طبعاً دجګړې کټونکي او بریالي لوری پخپل مقابل شکست خوړلي لوري باندې له رواني پلوه عالي احساس لري

داسلامي امارت همداعالي احساس به په سیاسي ډګر کې هم امریکا دې ته اړشي کړي چې دخپلومیشت عسکرو دنجات په خاطر دطالبانوټول شرایط و مني؛ ددې پرته نه افغانستان ته سوله راتلای شي او نه سیمې او منطقې ته ارامي او خوشالي راځي.

اوداحتمي ده چې امریکا نور په افغانستان کې دېښو ټینګولو تاب نلري هغه اوس ځان لپاره تشه داوړو پوزه ایښودل غواړي .

دامریکا دننه اوبهر ټول مشران او څېړونکي په دې کې سره یوه خوله دي چې پوځي ډګر امریکا له لاسه ورکړی دی او ډېر ژربه سیاسي ډګر هم له لاسه ورکړي او دپوځي ډګر ترڅنګ به سیاسي بریاوې هم د اسلامي امارت په برخه شي اوډېر ژربه امریکا په سیاسي ډګر کې هم دخپلې ماتې اعترافونوته اړشي هغه مهال به بیا افغانستان ته په صحیح معنوکې سوله راشي او سیمه او منطقه به رښتینې ارامي او خوشالي ووینې . ان شاء الله تعالی.

دفرعونیت په نوي ورژن کې

نور احمد نور

فرعون ته خپلو نجومیانو د هغه د یو خوب په تعبیر کې وویل: چې په بني اسرائیلو کې به یو ماشوم پیداشي او ستا بادشاهي به ختمه کړي، د فرعون مشاورینو فرعون ته مشوره ورکړه چې باید د بنی اسرائیلو ماشومان ووژل شي تر څو دا ماشوم هم پکې ختم شي. فرعون هم امر وکړ چې د بنی اسرائیلو ماشومان وژنئ، یو هم درڅخه پاتې نشي.

په نني عصر کې همدا پالیسي امریکایانو خپله کړې ده او درکړه لګیا دي، افغاني ماشومان بمباروي او اجیر مشاورین یې دې عمل ته توجیهات لټوي.په کندوز، هلمند او پکتیا کې یې وحشیانه بمباروني وکړل او په سلهاوو ملکي وګړي، ماشومان او ښځې یې ووژلې او دا ده تازه یې په کنړ کې هم ورته عمل تر سره کړ.

امریکا چې څانته سپر پاور وایې په هیڅ هم پاک نکوي او نه له چا خار خوري څکه نو هر څه چې کوي پخپل سر یې کوي او څانته یې روا ګني.

خو رښتیا چې اصل کار یې په بې پرې توګه حقائق بیانول او خلک له واقعیتونو خبرول دي، هم خپل بې پرېتوب یې تر سوال لاندې کړی دی او د (زور حق دی) تر فارمولې لاندې تل هغه څه ته ډیر پوښښ ورکوي چې په هغه کې داسلام او مسلمانانو سپکاوی وي خو د امریکا په وحشتونه یې ژبې کونکې، غوږونه کاڼه او سترګې پټې نیولي. یا خو یې بالکل نه بیانوي او که بیانوي یې نو په ډیر ضعیف دول چې په هغه کې هم د امریکا برأت ته اشارې له ورایه څرګنده وي سرسري وربانديې تېرېږي. مثلا په یوه امریکا پلوه ویب پاڼه کې داسې عنوان راغلی " په کنړ کې د ملکیانو او طالبانو د وژلو په اړه ضد او نقیض راپورونه."

بي بي سي چې د پښتو ژبې اکثر خبریالان یې افغانان دي د ښځو په باره کې څانګړې لړۍ خپروي او هغه څه پکې بیانوي چې افغاني ټولنې ته د تحمل وړ نه دي. خو برعکس د امریکا په وحشت یې د یو خاموش تماشایي کردار خپل کړی وي او هیڅ غوږ نه وربانديې ګروي. او همداسې نورې پاڼې او رسنۍ چې منافقې کامرې یې د امریکا او فرانس په ناټې کلبونه کې د وژنو تصویرونه او ویډیو ګانې ثبتولای شي د فلمي ادا کارانو او سپورتي لوبغاړیو هر کردار په ژوندی بڼه ښکاره کولای شي مګر په امریکایي وحشت یې د کامرې فلش کار پرېږدي او تصویرونه نشي اخیستلای.

د کابل د اجیرې ادارې مشران بیا د خلیج د جګړې مستبد او د بوش په ظالم پلار د خواشینې پیغامونه لیږي خو د خپل ملت په قتل عام بیا د فرعون د مشاورینو کردار خپلوي او هغه د روسي جنرال لیاخوفسکي په وینا چې برژنیف د افغانانو په وژلو خواشینې څرګنده کړه مګر حفیظ الله امین ورته وویل د خواشینۍ خبره نشته دا افغانان دي چې داسې یې ونه وژنې نه سمېږي. کټ مټ همدا سبک دوی هم تکراروي د امریکا په وحشتونو او افغان وژنه هیڅ عکس العمل نه ښکاروي او په یوه او بل تاویل یې پر څای کار بولي.

ویندویان او فیسبوکي فعالان یې تر دوی اوه برخې بالا خو بیخې دا نه مني چې ملکي وګړو ته کوم زیان اوښتی، هغوی خپل قلم، ژبه، فکر او نظریات د یو څو ډالرو په بدل کې خرڅ کړي دي او هغه څه نشروي چې د امریکا په ګټه وي. د ملکي وګړو د ټول وژنې په وخت قربانیان یا پاکستاني وګړي بولي او یا یې د طالبانو مرسته کونکي. او ماشومان خو ټول بیا د طالبانو زامن ګني او د امریکا دا عمل پرڅای بولي څکه چې د متوقع دښمن خطر له منځه وړي.

ای امریکایي ډالر خوره! تاته که څان د امریکا په ننګه ننګیال ښکاري یا ته څان په امریکا کې قرار ګڼې لږ دې له خپله وجدانه وپوښته لږ خپل افغاني او پښتني هویت ته څیر شه د خپلو هیوادوالو په وژنه کې له څانه د امریکایي تېر لاسی مه جوړوه،د امریکا په ناټې کلب کې په وژنو دغم اظهار کوې او غندې یې لږ د خپل ملت په بچو هم ننګه وکړه لږ د خپل کړېدلي اولس درد هم احساس کړه.

د ظلم کاسه نسکوره ده اخیر به امریکا د دې مظلوم اولس د وینو او اوښکو په قلزم کې غرقېږي او الله تعالی به په دې ګرداب کې د امریکا غلامان هم له دوی سره یوڅای غرقوي. و ماذلک علی الله بعزیز

....په تیرپسي
م: شمس....

غامدیت...

داوسني عصرلویه فتنه...

یواځې دوه علماء داعتبار وړدي:

په ټول اسلامي امت کې دغامدي ممدوحین فقط دوه علماء دي، هغوی دواړو ته نوموړی داسمان درجه ورکوي او پاتې نور دامت ټول جید علماء دخاورو سره برابرګڼي! په دې اړه پخپل کتاب مقامات کې لیکي: ما ډیر علماء لیدلي، د ډیرو نه مې زده کړې کړي او دډیرو څخه مې سماع کړې لیکن په هغوی ټولو کې دامین اصلاحي او دهغه استاد حمید الدین فراهي معامله هم هغه ده چې:

غالب نکته دان سی کیانسبت

خاک کو آسمان سی کیا نسبت

(مقامات۳۷مخ)

په پاکستان کې چې کله جنرال مشرف دپوځي کودتاه له لارې په سیاسي څواک قبضه وکړه، غامدي ته هغه زیاته پاملرنه ورکړه، داسلامي نظریاتي کونسل غړی یې وټاکه اوورته نور پراخ مراعات یې په لاس ورکړل داردو ژبې یوې مشهورې ورځپاڼې(نوای وقت) هغه مهال پخپله سرمقاله کې لیکلي و :

داسلامي نظریاتي کونسل غړیتوب یوه ښه دګتې نوکري ده، خو ښکار نده چې دداسې نوکرۍ لپاره غامدي دعظیم الشان قرآن او اسلامي لاربښوونوته دفرقه پالنې، بنسټ پالنې او ملائیت نوم ورکړي

جاویدغامدي دخپلې لساني او علمي وړتیا په کارولو دارزان بیه شهرت مندلو په لټه هره ورځ په تلویزونو کې دبحثونو اود نویو، نویو اختراعاتو په وړاندې کولو دواکمنوقرب ترلاسه کولو لپاره دې دهغه دین او علم ربښې نه باسي دکوم په وجه چې نوموړی د عزت څښتن شوی،شاغلی غامدي دې په یاد ولري چې حقاني علماء هیڅکله دحکومتونو په ملاتړ کې هیڅکله دومره تندروي او جوش نه ښیي څومره چې دی ښیي.

دمیرمنو په ډک محفل کې کیناستل او د تلویزوني چینلونو نظر برېښوونکو رڼاګانوته داسلام ربښې ویستل دعلامه جاوید غامدي لپاره مناسب ندي (ورځپانه نوای وقت، لاهور، ۵جون ۲۰۰٦)

دا راز غامدي دیوهندوستاني ملحد او زندیق شخص وحید الدین خان سره ژوراو نږدې اړیکې لري څو چې پاکستان کې دمشرف واک چلیده، غامدي یې هم سیوري ته غوریده کله چې دمشرف حکومت لاړ پای ته ورسید غامدي هم له ډاره ملیزیا ته کډه کړه او هم هلته میشت شو.

څنګه چې دغامدي د ظاهري شکل و صورت نقشه (لوڅ سر، انګریزي وښتان اوپه مخ ږیره نلري) دی همداسې به یې باطني نقشه که خدای کول دهغه دویناوو ، لیکنو، او کتابونو په هنداره کې لوستونکوته وښایو ، دغامدي دنظرياتو په راټولولو او بيا ورته داسلامي شريعت په رڼا کې دځوابونو وېلو لړ کې چې څومره کتابونه ليکل شوي په هغو ټولو کې دپروفيسرمولانا محمد رفيق صاحب ليکلی کتاب عمده او غوره نقد او ځواب دی او همدا راز دجامعة العلوم الاسلاميه بنوري ټاون داستاد الحديث مولانا فضل محمد يوسف زی کتاب (جاويد غامدي او دهغه منشور) دموضوع په اړه بهترين کتاب دی د دواړو په لوستلو لوستونکي په اسانی سره دغامدي سياق و سباق پيژندلی شي او هم په دې پوهيدل پکار دي چې دغامدي فتنه نوې نده بلکې ددين اسلام خلاف دلومړۍ ورځې يوتسلسل را روان دی او د غامدي پشان خلک دهم هغه پخوانۍ سلسلې نوي کړۍ ده

په دې توګه دا يوه اوږده دورانيه ده چې دنبوت دنيکمرغه دور نيولي ترننه پورې داسلام په لباس کې يې داسلام په مقدس وجود کې يې خنجر ټومبلی او داسلام معصوم مخ ته دخپل باطني غلاظت دورشيندلو کوښښ کړی دی، خو داچې داللّه تعالی دين ترقيامت پورې د پاته کيدو لپاره راغلی دی هيڅ بد باطن لړونکی يې نشي ختمولی او بدخواهان به يې ضرور ختم شي داللّه تعالی ارشاد دی: «يُرِيدُونَ اَنْ يُطفِئُو نُورَ اللهِ بِأَفوَاهِهِم وَيَأبَى اللهُ اِلاَّ اَن يُتِم نُورَهُ وَلَوكَرِهَ الكَفِرُون»

يعنې بدخوهان غواړي چې داللّه تعالی ددين رڼا پخپلو ژبو ووژني، ليکن اللّه تعالی دخپل دين دړڼا پوره کونکی دی اګرکه بدخواکافردا نه خوښوي. (دغامدي منشور ۲۰مخ)

ايا دعظيم الشان قرآن يو قرائت صحيح دی؟

راځو اوس دهغو مسائلولورته په کومو کې چې غامدي دامت داجماعي او متفقه عقايدو نه انکار کړی دی ،په هغو کې يوه مسئله دا هم ده چې هغه دقرآن پاک اوو ه يا لس(سبعه ياعشره) متواترقرائتونه نه مني، دنوموړي په نزد صرف يو قرائت صحيح دی کوم ته چې ده د ,,قرائت عامه" نوم ورکړی اوعلماوو په تيروتنه ورته د,,حفص قرائت" نوم ورکړی ،ددې يوه قرائت پرته پاته نورټول قرائتونه غامدي صاحب دعجمو فتنه ګرځولي او په دې علاوه هغه په پوره قاطعيت فتوا ورکړې چې دقرآن متن ددې يوه قرائت پرته په بل قرائت نشي قبليدای

پخپل کتاب ,,ميزان" کې ليکي:

بالکل قطعي ده چې دقرآن قرائت يو دی کوم چې زموږ په مصاحفو کې ثبت دی په دې علاوه کوم قرائتونه چې په تفسيرونو کې راوړل شوي ، يا په مدرسو کې لوستل کېږي او يا په ځينو سيمو کې خلکو غوره کړي هغه دعجمې فتنې پاتې شوني دي دکومو له اغيزو څخه چې زموږ ددين هيڅ يوه شعبه هم خوندي پاتې نده. (ميزان ۳۲مخ)

وړاندې ليکي:

قرآن يواځې هغه دی کوم چې په مصحف کې ثبت دی اوهغه چې دمغرب دځينو سيمونه علاوه په نړۍ کې يې دمسلمانانو دروند اکثريت تلاوت کوي، دا تلاوت چې دکوم قرائت سره موافق کېږي دهغه پرته بل قرائت نه قرآن دی او نه هغه دقرآن په توګه وړاندې کيدای شي (ميزان ۲۵مخ)

دې لړ کې دنور وضاحت په اړه ليکي:

دقرآن متن د (يو قرائت) پرته په نورو قرائتونو نه منل کېږي

د پورتني اقتباس سره سم دغامدي موقف دا راوځي:

۱ـ دقرآن پاک يو قرائت درست دی

۲ـ باقي نور قرائتونه دعجموفتنه ده

۳ــ دامت لوی اکثریت چې کوم قرائت سره سم دقرآن تلاوت کوي بس هم هغه قرآن دی.

۴ــ دقرآن متن دیوه قرائت (حفص) پرته بل (قرائت) نه قبلوي.

موږ په پورته نکاتو باندې بحث کوو او دغامدي د دي موقف ارزونه کوو:

ایا دقران پاک یوازې یو قرائت درست دی؟

دغامدي دا ویل چې د قرآن پاک تلاوت یوازې په یوه قرائت درست دی صحیح ندي،ولې اسلامي امت دقرآن مجید اووه یا لس (سبعه یا عشره) قرائتونه مني او په اړه دلایل په لاندې ډول دي:

۱ــ داقرائتونه دصحابه وواوتابعینو نه په تواتر سره منقول دي او دعثماني رسم دحدودو دننه او دهغه سره سم او دامت داجماع نه ثابت دي

۲ــ دعلوم القرآن په موضوع په ټولو لیکل شویوکتابونو کې داقرائتونه راوړل شوي لکه امام بدرالدین زرکشي په ,,البرهان فی علوم القرآن"کې او امام سیوطي په ,,الاتقان" کې راوړي دي او ټول یې صحیح منلي دي

۳ــ په ټولو قدیمو او جدید وتفاسیرو کې دا قرائتونه منل شوي دي

۴ــ داسلامي نړۍ دټولو دیني جامعو لکه جامعه ازهر، مدینې منورې جامعه او نورو په نصاب کې ځای لري

۵ــ دامت دټولو منل شویو فکري مکاتبو په دیني مدرسوکې دا قرائتونه لوستل کېږي

٦ــ دعربو او عجمو دمشهورو قراؤ قرائتونه په آډیو، ویډیو او ساده کیسټونو کې خوندي دي

۷ــ داسلامي نړۍ دیو درجن څخه په زیاتو هیوادو لکه مراکش، الجزایر،تونس، لیبیااو موریطانیه کې د امام حفص په راوایت نه بلکې د ,,ورش"(امام ورش دنافع بن عبد الرحمان شاګردو) روایت رایج دی او هغوی دهمدې (ورش) دقرائت سره سم تلاوت کوي او قرآن یې بولي ایا دملیونو په شمیر مسلمانان هلته ,,غیر قرآن" ,,قرآن" ګڼي؟ ایا غیرقرآن! قرآن ګڼلو وروسته هغوی مسلمانان پاتې دي که نعوذ با لله کافران شوي؟ ایا دمسلمانانو سره شته قرآن محفوظ ندی؟ سربیره په دي چې دهغه دحفاظت ذمه پخپله الله تعالی کړې

« اِنا نَحنُ نَزّ لنا الذِّکر وَ اِنا لَهُ لَحَافِظُون) [الحجر]

بیشکه موږ دا ذکر(قرآن) نازل کړی دی او موږ یې ساتونکي یو.

بیا کله چې الله تعالی دقرآن دحفاظت ذمه اخیستې نو یو داسې څېز چې هغه قرآن ندی په مسلمانانو کې څنګه دقرآن په توګه متعارف، مروج او متدا ول دی.

۸ــ څنګه چې دلته دحفص قرائت سره سم مصاحف لیکل دود او تلاوت یې کېږي په ورته توګه په شمالي افریقا اوځینو نوروهیوادو کې د (ورش) د قرائت سره سم لیکل دود او تلاوت کېږي او دهغه ځای حکومتونه په همدې (ورش) قرائت سره سم مصاحف چاپوي هم دا اوس دسعودي عربستان حکومت دمجمع الملک فهد(مدینه منوره) له لوري هم په (ورش روایت، دوري روایت او دقالون روایت کې) دلکونو په شمیر مصاحف چاپ او اړوندو هیوادو ته لیږل کېږي

۹ــ داسلامي امت قولي او عملي تواترهم د متواتره قرائتونو دصحت لپاره ښکاره ثبوت دی

۱۰ــ دصحیحه احادیثو نه هم موږ ته دقرآن مجید دیو قرائت نه دزیاتو قرائتونو ثبوت په لاس رازي

لومړی حدیث:

حضرت عمر بن خطاب رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ وایي: یوځل ما له حضرت هشام بن حکیم بن حزام رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ نه له هغه طریقې نه په جلا طریقه دفرقان سوره تلاوت وا ورید په کومه چې ما لوسته ، حال داچې ما پخپله درسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ نه لوستی و، نیږدې و چې دزیاتې غوسې نه

مي پرهغهورتوپ کړی و، مګر صبرمې وکړ او مهلت مې ورکړ څو هغه خپل قرائت مکمل کړي بیا مي له څادرڅخه ونیو او په راښکلو مې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بوته،عرض مې وکړیا رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده نه مې د سورة فرقان تلاوت دهغه طریقې نه جلا واریده په کومه چې ما له تاسه لوستی ،په دې سره رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هشام پریږده!بیا یې هشام ته وفرمایل: ته یې ولوله!هغه سورة فرقان په هم هغه طریقه تلاوت وکړ په کومه چې ما تري اوریدلی و، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه قرائت په اوریدو و فرمایل:همداسې نازل شوی ! بیا رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل : ته یې ولوله! ما (پخپلې طریقې) تلاوت وکړرسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: همداسې نازل شوی دی .

بیا یې وفرمایل: داقرآن په اووه حرفونو (سبعه احرف) نازل شوی دی په دې توګه چې څنګ اسان وي هغسې یې لولئ! (صحیح مسلم، حدیث شمیره: ۱۸۹۹، صحیح بخاري حدیث شمېره۲۴۱۹)

د وهم حدیث: حضرت ابی بن کعب رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ روایت کوي چې: جبرائیل علیه السلام راغی رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وویل: اې جبریله!زه داسې امت ته لیږل شوی یم چې هغه نالوستی دی بیا پکې ځیني سپین روبي، او ځیني ډیر سپین روبي، ځیني هلکان او ځیني یې انجوني دي او ځیني داسې هم شته چې هیڅکله هغوی لیک(کتاب) ندی لوستی جبریل علیه السلام ځواب ورکړ:اې محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرآن په اووه حرفونو(سبعه احرف) باندې نازل شوی دی (ترمذي دحدیث شمیره:۲۹۴۴)

دریم حدیث: دحضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: جبریل ماته لومړی قران مجید د یو حرف سره برابر وښود بیا ما څو واره اصرار وکړ او غوښتنه مې وکړه چې دنورو حرفو مطابق دې هم دقران مجید دلوستلو اجازه ورکړای شي

هغه و چې ماته ددې اجازت راکړای شو تردې پورې چې تر اووه حرفونو پورې ورسید

ددې روایت راوي امام ابن شهاب زهري رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي:چې هغه اووه حروف دکومو مطابق چې دقرآن دلوستلو اجازت شوی داسې و چې هغه په شمیر کې داووه باوجودګواکي یوحرف و، او دهغو مطابق په تلاوت کولو کې په حلال او حرام کوم فرق نه راته (صحیح بخاري حدیث شمیره: ۳۲۱۹ــ صحیح مسلم حدیث شمییره: ۱۹۰۲)

څلورم حدیث:

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی:مایوسړی ولید چې دقران تلاوت یې کاوه، خو دهغه نه وړاندې ما رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه نه په جلاطریقه تلاوت کولو لیدلی و،ماهغه کس رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بوته، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مې حال بیان کړ، مامحسوس کړه چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته زماخبره خوښه نشوه بیا رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

تاسو دواړه یې سهي لولئ خپل منځ کې اختلاف مه کوئ ، ځکه چې تاسو نه وړاندې چې کوم قومونه هلاک شوي هغوی داختلاف په وجه هلاک شوي دي (صحیح بخاري حدیث شمیره:۳۴۷٦)

ددغو صحیحه احادیثونه جوتیږي چې په ابتداء کې قرآن پاک دسیمیزو لهجو مطابق لوستلو اجازت و کوم چې په اصل کې دعربي ژبې مختلفې لهجې او تلفظات وو کوم چې په هره ژبه کې مندل کیږي.

۲ــ ایا دیو پرته پاته نور قرائتونه عجمي فتنه ده؟

دغامدي د دریځ دوهمه نکته داده چې د یو قرائت پرته دقرآن پاک نور قرائتونه عجمي فتنه ده

غالباً دا نکته (کومې ته چې یوه حربه ویل مناسب دي) یې له ښاغلي پرویز صیب نه زده کړې ځوک چې ټول احادیث دعجمي سازش نتیجه ګڼي أوس دهم هغه په

انداز غامدي صاحب هم دقرآن پاک دیو دقرائت پرته پاتې نور ټول عجمي فتنه ګرځول

غامدي ته دي معلومه وي چې کوم دحفص قرائت ته چې هغه د عامه قرائت جعلي نوم په ورکولو صحیح منلی هغه په اصل کې دامام عاصم بن ابي النجود رَحِمَهُ اَللَّهُ قرائت دی کوم چې امام ابو حفص دهغه نه روایت کړی دی او پخپله امام عاصم بن ابي النجودنسلاً عرب ندی بلکې عجم دی لکه امام بدرالدین زرکشي رَحِمَهُ اَللَّهُ پخپل مشهور کتاب البرهان فی علوم القرآن کې وراندي سبعه قراء (داووه مشهورو قراوو) لاندې نومونه لیکلي :

۱ــ عبد الله بن کثیر.....(ز۱۵۴هـ)

۲ــ نافع بن عبد الرحمان (ز۱۶۹هق)

۳ــ عبد الله بن عامر ....

۴ــ ابوعمروبن علاء ....(ز۱۵۴هـ)

۵ــ عاصم بن ابی النجود....(ز۱۲۸هـ)

۶ــ حمزه بن حبیب ....(ز۱۵۶هـ)

۷ــ علی بن حمزه الکسائي....(ز۱۸۹هـ)

او ددي وروسته یې لیکلي چې: (ولیس فی هؤلاء السبعة من العرب الاّ ابن عامروابوعمرو) او په دي اووه کې سیوا دابن عامر او ابو عمرو یوهم نسلاً عربي ندی (امام زرکشي، البرهان فی علوم القرآن لومړی ټوک ۳۲۹مخ بیروت)

اوس غامدي صاحب نسلاً عربي قراؤ قرائتونه عجمي فتنه ګرځوي او دیو عجمي قاري قرائت (امام عاصم قرائت کوم چې امام حفص روایت کړی او غامدي ورته دعامه قرائت نوم په ورکولو صحیح منلی) په کوم دلیل یې صحیح مني؟ که عربي قرائتونه محفوظ ندي او دعجمي فتنې ښکار شوي نو دیوعجمي قاري قرائت څنګه دعجمي فتنې څخه خوندي پاته کیدا شي؟

حقیقت دادی چې متواتر قرائتونه دعجمو فتنه ندي بلکې غامدي پخپله دعجم فتنه دی .

ایا داسلامي امت ستر اکثریت چې کوم قرائت سره سم دقران تلاوت کوي یواځي هغه قرآن دی؟

غامدي وایي د اسلامي امت کوم لوی اکثریت چې دکوم قرائت سره برابر دعظیم الشان قرآن تلاوت کوي یواځي قرآن هغه دی، د لوی اکثریت په بنا دقرآن دیوه قرائت دعوه بلکل داسې ده لکه یوسړی چې دا دعوه وکړي چې په اسلامي نړۍ کې چون دحنفي فقې پیروان ترنورو درېواړو فقو زیات دي په دي وجه یواځي حنفي فقه صحیح فقه ده او یواځي اسلامي فقه ده باقي نوري فقهې دعجمي فتنې پاتې شوني دي ښکاره ده دغسې دعوه هغه څوک کولی شي چې یا نهایتي احمق اویا قوي درجې متعصب او فتنه ګر وي نور بیا (غامدي مذهب کیا هی؟ ۲۴،۲۵،۲۶)

د نبوي سنتو په رڼا کې

پر خاوند د ښځې حقوق وپېژنئ!

وروستۍ برخه

عبد الله لکي خېل

۶- عطر لګول او مېرمن لپاره ځان جوړول:

ابن عباس ﷺ فرمايي: اني أحب أن أتزين لها كما أحب أن تتزين لي.

زما خوښېږي چې هغې لپاره ځان جوړ کړم، څنګه چې د هغې زينت کول مې خوښېږي.

د سړو لپاره زينت کول د عمرونو او مختلفو حالتونو په نسبت وي، معنا دا چې خلک زينت کوي دخپلو لياقتونو، صلاحيتونو او مهارتونو په بنا وي، د سنګينو او مناسبو جامو وي، د عطرو په لګولو، د خولې په پاکوالي، د غاښونو ترمنځ د نښتي خوراک په مسواک سره لرې کول، د بدن په پاکولي چې څه ګندګي او مرداري نښتي نه وي، د اضافه وېښتانو لرې کول ، دنوکانو اخيستل، سپين ږيرو لپاره نکريزې پورې کول، ګوتې او همداسې نور چې په هغې سره د حقوقو ساتنه کېږي، ددې لپاره چې مېرمن پرې خوشالېږي، موږ بايد په داسې سنتونو خپل کورونه ښايسته کړواو زينت ورباندې وکړو.

۷- د مېرمنې په نيمګړتياو سترګې پټول

د مېرمن ځينې هغه کمې او نواقص چې په هغې کې موجود وي او شرعاً کوم مشکل ونه لري، دهغې څخه صرف نظر کول په کار دي، په ځانګړي توګه هغه وخت چې مېرمن د ښو اخلاقو او خويونو څښتنه وي، نو په کار ده چې مثبت اړخونه يې ياد شي، نه دا چې بد او منفي کارونو ته يې ګوته ونيول شي، او ښيګړې يې تولې په يوه معمولي خطا سره هېرې شي، بلکې هغه که غلطي هم کوي، دهغې دنيکيو له مخې دې ورڅخه تېرېږي او هغه چې بد يې ايسي د مينې په خاطر دې ورته وبښي.

او نبي عَلَيهِ السَّلَامُ هم دې خبرې ته په اشارې سره فرمايي:

لايفرك مؤمن مؤمنة إن كره منها خلقا رضي منها آخر.(رواه مسلم في الرضاع)

مؤمن به مؤمنه (ښځه) نه جدا کوي، که بد عادت يې نه خوښېده، په نورو (ښو عاداتو) کې دې ترې راضي کېږي.

يعنې مناسبه داده چې هغې ته د هغې په بدو خويونو غوسه نه شي ځکه چې په هغې که نومړې بد څه ويني، نو دهغې ښه عادات هم شته، مثلاً که دهغې اخلاق کمزوري وي، خو بل لور ته ديندراه، ديانت داره، ښايسته او پاک دامنه وي، نو خاوند ته پکار دي

چې له هغې سره په نیکه طریقه ژوند وکړي، اګر که مېرمن یې پوره حقوق نه پوره کوي او هغه باید داخبره په پام کې ونیسي چې د مېرمن په فطرت او جوړښت کې کږوالی شته، چې همدا خپله د خاوند په حقونو کې د تقصیر سبب دی، له همدې وجې د خاوند پوهه پدې کې لازمي ده چې دهغه تعامل هم په همدې مبدأ باندې کول په کار دي، چې له هغې سره احسان وي او دهغې په تقصیر باندې صبر وکړي، له دې امله چې هغه ددغه کمبود مخنیوی نه شي کولای او نه یې په کامله معنا هغه رغولای شي، کله چې دهغې په فطرت کې داسې وي بیا یې سمول ډېر ناممکن دي او دهغې له وسې هم بهر دی.

که چېرته یې رغوي، نو خبره اختلاف اوجدایي ته رسیږي، چې د حدیث هغو الفاظو معنی ده چې پیغمبر ﷺ ویلي:

إن المرأة خلقت من ضلع، لن تستقيم لك على طريقة، فإن استمتعت بها استمتعت بها وبها عوج، وإن ذهبت تقيمها كسرتها وكَسْرُها طلاقها. (رواه مسلم (۱۴۶۸)

یقیناً چې ښځه له داسې (کږې) پوښتۍ څخه جوړه ده، چې په هیڅ یوه لارې یې نه شي سمولای، که چېرې دې له کږوالي سره ترې خپله ګټه وکړه نو ودې ګټله او که ته یې په سمولو (اصلاح) شوې نو ماته دې کړه او دهغې مات والی طلاقول دي.

۸- هغې ته د خپلې مینې او محبت اعتراف کول

د ام زرع او خاوند د کیسې په اړه چې له هغې سره به یې مینه او ښه سلوک کاوه، چې بیا یې سره جدایي راغله، عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی، چې پیغمبر ﷺ عائشې ته دهغې په مخکې وویل:

كنت لك كأبي زرع لأم زرع غير أني لا أطلقك. (صحيح البخاري).

زه ستا لپاره أم زرع (د زرع مور) ته (په مینه او ښه سلوک کې) د زَرْع پلار په څېر یم، خو زه تا نه طلاقوم.

۹- مېرمن ته په سخته کې لاس ورکول او په ناروغۍ کې یې پالنه کول:

عائشه رضي الله عنها د افک (تور لګېدلو) کیسه کې وایي چې : كنت إذا اشتكيت رحمني ﷺ، ولطف بي، فلم يفعل ذلك بي في شكواي تلك، فأنكرت ذلك منه، كان إذا دخل علي وعندي أمي تمرضني قال: كيف تيكم؟! لا يزيد على ذلك. (رواه البخاري: حـ۳۹۱۰)

کله چې ما هغه ته شکایت کاوه، هغه ﷺ به پرما رحم کاوه، پرما به مهربان و. خو دغه پېښه کې زما شکایت ته پام نه کاوه، نو ما دده ﷺ دا کار نا اشنا وګڼه، کله به چې راغی، ما سره به مې مور وه، هغې به زما پالنه کوله، هغه به وویل: ستاسې حالت څنګه دی؟! پدې به یې نه زیاتوله.

او هغه رضي الله عنها فرمایي چې : كان ﷺ اذا مرض أحد من أهل بيته نفث عليه بالمعوذات. (صحيح مسلم ح:۴۱۸۲)

که په کور کې به څوک مریض شو، نو پیغمبر ﷺ به هغه په (معوذاتو) اخري دوه سورتونه دماوه.

او دا د اهل او عیال په ساتنې اهتمام باندې دلالت کوي.

۱۰ - له هغې سره د الله تعالی په اطاعت کې مرسته کول:

پیغمبر ﷺ فرمایي:

رحم الله رجلا قام من اللیل، فصلی و أیقظ امرءته، فإن أبت نضح في وجهها الماء.

الله تعالی دې په هغه سړي رحم وکړي چې په شپه کې پورته شي، لمونځ وکړي او خپل ښځه ویښه کړي، که هغه انکار وکړي، نو دهغې په مخ اوبه وشیندي.(سنن النسائي: ح:۱۶۱۰)

علماء رحمهم الله وایي چې دا حدیث په دې دلالت کوي، چې د سړي لپاره غوره ده چې کله هغه دشپې لمانځه لپاره پورته شي، نو ښځه دې هم ویښه کړي او که ښځه پورته شي نو غوره داده چې هغه خپل خاوند لمانځه لپاره ویښ کړي.

اسلافو رحمهم الله هم په همدې اصرار کاوه، ابوعثمان النهدي وایي چې ما ابوهریره اوه واړې میلمه کړی، هغه او دهغه مېرمن، او غلام یې توله شپه درې برخې کوله، چې یوه به لمونځ وکړ، بل به یې راپاڅوه. (صحیح البخاري: ح:۵۱۲۵)

عبدالرحمن بن زبیر الیامي وایي چې: زبید به موږ ته شپه په درې (اثلاثو) برخو ویشله، یو برخه به دده وه، یوه زما او بل به مې د ورور وه. زبید به چې خپله برخه عبادت وکړ، بیا به یې زه په پښه ووهلم چې په ما کې به یې سستي ولیدله، نو بیا به یې وویل : ویده شه څویه زما به ستا لپاره ودریږم، بیا به زما ورور ته راغی، هغه به په پښه ووهه، چې هغه به هم سستي کوله، بیا به یې وویل: ته ویده شه زه ستا لپاره ودریږم، نو هغه کیسه کوله چې تر سهاره به په لمانځه ولاړ و. (صفوة الصفوة)

۱۱ - په هغې باور او ښه ګومان کول او خیانت ورسره نه کول:

پیغمبر ﷺ له دې منعه کړې: چې څوک په شپه کې کور ته ځي او له هغوی سره خیانت کوي، یا هغوی په ګناه څاري.

ابن حجر رحمه الله فرمایي: دا حدیث د هغو لپاره دی چې له ډېرې مودې وروسته کور ته راځي او ناڅاپي په نیمه شپه کې په کور ننوځي، البته چې دا کار خلک بدهم ګڼي، یا خو هغه خپله مېرمن پوره چمتووالي کې ونه ویني چې پاکه وي او ځان یې جوړ کړی وي، کوم چې ښځې ته په کار دي، نو ددوی ترمنځ د نفرت او کرکې سبب ګرځي؛ چې دې خبرې ته حدیث کې هم اشاره شوې :

(کي تستحد المغیَّبة، وتمتشط الشَّعِثَة) ژباړه: چې هغه به دغیاب اثر ختموي (ځان به جوړوي) او ګډوډ ویښتان به ګمنځوي.

یا خپله مېرمن په بد حالت کې ووینې، خو شرعیت په ستر اوپردې باندې ټینګار کوي، څکه خو پیغمبر ﷺ همدې ته په اشارې وایي چې: هغه به له مېرمن سره خیانت نه کوي او په هغوی غلطي څاري (فتح الباري: ۱۲۳/۹).

۱۲ - له هغې سره دشپې ګرځېدل:

عائشې ﷺ څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ به چې کله چېرته په سفر ووت، نو دخپلو مېرمنو ترمنځ به یې تاس (پچه) اچوله، کله به دا دعائشې او حفصې رضي الله عنهما په برخه وختله او پیغمبر ﷺ به په شپه کې تګ کاوه نو عائشې ﷺ سره به یې خبرې کولې. (رواه البخاري: ۴۹۱۳)

۱۳ - هغه به په مخ، په څېره؛ په بدن نه وهي او نه به یې ښکنځي:

خاوند لپاره جایز نه دي چې خپله مېرمن له کومې وجې پرته ووهي، په بل چاظلم کول چې ظلم وي او منع تړې شوې ده، نو په خپله مېرمن ظلم او زیاتی خو ډېر ظلم ده، په یو حدیث کې له معاویه قشیري ﷺ روایت ده، هغه ویل چې : ما رسول الله ﷺ ته وویل: زموږ ښځه په چا باندې دمېرمنې حق څه دی؟

هغـه ﷺ وفرمایـل: أن تطعمهـا اذا طعمـت، وتکسوها اذا اکتسیت أو اکتسبت، ولاتضرب الوجه ولاتقبح، ولاتهجر إلا في البیت. (رواه مسلم: ۱۲۱۸)

په حدیث کې د مخ وهلو ښځه منعه شوې ، ځکه دا د جسم ترټولو لوی او ښکاره برخه ده، او هغه په نازکو او غوره اعضاو باندې مشتمل ده، په حدیث کې راځي چې: اذا ضرب أحدکم فلیجتنب الوجه؛ فإن الله خلق آدم علی صورته. (أخرجه أحمد: حـ۷۳۲۳)

که چا وهل کول، نو له مخ وهلو دې ډډه وکړي، ځکه انسان الله تعالی په ښکلې صورت پیدا کړی.

دغه راز مېرمن ته سپکې سپورې ویل جایز نه دي، مثلاً ورته وایي چې بدبختې، تـا دې الله داسې کړي، بدرنګې، یا نور داسې کنځاوې او یا یې د بدن په عیبونو ستایل، ځکه د انسان بدن او مخ الله تعالی جوړ کړی، الله تعالی فرمایي: أحسن کل شيء خلقه. الله تعالی د هر شي جوړښت ښایسته ګرځولی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: کل خلق الله عزوجل حسنٌ.(أخرجه أحمد: ح:۱۹۴۷۲) دالله تعالی هر مخلوق ښایسته دی.

او د صُنعت (جوړ شوي څېز) بدګڼل د صانع (جوړوونکي) په مذمت دلالت کوي. (عون المعبود ۱۸۰/۶:) ځکه خو دا مېرمن ته ضرر او تکلیف رسول دي، له دې وجې اسلامي شریعت هر ضرر رسولو نه منعه کړې.

۱۴ - له هغې سره دشپې مهال په مینه غوږې او دربې کول:

دا هغه وخت چې له مېرمن سره خبرې اترې کیږي او هغې ته غوږ ونیول شي، همدا زموږ دخوږ پیغمبر ﷺ غوره اخلاق و چې له مېرمنو -رضي الله عنهن- سره یې کول، (دهغه ﷺ ټولې مېرمنې به هره شپه په هغه کور کې راجمع کېدلې، کوم کې به چې پیغمبر ﷺ دوی سره شپه تېروله، کله به یې له دوی سره د ماخوستن ډوډۍ هم وخوړه بیا به هره یوه خپل کور ته ګرځېدله او هغه ﷺ به د مېرمنې سره په یوه (شعار) کې ویده کېده، له اوږو ښځه به یې څادر کوز کړ او په یوه لنګ کې به ویده کېده، کله به یې چې د ماخوستن لمونځ وکړ، د ویده کېدو له مخه به یې له خپلې کورنۍ سره یو څه خبرې وکړې ، په همدې به یې مینه ورسره کوله.(تفسیر ابن کثیر:۱/۴۶۶)

غزل

مولوي اکرام الدين مفتون

شان شوکت کې دچينار په شانته دنګ يم
خوی خصلت کې دګلاب دګل په رنګ يم

شرنګ د تورو زولنو پر ما مين دی
زه مستي لرم د سپينو تورو شرنګ يم

په غلامو عادتونو عادت نه يم
غورځومه دغرور غرونه غورځنګ يم

زه د مرګ هيبتي سترګو کې ژوند وينم
هسې نه چې په دې خپل ژوند پورې تنګ يم

په سينه دخپلواکۍ ليلی ته پروت يم
د باروتو په اور تور لکه لونګ يم

غيرتي يم ټينګ ټکور سره تضاد يم
دغفلت پردې شلوم دتندر کړنګ يم

د تاريخ اسمان کې ستوری د صبا يم
پيژندلی دې تمام جهان په ننګ يم

په يوه معنی پيغام د خوشحالۍ يم
خو په بله معنی بيا د خطر زنګ يم

په مغرورو بادشاهانو مې قلنګ دی
زه د سترې زمانې داسې ملنګ يم

پکې راز د مينه ناکې زندګۍ دی
په دې هيله دتور جنګ سره په جنګ يم

د "مفتون" زړه د ترخو خاطرو کور يم
زه د ګران افغانستان په شانته ړنګ يم

Shahamat